(۲) شخصی به حیث عضـــو هیئـــت نظار بانک تعیین شـــده مـــی توانـــد که برعلاوۀ اوصاف منـــدرج فقـــرۀ (۱) این ماده دارای ســـابقۀ مســـلکی مناسب در امور تجـــارتی، محاســـبه، حقـــوق، تـــدریس در مؤســـســـات تحصیلات عالی یا نظارت از مؤسسات مالی باشد. به منظـــور عضـــویت در کمیتـــــۀ بررســـــی حـــــداقل باید یک عضو هیئت نظار، کارشناس امور بانکی، محاسبه یا ادارۀ امور مالی باشد.

(۳) شخصی به حیث رئیس هیئت عامل بانـــــک، تعیـــــین شـــــده می تواند که عـــلاوه بـــر اوصـــاف

پر درج شوو اوصافو برسېره، د لوړو زده کړو لرونکی او په مالي برخه کې په مديريتي بستونو کې لږترلږ د پنځو کلونو عملي کار دتجربې لرونکی وي.

(۴) د عامل هيئت غړي ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو اوصافو برسېره، دلاندې شرايطو لرونکي هم وي:

۱- لوړې زده کړې، په سپارل شوې دندې پورې اړونده مسلکي وړتيا (لياقت).

۲- له وړانديز شوې دندې سره په مقايسې وړ دنده کې د بانکداری لږترلږ دريو کلونو تجربه.

۳- په مالي مؤسسو او ورته نورو مسلکي فعاليتونو کې د مقايسې وړ لږترلږ شپږو کلونو کاري تجربه.

د سلوک ډول

نهه پنځوسمه ماده:

(۱) د نظار هيئت او عامل هيئت غړي د مسلکي چارو د اجراء د ښه پرمخ

مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، دارای تحصيلات عالی و حداقل پنج سال تجربه کارعملی در بست های مديريتی در عرصهٔ مالی باشد.

(۴) اعضای هيئت عامل علاوه بر اوصاف مندرج فقرهٔ (۱) این ماده دارای شرايط ذيل نيز می باشند:

۱- تحصيلات عالی، لياقت مسلکی مرتبط با وظيفهٔ محوله.

۲- حداقل سه سال تجربهٔ بانکداری در وظيفهٔ قابل مقايسه با وظيفهٔ پيشنهاد شده.

۳- حداقل شش سال تجربه کاری قابل مقايسه در مؤسسات مالی و ساير فعاليت های مسلکی مشابه.

طرز سلوک

مادهٔ پنجاه ونهم:

(۱)اعضای هيئت نظار و هيئت عامل به منظور پيشبرد بهتر اجرای امور مسلکی

بیولـــو پـــه منظـــور، د لانـــدې مکلفیتونو لرونکي دي:

۱- له ښه نیت او د بانک او سپارونکو د لوړو ګټو له په پام کې نیولو سره، د سپارل شوو دندو اجراء کول.

۲- له محتاطانه اولازمو مهارتونو څخه په ګټې اخیستنې سره ددندې اجـــراء کول.

۳- د بانک د ګټو او د شخص یـــا د هغهٔ د اړوند شرکت د ګټو تـــرمنځ د تضاد له را منځته کېدو څخه ډډه کول.

(۲) د نظار هیئت او عامل هیئت غړی ددې مادې په (۱) فقره کې لـــه درج شوو حکمونو څخه د ســـرغړونې پـــه صورت کې، بانک ته د اووښتي زیان د جبران مسئول دی.

(۳) که چېرې د نظار هیئت یا عامـــل هیئت غړی ددندو دترسره کولوپه بهیر کې دبدنیت پربناء ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکـــم څخـــه دسرغړونې مرتکب اوبانک ته د زیان موجب شي، ونډه وال کولای شي لـــه بانک څخه په استازیتوب د سهامي او

دارای مکلفیـــت هـــای ذیـــل می باشند:

۱- اجـــرای وظـــایف محولـــه بـــا حسن نیت و با نظرداشت منافع علیای بانک و سپرده گذاران.

۲- اجـــرای وظـــایف بـــا اســـتفاده از مهـــــارت هـــــای لازم و محتاطانه.

۳- اجتنـــاب از ایجـــاد تضـــاد بـــین منـــافع بانـــک و منـــافع شخص یا شرکت مربوط وی.

(۲) عضـــو هیئـــت نظـــار وهیئـــت عامل در صورت تخطـــی از احکـــام مندرج فقرهٔ (۱) این مـــاده، مســـئول جبـــران خســـارهٔ وارده بـــه بانـــک می باشد.

(۳) هرگاه عضو هیئـــت نظـــار یـــا هیئت عامل بنـــابر ســـوء نیـــت در جریـــان اجـــرای وظـــایف مرتکـــب تخطی از حکم مندرج فقرهٔ (۱) ایـــن مـــاده گـــردد و موجـــب خســـاره بـــه بانـــک شـــود، ســـهمداران می توانند به نمایندگی از بانک مطابق

محدود المسئولیت شرکتونو د قانون په اته څلوېښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د هغهٔ پر وړاندې دعوي اقامه کړي.

(۴) د نظار هیئت او عامل هیئت نور شرایط او د سلوک ډول په جلا لایحه کې تنظیمېږي.

د خطرونو او کورني کنترول اداره

شپېتمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د خطرونو د اداري جامع او مناسب سیستم، هغهٔ ته د متوجه خطرونو د تشخیص، اندازه ګیری، څارنې اوکنترول لپاره، رامنځته کړي او د نظار هیئت په تصویب یې ورسوي.

(۲) بانک مکلف دی، د بانک د فعالیتونو داندازې، ماهیت او هغهٔ ته د پام وړ خطرونو د حدودو له په پام کې نیولو سره، معلوماتي او دکورني کنترول مناسب سیستمونه جوړ کړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی معلوماتي اود کورني کنترول

حکم مندرج مادهٔ چهل وهشتم قانون شرکت های سهامی و محدود المسئولیت، علیه وی اقامهٔ دعوا نمایند.

(۴) سایر شرایط و طرز سلوک هیئت نظار و هیئت عامل در لایحه جداگانه تنظیم می گردد.

ادارهٔ خطرات و کنترول داخلی

مادهٔ شصتم:

(۱) بانک مکلف است، سیستم جامع و مناسب ادارهٔ خطرات را جهت تشخیص، اندازه گیری، نظارت و کنترول خطرات متوجه آن، ایجاد نموده و به تصویب هیئت نظار برساند.

(۲) بانک مکلف است، سیستم های معلوماتی و کنترول داخلی مناسب را با نظرداشت اندازه، ماهیت وحدود فعالیت های بانک و خطرات متوجه آن، ایجاد نماید.

(۳) سیستم معلوماتی وکنترول داخلی مندرج فقرهٔ (۲) این ماده

سیستم، لږترلږۀ دلاندې مواردو لرونکی وي:

۱- اداري جوړښت چې واکونه او مسئولیتونه په څرګند ډول په هغۀ کې تفکیک شي او بانک وتوانوي، څو وجوه پخپل استازیتوب ورکړي او د نظار هیئت د تصویب شوو پالیسیو له رعایت څخه، څارنه وکړي.

۲- د واکونو اومسئولیتونو د سپارلو لپاره څرګند دستورالعملونه.

۳- د بانک د خطرونو د ادارې د کړنلارو اوپالیسیو له رعایت څخه دارزونې لپاره دستورالعملونه.

۴- د مالي، عملیاتي او څارنیزو پروخت او دقیقو رپوټونو د ترتیب او وړاندې کولو لپاره دستورالعملونه.

۵-د شتمنیو د ساتنې اواداري کړنلاره.

٦- داړوندو تقنیني سندونوله رعایت څخه د ډاډ ترلاسه کولوپه هکله، دستور العمل.

۷- د کورنۍ بررسۍ د واحد، د بررسۍ

حداقل حاوی موارد ذیل می باشد:

۱- ساختار اداری که صلاحیت ها و مسئولیت ها به شکل واضح درآن تفکیک شده و بانک را قادر سازد تا وجوه را به نمایندگی از خود پرداخت نموده، و از رعایت پالیسی های تصویب شدۀ هیئت نظار، نظارت نماید.

۲- دستورالعمل های واضح برای تفویض صلاحیت ها و مسئولیت ها.

۳- دستورالعمل ها جهت ارزیابی از رعایت طرزالعمل ها و پالیسی های ادارۀ خطرات بانک.

۴- دستورالعمل ها جهت ترتیب و ارایۀ گزارشات به موقع و دقیق مالی، عملیاتی ونظارتی.

۵- طرزالعمل تحفظ وادارۀ دارائی ها.

٦- دستورالعمل در مورد حصول اطمینان از رعایت اسناد تقنینی مربوط.

۷- دستورالعمل ها در مورد

د کمیټې او د نظار هیئت په واسطه د کورني کنترول د سیستمونو د اغېزمنتوب د بررسۍ په هکله، دستورالعملونه.

(۴) د بانک دمعلوماتي او کورني کنترول سیستم، د بانک د کورنۍ بررسۍ د واحد د دوره یي ارزونو تابع دی او د نظار هیئت په واسطه تصویبېږي.

د کورنۍ بررسۍ واحد

یو شپېتمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د کورنۍ بررسۍ واحد چې د لاندې مواردو مسئول وي، رامنځته کړي:

۱- ددې قانون په شپېتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق د کورني کنترول د تدبیرونو ارزول د بانک د فعالیتونو د اجراء لپاره دهغو له مناسب اوکافي والي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په غرض.

۲- د نظار هیئت یا عامل هیئت د تصویب شوو دستورالعملونو،کړنلارو

بررسی مؤثریت سیستم های کنترول داخلی توسط واحد بررسی داخلی، کمیته بررسی و هیئت نظار.

(۴) سیستم معلوماتی وکنترول داخلی بانک تابع ارزیابی های دوره ای واحد بررسی داخلی بانک بوده و توسط هیئت نظار تصویب می گردد.

واحد بررسی داخلی

مادۀ شصت ویکم:

(۱) بانک مکلف است، واحد بررسی داخلی را که مسئول موارد ذیل باشد، ایجاد نماید:

۱- ارزیابی تدابیرکنترول داخلی جهت حصول اطمینان از مناسب وکافی بودن آن غرض اجرای فعالیت های بانک طبق حکم مندرج مادۀ شصتم این قانون.

۲- نظارت منظم از رعایت دستورالعمل ها، طرزالعمل ها و

او محدوديتونوله رعايت څخه منظمه څارنه.

۳-په اړونـدوتقنيني سـندونو اوکړنلاروکې د درج شوو حکمونـو رعايت.

۴- د بانک او دهغهٔ د کارکوونکو په فعـاليتونو کـې د کشـف شـوو نيمګړ تياوو، د دندې په ترسره کولـو کې د قصور د مواردو او له هغوی څخه ځينو ته له حد څخه د زياتو واکونـو دورکولو تجزيه او تحليل.

۵- ددې فقرې په (۴) جـزء کـې د درج شوو نيمګړتياوو د لرې کولو لپاره د وړانـديز شـوو طرحـو ترتيبـول او دتېروتنو له پېښېدو څخه د مخنيوي په غرض د مقتضي تدبيرونو نيول.

٦- له نظار هيئت، د بررسۍ کميټې يا له عامل هيئت سره ددې فقـرې لـه (۱څخه تر۵) اجـزاوو کـې د درج شوو حکمونو په اړه بحث.

۷- دکورنۍ بررسۍ دواحد د فعاليتونو په هکله د نظريو ترتيبـول او د نظـار هيئت دتصويب شوې کړنلارې مطابق د محدوديت های تصويب شدهٔ هيئـت نظار يا هيئت عامل.

۳- رعايـت احکـام منـدرج اسـناد تقنينـی وطرزالعمـل هـای مربوط.

۴- تجزيـه و تحليـل نـواقص کشـف شـده درفعاليـت هـای بانک وکارکنان آن، موارد قصـور در انجام وظيفه و اعطای صلاحيت هـای بـيش از حـد بـه بعضـی از آنها.

۵- ترتيب طرح های پيشنهادی جهت رفـع نـواقص منـدرج جـزء (۴) ايـن فقـره و اتخـاذ تـدابير مقتضی جهت جلـوگيری از وقـوع اشتباهات.

٦- بحث پيرامون احکـام منـدرج اجزای (۱الی۵) اين فقره بـا هيئـت نظار، کميتـهٔ بررسـی يـا هيئـت عامل.

۷- ترتيـب نظريـات درمـورد فعاليت های واحد بررسی داخلـی و ارايهٔ نتايج آن به هيئت نظار وهيئـت

بانک نظار هیئت او عامل هیئت ته دهغود پایلو وړاندې کول.

۸- د نظار هیئت له تشخیص سره سم،په پورتنیو مواردو پورې د اړوندو نورو دندو ترسره کول.

(۲) دکورنۍ بررسۍ واحد مکلف دی، په مستقیمه توګه یا دبررسۍ دکمیټې له لارې، نظار هیئت ته رپوټ وړاندې کړي.

د کورنۍ بررسۍ د کارکوونکو د استخدام شرایط

دوه شپېتمه ماده:

(۱) هغه شخص د کورنۍ بررسۍ د واحد د آمر او یا کارکوونکي په توګه استخدامېدای شي چې وړ او مناسب وي او د کورنۍ بررسۍ د واحد د فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره له عالي تحصیلاتو، تجربې او لازم مسلکي اهلیت څخه برخمن وي.

(۲) د کورنۍ بررسۍ د واحد آمر د نظار هیئت په واسطه انتصاب او عزل کېږي.

عامل بانک طبق طرزالعمل تصویب شدۀ هیئت نظار.

۸- ایفای سایر وظایف مرتبط به موارد فوق حسب تشخیص هیئت نظار.

(۲) واحد بررسی داخلی مکلف است، طورمستقیم یا از طریق کمیته بررسی به هیئت نظار گزارش ارائه نماید.

شرایط استخدام کارکنان واحد بررسی داخلی

مادۀ شصت ودوم:

(۱) شخصی به حیث آمر و یا کارکن واحد بررسی داخلی استخدام شده می تواند که شایسته و مناسب بوده و از تحصیلات عالی، تجربه و اهلیت مسلکی لازم جهت پیشبرد فعالیت های واحد بررسی داخلی بر خوردار باشد.

(۲) آمر واحد بررسی داخلی توسط هیئت نظار انتصاب و عزل می گردد.

(۳) بانک مکلف دی، دکورنۍ بررسۍ د واحد د سپارل شوو دندو د پـرمخ بیولو لپـاره، پـه پـوره شـمېرکې کارکوونکي استخدام کړي.

د کـورنۍ بررسـۍ د واحـد د کارکوونکي مسئولیت

دري شپېتمه ماده:

د کورنۍ بررسۍ د واحد کارکوونکی لاندې مسئولیتونه لري:

۱- د بانک د ټولو سندونو ارزونه او بررسۍ.

۲- دنظار هیئت اوبررسۍ دکمیټې په غونډو کې ګډون کول.

۳- د کارکوونکو په اجراآتو کـې د شته وو نیمګړتیاوو او تېروتنو په اړه له هغوی څخـه دڅرګندونوغوښـتل او دنوموړو تېروتنو لرې کول.

۴- د محدودیتونو له په پام کې نیولو پرته په ټولو پړاوونو کـې د بانـک د اجراآتو ارزول.

۵- د نظار هیئت د تصـویب شـوو کړنلارو مطابق اجراآت.

(۳) بانک مکلف است، جهت پیشبرد وظایف محولهٔ واحد بررسی داخلـی تعداد کافی کارکنـان را اسـتخدام نماید.

مسئولیت کارکن واحد بررسـی داخلی

مادهٔ شصت وسوم:

کارکن واحد بررسی داخلـی دارای مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- ارزیابی وبررسـی‌کلیـه اسـناد بانک.

۲- اشتراک در جلسات هیئت نظار و کمیته بررسی.

۳- مطالبهٔ توضیحات ازکارکنان بانک در رابطه به نواقص واشتباهات موجود در اجراآت ایشان و رفع اشـتباهات مذکور.

۴- ارزیابی اجراآت بانک در تمـام مراحـل بـدون در نظـر داشـت محدودیت ها.

۵- اجراآت مطابق طرزالعمل هـای تصویب شدهٔ هیئت نظار.

د سوداګريزو ګټو افشاءکول

څلور شپېتمه ماده:

(۱) د نظار هيئت يا عامل هيئت غړی د انتصاب په وخت کې مکلف دی، د خپل ځان يا د خپلې کورنۍ د يوۀ غړي د پام وړ سوداګريزو ګټو په اړه چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه يې لري، نظار هيئت يا د نظار هيئت لخوا توظيف شوې کميټې ته، بشپړ معلومات وړاندې کړي. پورتني معلومات د نظار هيئت د تصويب شوو لارښودونو مطابق، هرکال وړاندې کېږي.

(۲) که چېرې د بانک د نظار هيئت يا عامل هيئت يانوروکميټوچې دتصميم نيونې واک لري دغړي ، سوداګريزې ګټې مطرح شي، نوموړی غړی مکلف دی پدې برخه کې د مباحثې په لومړي سرکې، بشپړ معلومات وړاندې کړي او د تصميم نيونې په بهير کې ګډون ونه کړي. د نصاب د بشپړېدو په منظور، په غونډه کې د هغۀ حُضور اړين نه ګڼل کېږي.

افشای منافع تجارتی

مادۀ شصت وچهارم:

(۱) عضوهيئت نظار ياهيئت عامل حين انتصاب مکلف است، در رابطه به منافع تجارتی قابل ملاحظه خود يا يکی ازاعضای خانواده خويش که بطور مستقيم يا غير مستقيم دارا می باشد، به هيئت نظارويا کميتۀ توظيف شده از طرف هيئت نظار، معلومات کامل ارائه نمايد. معلومات فوق طبق رهنمود های تصويب شدۀ هيئت نظارهمه ساله ارائه می گردد.

(۲) هرگاه منافع تجارتی عضوهيئت نظار يا هيئت عامل بانک يا ساير کميته های که دارای صلاحيت اتخاذ تصميم می باشد، مطرح گردد، عضو مذکور مکلف است دراين زمينه در ابتدای مباحثه، معلومات کامل را ارائه نموده و در جريان تصميم گيری اشتراک ننمايند. حضور وی در جلسه به منظورتکميل نصاب ضروری پنداشته نمی شود.

د رازونو (اسرارو) ساتل

پنځه شپېتمه ماده:

(۱)د بانک د نظار هیئت اوعامل هیئت برحال اوپخوانی غړی مکلف دی، د بانک رازونه وساتي اوهغه معلومات چې په بانک کې د خدمت په دوره کې یې ترلاسه کړي دي، نشي کولای د شخصي نفع لپاره ترې ګټه واخلي یا هغه دنورو اشخاصوپه واک کې ورکړي، خودقانون یاواکمنې محکمې په حکم.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي معلومات لاندې اشخاصو ته افشاء کېدای شي:

۱- مقامات، د دافغانستان بانک واکمن کارکوونکي او استازی او د دې قانون د حکمونومطابق د د افغانستان بانک لخوا دتوظیف شوو څارونکو بررسان، متولیانو او متخصصینو په شمول.

نورې دولتي مراجع او ادارې چې قانون دغه واک هغوی ته ورکړی وي

حفظ اسرار

مادۀ شصت وپنجم:

(۱) کارکن، عضو هیئت نظار و هیئت عامل برحال و سابق بانک مکلف اند، اسرار بانک را حفظ نموده و معلوماتی را که در جریان دورۀ خدمت در بانک حاصل نموده اند، نمی توانند به نفع شخصی استفاده یا آن را در اختیار سایر اشخاص قرار دهند، مگر به حکم قانون یا محکمۀ ذیصلاح.

(۲) معلومات مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اشخاص ذیل افشاء شده می تواند:

۱- مقامات، کارکنان ذیصلاح و نمایندۀ دافغانستان بانک به شمول نظارت کنندگان، بررسان، متولیان و متخصصین توظیف شده از طرف د افغانستان بانک مطابق احکام این قانون.

سایر مراجع دولتی و ادارات که قانون این صلاحیت را به آنها اعطأ

یادواکمني محکمې په حکم.

۴- د اعتباراتو د ثبت خصوصي یا دعامه اعتباراتودثبت اداره، پدې شرط چې د دافغانستان بانک لخوا د دغه شان معلوماتو د ترلاسه کولو اجازه ولري.

شپږم فصل
د بانکونو فعالیتونه او مکلفیتونه

د بانکداری فعالیتونه

شپږ شپېتمه ماده:

(۱) بانک کولای شي، لاندې فعالیتونه سرته ورسوي:

۱- د پولي سپارنو ترلاسه کول لکه عندالمطالبه سپارنې او نورې سپارنې او یا له تکتانې سره یا له هغې پرته د بېرته ورکړې وړ وجوه.

۲- د رهن یا دمال دحبس دحق یاپه لاندې مواردوکې دنه تضمین شوواعتباراتو په واسطه دتضمین شوو اعتباراتو ورکول:

نموده باشد یا به حکم محکمهٔ ذیصلاح.

۲ – ادارهٔ خصوصی ثبت اعتبارات یا ثبت اعتبارات عامه، مشروط بر اینکه از طرف د افغانستان بانک اجازهٔ دریافت چنین معلومات را داشته باشد.

فصل ششم
فعالیت ها و مکلفیت های بانک ها

فعالیت های بانکداری

مادهٔ شصت وششم:

(۱) بانک می تواند، فعالیت های ذیل را انجام دهد:

۱- دریافت سپرده های پولی مانند سپرده های عندالمطالبه و سایر سپرده ها ویا وجوه قابل بازپرداخت با تکتانه یا بدون آن.

۲- اعطای اعتبارات تضمین شده توسط رهن یا حق حبس مال یا اعتبارات تضمین ناشده در موارد ذیل:

– له محدوديت پرته لګښتي او رهنـــي اعتبارات.
– د معاملې وړ سندونو د پېرلـــو پـــه شمول دسوداګريزومعاملو تمويل.
– له تنزيل سره او د رجوع له حق پرته د اعتبار ورکول.
– له پلورونکي څخه په تنزيل سره يا د ترلاسه کولو له حق پرتـــه د ديـــن د حصول د حق پېرل.
– د مالي اجارې خدمتونه.
۳– په لاندې مواردو کې د ځان يـــا د مشتريانو په ګټه پېر او پلور:
– د چـــک، بـــرات، حُجـــت او د سپارنې د سند په شمول د پيسو په بازار کې د معاملې وړ سندونه.
– بهرني اسعار.
– دلوړې بيې فلزات او قيمتي ډبرې.
– د اسعارو د تبادلې او د تکتانې دنرخ وسايل.
– ددې قـــانون اواړونـــدو مقـــررو د حکمونو مطابق، ونډې، د پور پاڼې او نور بها لرونکي سندونه.
–ددمخه پېر(پيش خريد)قرار دادونـــه،
– اعتبارات مصرفی و رهنـــی بـــدون محدوديت.
– تمويل معاملات تجارتی به شـــمول خريد اسناد قابل معامله.
– اعطای اعتباربا تنزيل و بدون حـــق رجوع.
– خريـــد حـــق حصـــول ديـــن بـــا تنزيل يـــا بـــدون حـــق حصـــول از فروشنده.
– خدمات اجارهٔ مالی.
۳– خريد و فروش به نفع خـــود يـــا مشتريان درموارد ذيل:
– اسناد قابل معامله در بـــازار پـــول به شمول چک، برات، حجت و سند سپرده.
– اسعار خارجی.
– فلزات گرانبها واحجار قيمتی.
– وســـايل نـــرخ تبادلـــهٔ اســـعار و تکتانه.
– سهام، اوراق قرضه وساير اســـناد بهادار، مطابق احکام ايـــن قـــانون و مقرره های مربوط .
– قراردادهـــای پـــيش خريـــد،

مستقبلي، د اختيار قراردادونه او پــه اسعارو پورې نور اړوند مشتقات.

– دمعاوضې موافقه ليکونه.

۴– د ځان يا مشــتريانو پــه ګټــه د ضمانتونو او لېتراف کرېدتونو په شمول د مشروطو ژمنو عقدول.

۵– د تصفيوي خدمتونو، د چکونــو، اعتبــاري او د بســتي کــارتونو او د ورکړې د نورو کــارتونو، مســافرتي چکونو، بــانکي بــرات تلګرافــي او الکترونيکي لېږدونو او د دمخه مجازو شوو د بستونو او کرېدت په شمول د پيسو، بهالرونکو سندونو او د ورکړې د سندونو دلېږد خــدمتونو وړانــدې کول.

٦– د پيسو دلالي.

۷– د مالي سلاکار (مشاور) يا استازي په توګه د بها لرونکو سندونو او د بها لرونکو سندونو د تنظيم پــه شــان د خدماتي عرضې په شمول د قيمتي شيانو ساتنه او اداره.

۸– دبازارداقتصاد په هکله دعمــومي معلوماتو په شمول د مــالي اطلاعــاتو

قرارداد های مستقبلی، اختیار و سایر مشتقات مربوط به اسعار.

– موافقت نامه های معاوضه.

۴– عقد تعهدات مشــروط، شــامل ضمانت ها و لیتراف کریدت ها به نفع خود یا مشتریان.

۵– عرضهٔ خدمات تصفیوی یا خدمات انتقال پول، اسناد بهــادار و اســناد پرداخــت شــامل چــک هــا، کارت های اعتباری و دبتی و ســایر کارت های پرداخت، چک مسافرتی، بــرات بــانکی، انتقــالات تلگرافی و الکترونیکی و دبــت هــا و کریــدت از قــبلاً اجــازه داده شده.

٦– دلالی پولی.

۷– حفاظت و ادارهٔ اشیای گرانبها، به شمول اسناد بهادار و عرضه خــدماتی مانــند تنظــیم اســناد بهــادار بــه حیــث مشــاور یــا نماینــدهٔ مالی.

۸– فراهم آوری اطلاعــات مــالی و عرضه خدمات راپور دهی اعتبــارات،

برابرول او داعتباراتودرپوټ ورکونې د خدمتونو وړاندې کول.

۹- د برېښنايي پيسو صادرول.

۱۰- دهغو اعتباراتو په هکله چې د بانک لخوا ورکول کېږي، دپور اخيستونکولپاره داعتباراتو د بيمې د خدمتونو وړاندې کول.

۱۱- ددې فقرې له (۱ تر ۱۰) اجزاوو څخه را پيداشوي نور فرعي فعاليتونه.

(۲) بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي فعاليتونه، په سالمه او محتاطانه توګه او پدې قانون، مقررو، لايحو او کړنلارو او د بانکداری د جواز دمنضمه شرايطواو محدوديتونو، د دافغانستان بانک په واسطه په صادرو شوو دستورونو او تأييد شوو سندونو کې له درج شوو حکمونو سره په مطابقت کې، اجراء کړي.

(۳) کورنی بانک مکلف دی، څو په ځان پورې محدود فعاليتونه په افغانستان کې اجراء کړي، خو په هغو مواردوکې

به شمول معلومات عمومی در مورد اقتصاد بازار.

۹- صدور پول الکترونيکی.

۱۰- عرضهٔ خدمات بيمهٔ اعتبارات برای قرضه گيرندگان در مورد اعتباراتی که از طرف بانک اعطاء می شود.

۱۱- ساير فعاليت های فرعی ناشی از اجزای (۱ الی۱۰) اين فقره.

(۲) بانک مکلف است، فعاليت های مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را به شکل سالم و محتاطانه و در مطابقت با احکام مندرج اين قانون، مقرره ها، لوايح و طرزالعمل ها و شرايط و محدوديت های منضمهٔ جواز بانکداری، دستورهای صادره و اسناد تائيد شده توسط دافغانستان بانک، اجراء نمايد.

(۳) بانک داخلی مکلف است، تا فعاليت های محدود به خود را در افغانستان اجراء نمايد، مگردر مواردی

چې ددغو فعالیتونو سرته رسول له هېواده بهر د فرع، د نمایندگۍ د دفتر او تابع شرکت لخوا ددې قانون د حکمونو مطابق، مجاز ګڼل شوي وي.

(۴)بانک نشي کولای، دد افغانستان بانک له دمخه لیکلې اجازې پرته، د خپلې ادارې د فعالیتونو، دفترونو یا سندونو ټوله یا یوه برخه له هېواده بهر ولېږ دوي.

ممنوعه فعالیتونه

اووه شپېتمه ماده:

(۱) بانک نشي کولای، په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه دخپل یوهٔ یا له یوهٔ څخه د زیاتو تابع شرکتونو له لارې، په عمده یا پرچون سوداګرۍ کې د عامل، استازي یا شریک په نوم د صنعتي محصولاتو تولید، حمل او نقل، کرنه،کب نیونه، کان، ودانۍ (ساختمان)، بیمه یا نور سوداګریز فعالیتونه ترسره کړي. ددې قانون په شپږ شپېتمه ماده کې درج شوي فعالیتونه او اسلامي بانکداري له دې

که انجام این فعالیت ها از طرف فرع، دفتر نمایندگی و شرکت تابع در خارج از کشور طبق احکام این قانون، مجازشمرده‌شده باشد.

(۴) بانک نمی تواند، بدون اجازهٔ قبلی کتبی دافغانستان بانک، تمام یا قسمتی از فعالیت ها، دفاتر یا اسناد ادارهٔ خود را به خارج از کشور انتقال دهد.

فعالیت های ممنوعه

مادهٔ شصت وهفتم:

(۱) بانک نمی تواند، به طور مستقیم یا غیر مستقیم از طریق یک یا بیشتر ازیک شرکت تابع خویش، به عنوان عامل، نماینده یا شریک در تجارت عمده یا پرچون به تولید محصولات صنعتی، حمل و نقل، زراعت، ماهی گیری، معدن، ساختمان یا سایر فعالیت های تجارتی بپردازد. فعالیت های مندرج مادهٔ شصت وششم این قانون و فصل بانکداری اسلامی از این حکم

حکم څخه مستثني دي.

(۲) بانک کولای شي، د دافغانستان بانک په دمخه لیکلې اجازې سره په مؤقته توګه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو فعالیتونو په ترسره کولو کې اجراء یا مشارکت ته چې د غوښتنو د ترلاسه کولو لپاره یې لازم دي، زیات نه زیات تر پنځو کلونو مودې پورې دوام ورکړي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوې موده د دوه ځلې او هر ځل د هغې مودې لپاره چې له یوۀ کال څخه زیاته نه وي، تمدید کړي.

د بانکونو پانګه ییز ایجابات

اته شپېتمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، په هروخت کې دخپلو شتمنیو اندازه ،ثالثو اشخاصو ته له پورونو څخه په لوړه سطح وساتي. د شتمنیو لوړه سطح دهغې لومړنۍ پانګې د لږترلږۀ رقم چې د بانکداری د جواز د صادرېدو په وخت کې ورکول شوی

مستثنی است.

(۲) بانک می تواند، به اجازۀ قبلی کتبی دافغانستان بانک طور مؤقت اجراء یا مشارکت در انجام فعالیت های مندرج فقرۀ (۱) این ماده را که برای حصول مطالبات اش لازم است، الی مدت حداکثر پنج سال ادامه دهد.

(۳) د افغانستان بانک می تواند، میعاد مندرج فقرۀ (۲) این ماده را برای دو بار و هر بار برای مدتی که بیش از یک سال نباشد، تمدید نماید.

ایجابات سرمایوی بانک ها

مادۀ شصت وهشتم:

(۱) بانک مکلف است، در هرزمان اندازۀ دارائی های خود را در سطح بالا تر از بدهی هایش به اشخاص ثالث، حفظ نماید. سطح بالاتر دارائی ها حداقل معادل رقم سرمایۀ ابتدائی است که در زمان صدور جواز

یا دبل هغهٔ مبلغ چې ددافغانستان بانک یې ټاکي، معادل ده. دنومورو شتمنیو اندازه د محاسبې د بین المللي معیارونو یا د بین المللي مالي رپوټ ورکونې دمعیارونو پربنسټ، سنجول کېږي.

(۲) بانک نشي کولای، ددافغانستان بانک له دمخه لیکلې اجازې پرته، خپله پانګه دونډو دبېرته پیریا دپانګې دوېش د اقدام له لارې، کمه کړي.

(۳) بانک نشي کولای، خپله پانګه له نغدي وجوهو یا د نغدې وجهې له معادل پرته د شتمنیو په عوض د ونډو د صادرېدو له لارې، زیاته کړي.

(۴)بانک مکلف دی، دخپلې مقرراتي پانګې ارزښت دخطر یا د مقرراتي اصل پانګې له لږترلږۀ نیمایي څخه د زیاتې سلنې په نسبت د تعدیل شوو شتمنیو د مجموعي ارزښت د لږترلږۀ دوولس سلنې معادل چې له اصلي پانګې څخه جوړ دی او په اړونده مقرره کې ټاکل کېږي، تأمین کړي.

(۵) ددافغانستان بانک کولای شي،

بانکداری پرداخته شده یا مبلغ دیگری که دافغانستان بانک آن را تعیین می نماید، می باشد. اندازۀ دارائی های متذکره براساس معیارهای بین المللی محاسبه یا معیارهای گزارش دهی مالی بین المللی، سنجش می گردد.

(۲) بانک نمی تواند، بدون اجازۀ قبلی کتبی دافغانستان بانک، سرمایۀ خود را از طریق بازخرید سهام یا اقدام به توزیع سرمایه، کاهش دهد.

(۳) بانک نمی تواند، سرمایۀ خود را از طریق صدور سهام به عوض دارائی ها به غیر از وجوه نقد یا معادل وجه نقد، افزایش دهد.

(۴) بانک مکلف است، ارزش سرمایۀ مقرراتی خود را معادل حداقل دوازده فیصد ارزش مجموعی دارائی های تعدیل شده نسبت به خطریا فیصدی بیشتر ازحداقل نصف اصل سرمایۀ مقرراتی که مرکب از سرمایۀ اصلی می باشد و در مقرره مربوط، تعیین می شود، تأمین نماید.

(۵) دافغانستان بانک می تواند،

داړوندې مقررې مطابق، بانک مکلف کړي، څو دهغې اتکاء نسبت چې له (۴) سلنې څخه کم نه وي، رعایت کړي.

(٦) د دافغانستان بانک کولای شي، دبانک دخاصوشرایطو او دهغهٔ له فعالیتونو څخه د پیداشوو خطرونو له په پام کې نیولوسره، دخطر یا بانک ته د اطلاق وړ اتکاء د نسبت پربنسټ عیاره شوې مقرراتي پانګه، زیاته کړي.

سیالیت

نهه شپېتمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د بانک له فعالیتونو او نورو عواملو څخه د راپیدا شوو خطرونو له په پام کې نیولو سره د سیالو شتمنیو لږترلږهٔ اندازه چې ددافغانستان بانک لخوا په اړونده مقرره کې تنظیمېږي، وساتي.

(۲) ددافغانستان بانک کولای شي، دبانک د خاص وضعیت او دهغهٔ له اړوندو فعالیتونوڅخه دراپیداشوو خطرونو او نورو عواملو چې طبق مقرره مربوط، بانک را مکلف سازد تا نسبت اتکائی را که کمتر از (۴) فیصد نمی باشد، رعایت نماید.

(٦) د افغانستان بانک می تواند، بانظرداشت شرایط خاص بانک و خطرات ناشی از فعالیت های آن، سرمایهٔ مقرراتی عیارشده براساس خطر یا نسبت اتکای قابل اطلاق به بانک را افزایش دهد.

سیالیت

مادهٔ شصت ونهم:

(۱) بانک مکلف است، حداقل اندازهٔ دارائی های سیال را با نظرداشت خطرات ناشی از فعالیت های بانک و سایر عوامل که از طرف د افغانستان بانک درمقررهٔ مربوط تنظیم می گردد، حفظ نماید.

(۲) د افغانستان بانک می تواند، بانظرداشت وضعیت خاص بانک و خطرات ناشی از فعالیت های مربوط آن و سایرعواملی که دافغانستان بانک

ددافغانستان بانک يې مرتبط وګڼي له په پام کې نيولو سره پر بانک د تطبيق وړ سياليت نسبت زيات کړي.

دشتمنيو تصنيف اودزيانونو لپاره د احتياطي سرچينو تخصيص

اويايمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، دخپلو شتمنيو ارزښت په منظمه توګه وټاکي او د خپلو طلباتو د ترلاسه کولو لپاره د دې قانون دحکمونو اودسالمې بانکي ادارې د اصولو مطابق، لازم تدبيرونه ونيسي.

(۲) بانک مکلف دی،دخپلو طلباتو ارزښت دهغودبيرته ورکړې داحتمال له اندازې سره متناسب وټاکي او هغه طلبات چې تحصيل يې کُلاً يا قسماً ممکن نه دی، له احوالو سره سم د طلباتو د ارزښت په ټاکلو کې، محاسبه نه کړي.

(۳) بانک مکلف دی، د پورونو او ورته طلباتو، له بيلانس شيټ څخه بهرله احتمالي نورو شتمنيو او پورونو څخه دراپيدا شوو زيانونو د جبران لپاره آنرا مرتبط بداند، نسبت سياليت قابل تطبيق به بانک را افزايش دهد.

تصنيف دارائی ها و تخصيص منابع احتياطی برای خسارات

مادۀ هفتادم:

(۱) بانک مکلف است، دارائی های خود را طور منظم ارزش گذاری نموده و جهت تحصيل طلبات خود طبق احکام اين قانون و اصول ادارۀ سالم بانکی، تدابير لازم را اتخاذ نمايد.

(۲) بانک مکلف است، طلبات خود را متناسب با اندازۀ احتمال‌بازپرداخت آنها ارزش گذاری نمايد وطلباتی را که تحصيل آن طورکلی يا قسمی ممکن نمی باشد، حسب احوال در ارزش گذاری طلبات، محاسبه ننمايد.

(۳) بانک مکلف است، منابع احتياطی راجهت جبران خسارات ناشی از قرضه ها وطلبات مشابه، ساير دارائی ها وبدهی های احتمالی خارج

احتياطي سرچينې، په دوره يي توګه تخصيص کړي.

(۴) د دافغانستان بانک مکلف دی، دارزښت دټاکلو، د پورونو د کيفيت او تصنيف ، طلباتو او له بېلانس شيټ څخه بهر د مشروطو نورو شتمنيو او پورونو د ارزونې کړنلاره او هم دپورونو دتصنيف پرښنسټ داحتياطي زېرمو دمحاسبې تګلاره، وضع کړي.

از بيلانس شيت، طور دوره ای تخصيص دهد.

(۴) دافغانستان بانک مکلف است، طرزالعمل تعيين ارزش، ارزيابی کيفيت وتصنيف قروض، طلبات وسايرداراييها وبدهی های مشروط خارج از بيلانس شيت ونيز شيوهٔ محاسبهٔ ذخاير احتياطی مبتنی بر تصنيف قروض را، وضع نمايد.

دبانک عمومي خطرونو ته د رسيدګۍ لپاره د زېرمو رامنځته کول

ايجاد ذخاير جهت رسيدگی به خطرات عمومی بانک

يو اويايمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی،دبانک عمومي خطرونو ته د رسيدګۍ او د اړوندو فعاليتونو له اجراء څخه دپيدا شوو احتمالي زيانونو دجبران لپاره، احتياطي زېرمې رامنځته کړي. د نوموړو زېرمو اندازه، درامنځته کولو ډول، ساتنه او ګټه اخيستنه په اړونده مقرره کې تنظيمېږي.

مادهٔ هفتاد ويکم:

(۱) بانک مکلف است، جهت رسيدگی به خطرات عمومی بانک و جبران خسارات احتمالی ناشی از اجرای فعاليت های مربوط، ذخاير احتياطی را ايجاد نمايد. اندازه، نحوهٔ ايجاد، حفظ و استفاده از ذخاير مذکور در مقررهٔ مربوط تنظيم می گردد.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شـــي، هغه بانک چې له خطره ډک فعالیتونه یې ترسره کړي وي یا هغهٔ ته د متوجه خطرونو سطح په غیـــر معمـــول ډول زیاته شوې ده، مکلف کـــړي، څـــو اجباري زېرمې رامنځته کړي.

د بهرنیو اسعارو وضعیت

دوه اویایمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د خپلو بهرنیو اسعارو خالص کُلي وضعیت د هغـــهٔ د مقرراتي پانګې په نسبت داسې وټاکي چې په اړونده مقرره کې له درج شوې مشخصې شوې سلنې څخـــه، تېـــری (تجاوز) ونکړي.

(۲)داسعاري خالص پرانیستي وضعیت د محاسبې تګلاره، اسعاري خالص کُلي وضعیت او پراسعاري خالص پرانیستي وضعیت باندې محدودیتونه، په اړونده مقرره کې تنظیمېږي.

په بانکي اسانتیاوو کې محدودیتونه

دري اویایمه ماده:

(۱) بانک نشـــي کـــولای، بـــانکي

(۲) د افغانستان بانک می تواند، بانکی را که فعالیت های مخاطره آمیز انجام داده یا ســـطح خطـــرات متوجـــه آن طورغیرمعمول افزایش یافتـــه اســـت، مکلف سازد، تا ذخایر اجباری را ایجاد نماید.

وضعیت اسعار خارجی

مادهٔ هفتاد ودوم:

(۱) بانک مکلف است، وضعیت کلی خالص اسعارخارجی خود را نسبت به سرمایهٔ مقرراتی آن طوری تعیین نماید که از فیصدی مشخص شدهٔ منـــدرج مقـــــررهٔ مربـــــوط، تجـــــاوز ننماید.

(۲) شیوهٔ محاسبهٔ وضعیت بازخـــالص اسعاری، وضعیت کلی خالص اسعاری ومحدودیت ها بالای وضـــعیت بـــاز خالص اسعاری در مقرره های مربوط، تنظیم می گردد.

محدودیت ها در تسهیلات بانکی

مادهٔ هفتاد وسوم:

(۱) بانک نمی تواند، تسهیلات بانکی

اسانتیاوې په لاندې احوالو کې یوهٔ شخص یا دمرتبطو اشخاصو ګروپ ته ورکړي:

۱- د شخص یا د مرتبطو اشخاصو دګروپ پرذمت د بېرته نه ورکړل شوو بانکي اسانتیاوو د اصل مجموعي مبلغ له احوالو سره سم دبانک دمقرراتي پانګې له لږترلږهٔ پنځلس سلنې یا په اړوندو مقرروکې لوړه ټاکل شوې سلنه.

۲- د شخص یا د مرتبطو اشخاصو د ګروپ پرذمت د بېرته نه ورکړل شوو لویو بانکي اسانتیاوو د اصل مجموعي مبلغ دبانک دمقرراتي پانګې د لږترلږهٔ دوه سوه سلنې له معادل یا په اړونده مقرره کې له لوړې ټاکل شوې سلنې څخه چې په سلوکې له شپږ سوو څخه لوړېدای نشي، تېری وکړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي محدودیتونه د اړوندې مقررې د مندرجاتومطابق چې ددافغانستان بانک لخوا وضع کېږي د اعتباري مبلغ پر اصل باندې چې په

را در احوال ذیل به یک شخص یا گروپ از اشخاص مرتبط اعطاء نماید:

۱- مبلغ مجموعی اصل تسهیلات بانکی بازپرداخت ناشدهٔ ذمت شخص یا گروپ اشخاص مرتبط حسب احوال ازمعادل حداقل پانزده فیصد سرمایهٔ مقرراتی بانک یا فیصدی بلندتر تعیین شده در مقرره های مربوط.

۲- مبلغ مجموعی اصل تسهیلات بزرگ بانکی بازپرداخت ناشدهٔ ذمت شخص یا گروپ اشخاص مرتبط از معادل حداقل دوصد فیصد سرمایهٔ مقرراتی بانک یا فیصدی بلند تر تعیین شده در مقررهٔمربوط که از ششصد فیصد بالاتر بوده نمی تواند، تجاوز نماید.

(۲) محدودیت های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طبق مندرجات مقررهٔ مربوط که از طرف دافغانستان بانک وضع می گردد، بر اصل مبلغ اعتباری

بشپړ ډول او په مارکېټ کې د چټک پلورنې (سریع الفروش) ضمانت په واسطه تضمین شوی وي، نه تطبیقېږي.

(۳)که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي اعتبار ورکول سبب شي چې دشخص یامرتبطو اشخاصو دګروپ د ذمت دبېرته نه ورکړل شوو اعتباراتو اصل مجموعي مبلغ د بانک د مقرراتي پانګې له پنځلس سلنې څخه یاپه اړونده مقرره کې، له ټاکل شوې لوړې سلنې څخه تېری وکړي، بانک مکلف دی دنوموړي اعتبارله ورکړې څخه ډډه وکړي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي، لاندې معاملې د اړوندې مقررې مطابق ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حکمونوڅخه، مستثني کړي:

– ددافغانستان بانک پورې اړوندې معاملې.

– هغه معاملې چې له دولت سره عقد یا د دولت په واسطه تضمینېږي.

– د بانکونو ترمنځ معاملې چې د

که طور کامل و توسط ضمانت سریع الفروش در مارکیت تضمین شده باشد، تطبیق نمی گردد.

(۳) هرگاه اعطای اعتبار مندرج فقرهٔ (۲) این ماده سبب گردد که مبلغ مجموعی اصل اعتبارات بازپرداخت ناشدهٔ ذمت یک شخص یا گروپ اشخاص مرتبط از پانزده فیصد سرمایهٔ مقرراتی بانک یا فیصدی بلند تر تعیین شده در مقررهٔ مربوط، تجاوز نماید، بانک مکلف است از اعطای اعتبار متذکره امتناع ورزد.

(۴) دافغانستان بانک می تواند، معاملات ذیل را از احکام مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طبق مقررهٔ مربوط، مستثنی نماید:

– معاملات مربوط به دافغانستان بانک.

– معاملاتی که با دولت منعقد یا توسط دولت تضمین می گردد.

– معاملات فی مابین بانک ها که میعاد

هغو دسر رسید موده یو کال یا له هغهٔ ښخه کمه وي.

ددې مادې په مفهوم د مرتبطو اشخاصو ګروپ، په ګروپ کې پور اخیستونکی او نور هغه اشخاص دي چې پور اخیستونکی په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه په یو ډول نه یو ډول له هغو سره اړیکه لري چې د هغوی مالي سلامت په متقابله توګه یو بل اغېزمنوي یا د هغوی د اړیکې جوړښت په داسې ډول دی چې بل ذینفع شخص یاپوراخیستونکي ته د ورکړل شوواسانتیاوو د بېرته ورکړې اصلي مسئول دی. شامل دي.

د دافغانستان بانک کولای شي دوه یا له دوو ښخه زیات اشخاص چې د مرتبطو اشخاصو ګروپ جوړوي مشخص کړي.

(۵) بانک مکلف دی، د خپلو اعتباراتو د خطر د پالیسیو مطابق، د سترو بانکې اسانتیاوو دورکولو لپاره د نظار هیئت منظوري لاسته راوړي.

سررسید آنها یک سال یا کمتر از آن باشد.

گروپ اشخاص مرتبط به مفهوم این ماده، گروپ شامل قرضه گیرنده و سایر اشخاص است که قرضه گیرنده طور مستقیم یا غیر مستقیم به نحوی با آنها ارتباط دارد که سلامت مالی آنها طور متقابل یک دیگر را متأثر ساخته یا ساختار رابطه آنها به نحوی است که شخص دیگر ذینفع یا مسئول اصلی بازپرداخت تسهیلات اعطاء شده به قرضه گیرنده می باشد. د افغانستان بانک می تواند دو یا بشتر از دو شخص را که گروپ اشخاص مرتبط را تشکیل می دهند، مشخص نماید.

(۵) بانک مکلف است، طبق پالیسی های خطر اعتبارات خویش، برای اعطای تسهیلات بزرگ بانکی منظوری هیئت نظار را اخذ نماید.

د بانک او مشتریانو اړیکې

څلور او یایمه ماده:

(۱) دبانک او مشتریانو اړیکې د هغوی ترمنځ د عقد شوو موافقه لیکونو تابع دي. په هغو کې درج شوي شرایط او محدودیتونه یواړخیز د فسخ وړ نه وي، خودا چې په موافقه لیکونو کې بل ډول تصریح شوي وي.

(۲) بانک کولای شي، هغه شرایط او محدودیتونه چې پربنسټ یې له مشتریانو سره معاملې ترسره کوي، د هغوی ترمنځ په عقد شوي موافقه لیک کې تصریح کړي. په دغو موافقه لیکونوکې د تکتانې نرخونه، فیسونه او هغه لګښتونه شامل دي چې د بانک په واسطه په بانکي حسابونوکې د مشتریانو د موجودو مبالغو له بابته یا د اعتباراتو د ورکړې یا نورو خدمتونو له بابته چې بانک یې مشتریانو ته تأمینوي، بانک ته د ورکړې وړ دي. د هغو اعتباراتو چې بانک یې تأمینوي د بېرته ورکړې شرایط، بانک ته د پور د

روابط بانک و مشتریان

مادهٔ هفتاد وچهارم:

(۱) روابط بانک و مشتریان تابع موافقت نامه های منعقده بین آنها است. شرایط ومحدودیت های مندرج آنها یک جانبه قابل فسخ نمی باشد، مگر اینکه در موافقتنامه ها طور دیگری تصریح شده باشد.

(۲) بانک می تواند، شرایط و محدودیت های را که بر اساس آن با مشتریان معلاملات را انجام می دهد، در موافقتنامهٔ منعقده فی مابین آنها تصریح نماید. این موافقت نامه ها شامل نرخ های تکتانه، فیس ها ومصارفاتی است که توسط بانک از بابت مبالغ موجود درحساب های بانکی به مشتریان ویا توسط مشتری به بانک ازبابت اعطای اعتبارات یا ارائه خدمات دیگری که بانک به مشتریان تأمین می نماید، قابل پرداخت می باشد. شرایط بازپرداخت اعتباراتی که بانک تأمین می نماید، تکتانه و سایر

مبلغ له بابته تکتانه او د ورکړې وړ نور لګښتونه یوازې د هغو ورځو لپاره چې دغه ډول مبلغ حصول شوی نه دی، د اعتبار وړ دي.

(۳) بانک مکلف دی، د سپارنو، سپماوو او دبانکي اعتباراتو د اړوندو شرایطو او محدودیتونو په هکله، ددې قانون او اړوندو مقررو دحکمونو مطابق، مشتریانو ته پوره معلومات وړاندې کړي.

(۴) دکورني بانک اوکورنیو مشتریانو ترمنځ شخړې او د نا مېشت بانک پر وړاندې د هغهٔ د کورنۍ نمایندګۍ د دفترونو د فعالیتونو په اړه د کورنیو مشتریانو ټولې دعوې ګانې، د کمېسیون له لارې حل او فصل کېږي او د اړخونو د یوهٔ د نه قناعت په صورت کې، نوموړې شخړې دافغانستان په محکمه کې حل او فصل کېږي.

مصارف قابل تأدیه از بابت مبلغ بدهی به بانک صرف برای روزهای که چنین مبلغ حصول نشده است، مدار اعتبار می باشد.

(۳) بانک مکلف است، در مورد شرایط و محدودیت های مربوط به سپرده ها، پس اندازها و اعتبارات بانکی، مطابق احکام این قانون و مقرره های مربوط به مشتریان معلومات کافی ارائه نماید.

(۴) منازعات بین بانک داخلی و مشتریان داخلی و کلیه دعاوی مشتریان داخلی علیه بانک غیر مقیم در رابطه به فعالیت های دفاتر نمایندگی داخلی آنها، ازطریق کمیسیون، حل و فصل می گردد و در صورت عدم قناعت یکی از طرفین، منازعات مذکور در محکمهٔ افغانستان حل و فصل می گردد.

غير فعال حساب

پنځه اويايمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د نوي تقويمي کال په لومړۍ ورځ د غير فعال حساب له تثبيتېدو څخه وروسته، لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱- د حساب لرونکي په آخرني معلوم آدرس د راجستر شوي پُست له لارې د غير فعال حساب د مشخصاتو لرونکي خبرتيا استول.

۲- لږترلږۀ په يوه محلي ورځپاڼه کې د حساب لرونکي نوم او د غير فعال حساب د مشخصاتو خپرول.

(۲) بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې خبرتيا د صادرېدو او خپرېدو له نېټې څخه لږترلږۀ (۹۰)ورځې وروسته، دحساب لرونکي د آدرس د نه تشخيص په صورت کې، پدې هکله د دافغانستان بانک ته مفصل رپوټ وړاندې او په حساب کې شته سپارنه د دافغانستان بانک ته تحويل کړي. د دافغانستان

حساب غير فعال

مادۀ هفتاد وپنجم:

(۱) بانک مکلف است، بعد از تثبيت حساب غير فعال در روز نخست سال تقويمی جديد، اقدامات ذيل را انجام دهد:

۱-ارسال اطلاعيۀ حاوی مشخصات حساب غير فعال از طريق پست راجستر شده به آخرين آدرس معلوم دارندۀ حساب.

۲- نشر اسم دارندۀ حساب و مشخصات حساب غيرفعال، حداقل در يک روزنامه محلی.

(۲) بانک مکلف است، حداقل (۹۰) روز بعد از تاريخ صدور و نشر اطلاعيۀ مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، درصورت عدم تشخيص آدرس دارندۀ حساب،در مورد گزارش مفصل را به دافغانستان بانک ارائه و سپرده موجود درحساب را به د افغانستان بانک تحويل نمايد. دافغانستان بانک سپردۀ

بانک نوموړې سپارنه په خاص حساب کې ساتي اوکولای شي، دنظر وړ مقصدونو د تأمینولو لپاره له هغې څخه ګټه واخلي.

(۳) که چېرې د سپارنې مالک ددې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي مبلغ د لېږد له نېټې وروسته د لسو کلونو مودې په ترڅ کې د دافغانستان بانک د قناعت وړ اثباتیه سندونو په وړاندې کولو سره، خپل مالکیت ثابت کړي، پدې صورت کې د دافغانستان بانک مکلف دی، نوموړې سپارنه په لنډ وخت کې هغهٔ ته ورکړي.

(۴) د مالکیت په اړه دنه ادعا اوددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوې مودې د پایته رسېدو په صورت کې، د مالکیت دعوي د اورېدو وړ نه ده او په غیر فعال حساب کې موجود مبلغ مالیې وزارت ته لېږدول کیږي او د دولت د عوایدو جزء ګڼل کیږي.

متذکره را درحساب خاص حفظ نموده و می تواند، جهت تأمین مقاصد مورد نظر از آن استفاده نماید.

(۳) هرگاه مالک سپرده درخلال مدت ده سال بعد از تاریخ انتقال مبلغ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، با ارایهٔ اسناد اثباتیهٔ مورد قناعت دافغانستان بانک، مالکیت خود را ثابت نماید، در این صورت دافغانستان بانک مکلف است، سپردهٔ متذکره را به اسرع وقت به وی تأدیه نماید.

(۴) در صورت عدم ادعا مبنی بر مالکیت وانقضای مدت مندرج فقرهٔ (۳) این ماده، دعوی مالکیت قابل سمع نبوده و مبلغموجود درحساب غیر فعال به وزارت مالیه انتقال و جزء عواید دولت محسوب می گردد.

د سر رسید له نېټې څخه دمخه د پور ورکړه

شپږ اویایمه ماده:

(۱) د بانک مدیون (پوروړی) کولای شي، د خپلو پورونو ټوله یا یوه برخه په هر وخت کې له موافقه شوي سر رسید څخه دمخه بانک ته ورکړي.

(۲) ددې مادې پــه (۱) فقــره کــې درج شوې ورکړې د هغــې د دمخــه ورکړې (پیش پرداخت) د فیس په بدل کې چې د موافقه لیک پربنسټ ټاکــل شوې وي، صورت موندلای شي.

(۳) بانک کولای شي، هغه پورونه چې د قسطونو په ډول د ورکړې وړ وي، له قســطونو ســره د متناســب جــزء په ډول یا یوازې په اخریني قسط کــې محاسبه کړي.

(۴) هغه نور موافقه لیکونــه چــې د دې مادې په (۱، ۲ او۳) فقرو کــې درج د دمخــه ورکړوحــق رد یــا محدود کړي، بې اعتباره ګڼل کېږي.

(۵) بانک مکلف دی، د پور د ورکړې

پرداخت بدهی قبل ازتاریخ ســر رسید

مادۀ هفتاد وششم:

(۱) مدیون بانک می تواند، کلیه یــا قسمتی از قرضه های خود را به بانک در هر موقعی قبل از سر رسید موافقت شده، بپردازد.

(۲) پرداخت های مندرج فقــرۀ (۱) ایــن مــاده در بــدل فــیس پــیش پرداخت که به اساس موافقتنامه تعیین گردیــده باشــد، صــورت گرفتــه می تواند.

(۳) بانک مــی توانــد، قروضــی را که طــور اقســاط قابــل پرداخــت باشد، به صورت جزء متناســب بــا اقساط یا تنها در قسط اخیر محاســبه نماید.

(۴) سایر موافقت نامه های که حــق پیش پرداخت های مندرج فقره هــای (۱، ۲ و ۳) این ماده را رد یا محدود نماید، فاقد اعتبار پنداشته می شود.

(۵) بانک مکلف است، در موافقتنامۀ

په موافقه ليک کې، له احوالو سره سم، د ورکړې د فيس اندازه د اصل پور د ورکړې له موعد څخه دمخه، وټاکي.

تضمين شوي پورونه

اووه اويايمه ماده:

(۱) بانک کولای شي، له خپلو مشتريانو څخه وغواړي څو اړوند پورونه د رهن، ضمانت يا بلې ژمنې په واسطه، تضمين کړي.

(۲) که چېرې مديون د هغهٔ پور له ورکړې څخه چې د حبس د حق يا د منقولو يا غيرمنقولو مالونو د رهن او نورو ثبت شوو شتمنيو په واسطه تضمين شوی دی، ډډه وکړي، تضمين شوي منقول او غير منقول مالونه د قانون د حکمونو مطابق پلورل کېږي، پدې صورت کې بانک کولای شي، د مال او نوموړو شتمنيو د پيرودلو لپاره په داوطلبۍ کې ګډون وکړي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي مالونه يا شتمنۍ د مزايدې له لارې يا په بازار کې لږترلږهٔ

اعطای قرضه، حسب احوال، اندازهٔ فيس پرداخت را قبل از موعد پرداخت اصل قرضه، تعيين نمايد.

قروض تضمين شده

مادهٔ هفتاد وهفتم:

(۱) بانک می تواند، ازمشتريان خويش تقاضا نمايد تا قروض مربوط را توسط رهن، ضمانت يا تعهد ديگر، تضمين نمايند.

(۲) هرگاه مديون از پرداخت قرضهٔ که توسط حق حبس يا رهن اموال منقول يا غيرمنقول و ساير دارائی های ثبت شده تضمين گرديده، امتناع ورزد، اموال منقول و غيرمنقول تضمين شده مطابق احکام قانون به فروش می رسد، در اين صورت بانک می تواند، جهت خريداری اموال و دارائی های مذکور در داوطلبی اشتراک نمايد.

(۳) هرگاه اموال يا دارائی های مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده از طريق مزايده يا در بازار معادل قيمت حداقل مبلغ بدهی

د هغهٔ پور د مبلغ او د هغو د پلورلو د لګښتونو د بيې معادل، ونه پلورل شي، اړخونه کولای شي، د جلا موافقه ليک مطابق،مالونه او شتمنۍ په بل ډول وپلوري، د نه موافقې په صورت کې،د اړخونو ديوهٔ دغوښتنې له مخې، واکمنه محکمه د هغو د پلورلو په اړه تصميم نيسي.

ومصارف فروش آن، به فروش نرسد، طرفين مى توانند طبق موافقت نامهٔ جداگانه، اموال و دارائى را طور ديگرى به فروش برسانند، در صورت عدم موافقه، بنابر درخواست يکى از طرفين، محکمهٔ ذيصلاح در رابطه به فروش آن تصميم اتخاذ مى نمايد.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې په درج شوي حالت کې، بانک کولای شي دبانکي فعاليت دترسره کولو په خاطر، د اړتيا له مخې مالونه يا شتمنۍ وپيري.

(۴) درحالت مندرج فقرهٔ (۳) اين ماده، بانک مى تواند اموال يا دارائى ها را نظر به ضرورت به خاطر انجام فعاليت بانکى خريدارى نمايد.

(۵) بانک مکلف دی، د نه ترلاسه شوي پور او د هغهٔ د لګښتونو او د نورو اشخاصو چې مالونه او نوموړې شتمنۍ د هغو تر رهن لاندې دي د پورونو د ورکړې له وضع کولو وروسته، پاتې مبلغ مالک ته ورکړي.

(۵) بانک مکلف است، بعد از وضع مبلغ بدهى حصول ناشده و مصارف آن و پرداخت بدهى هاى ساير اشخاص که اموال و دارائى متذکره تحت رهن آنها قرار دارد، مبلغ باقى مانده را به مالک بپردازد.

(٦) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو مالونو يا شتمنيو د پلورلو ماحصل د هغو دپلورلو دلګښتونو له وضع کولو

(٦) در صورتى‌که ماحصل فروش اموال يا دارائى مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده بعد از وضع مصارف فروش آن، کمتر از مقدار قرضهٔ

وروسته، دنه ترلاسه شوي پور له مقدار څخه کم وي، ددغهٔ ډول پورونو باقي پاتې مبلغ، بانک ته د مديون پر ذمت پور ګڼل کېږي.

د معاملاتو او ژمنليکونو سندونه

اته اويايمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، لږترلږهٔ د لسو کلونو مودې لپاره د لاندې معاملو د هرې يوې د سندونو چاپي نسخه وساتي:

۱- د اعتباراتو، ضمانت او د رهن د موافقه ليکونوپه شمول غوښتنليک او په معاملې پورې د اړوند قرارداد ټول سندونه.

۲-دپوراخيستونکواوتضمينوونکو په شمول د بانک د معاملو د ټولو اړخونو مالي سندونه او سوابق او نور هغه سندونه چې بانک د هغو په استناد معاملې منظورې کړې دي.

۳- د بانک په واسطه د معاملې د منظورۍ په اړه ليکل شوی او لاسليک شوی سند.

حصول ناشده باشد، مبلغ باقی ماندهٔ چنين قرضه ها، بدهی ذمت مديون به بانک محسوب می گردد.

اسناد معاملات و تعهدات

مادهٔ هفتاد وهشتم:

(۱) بانک مکلف است، برای مدت حداقل ده سال نسخه چاپی اسناد هريک ازمعاملات ذيل راحفظ نمايد:

۱- درخواستی وتمام اسناد قرارداد مرتبط با معامله به شمول موافقتنامه های اعتبارات، ضمانت و رهن.

۲- اسناد وسوابق مالی تمام جوانب معاملات بانک به شمول قرضه گيرندگان و تضمين کنندگان و ساير اسنادی که بانک به استناد آن معاملات را منظور کرده است.

۳- سند کتبی و امضاء شده مبنی بر منظوری معامله توسط بانک.

۴- لـه بانـک سـره مشـتريانو د (پيرودونکو) د حساب اړوند موافقـه ليکونه.

۵- نورهغه سندونه چې د دافغانستان بانک يې په اړونده مقرره کې پيشبيني کوي.

(۲) بانک مکلف دی، ددې مادې پـه (۱) فقره کې درج شـوي سـندونه په الکترونيکي ډول هم وساتي.

له ور پورې تړلو اشخاصو سره د معاملې د ترسره کولو په غـرض لازم ايجابات

نهه اويايمه ماده:

(۱) بانک نشي کولای، له ور پـورې تړلي شخص سره د معاملې د ترسـره کولو ژمنه وکړي، خوداچې د نظـار هيئـت اکثـرو غړودمخـه دغـه موضوع تصويب کړي وي. نظار هيئت نشي کولای، د نظـر وړ معـاملې د شرايطو او محدوديتونو پـه هکلـه د بشپړو معلوماتو ترلاسته راوړلو پورې، تصميم ونيسي.

۴- موافقتنامـه هـای مربـوط بـه حسـاب مشـتريان بـا بانک.

۵- ساير اسـناد کـه دافغانسـتان بانک درمقـرره مربـوط پيشـبينی می نمايد.

(۲) بانک مکلف است، اسناد مندرج فقرهٔ (۱) ايـن مـاده رابـه شـکل الکترونيکی نيزنگهداری نمايد.

ايجابـات لازم غـرض انجـام معاملـه بـا اشـخاص وابسته

مادهٔ هفتاد ونهم:

(۱) بانـک نمـی توانـد، انجـام معامله با شخص وابسته را تعهد نمايد، مگـر اينکـه اکثـر اعضـای هيئت نظار قبلاً اين موضوع را تصويب نموده باشند. هيئت نظار نمی توانـد، الی حصول معلومات کامل در مـورد شـرايط و محـدوديت هـای معاملهٔ مورد نظـر تصـميم اتخـاذ نمايد.

(۲) نظار هیئت مکلف دی، په صورت جلسه کې ددې یادونه وکړي چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې معامله منصفانه ده او دبانک په ګټه، تشخیص شوې ده.

(۳)بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې معاملې د تصویب لیکلي سندونه د نظار هیئت د هغوغړو د نومونو په شمول چې معامله یې تصویب کړې ده، وساتي.

(۴) د بانک د نظار هیئت غړی نشي کولای په هغوغونډوکې چې دلاندې اشخاصو له یوۀ سره دمعاملې دتصویب یارسیدګی موضوع مطرح وي،ګډون وکړي:

۱- په هغۀ صورت کې چې هغه د معاملې اړخ وي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د معاملې اړخ د شخص نږدې خپلوان وي.

۳- په هغۀ صورت کې چې شرکت یا هغه تشبث چې خپله (دی) یا نږدې خپلوان یې په هغۀ کې واکمنه استحقاقي ونډه ولري یا د نظار هیئت، عامل هیئت

(۲) هیئت نظار مکلف است، در صورت جلسه تذکر دهد که معامله مندرج فقرۀ (۱) این ماده منصفانه بوده و به نفع بانک، تشخیص شده است.

(۳) بانک مکلف است، اسناد کتبی تصویب معاملۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده را به شمول اسامی اعضای هیئت نظارکه معامله را تصویب نموده اند، حفظ نماید.

(۴) عضو هیئت نظار بانک نمی تواند در جلساتی که موضوع تصویب یا رسیدگی معامله با یکی از اشخاص ذیل مطرح باشد، شرکت نماید:

۱- در صورتی که وی طرف معامله باشد.

۲- در صورتی که اقارب نزدیک شخص طرف معامله باشد.

۳- درصورتی که شرکت یا تشبثی که وی یا یکی از اقارب نزدیک وی در آن سهم استحقاقی ذیصلاحیت داشته یا وی عضو هیئت نظار، هیئت

یا په هغهٔ شرکت کې د ورته نورو تشکیلاتو غړی وي.

(۵) لاندې موارد ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي:

۱- هغه سپارنې چې په کاري معمول بهیر کې د ور پورې تړلي شخص په واسطه له بانک سره اېښودل کېږي.

۲- په عین ګروپ پورې په اړوندبانک کې د تعاملي رابطې د راکړې ورکړې په عادي بهیر کې سپارل کېدنه، پدې شرط چې ددافغانستان بانک په مقررو اودستورونو کې وضع شوي محدودیتونه، په پام کې ونیول شي.

۳- هغه اعتبار چې په بشپړه توګه د هغه په ورکوونکي بانک کې د سپارنې دحساب له لارې، د د افغانستان بانک دټاکل شووشرایطوله په پام کې نیولو سره تضمینېږي.

۴- د هغهٔ اعتبار ورکول چې اصل مبلغ او تکتانه یې په بشپړه توګه د مرکزي بانک یا اړوند دولت د ژمنې یا ضمانت له لارې چې اوږد مهاله

عامل یا سایرتشکیلات مشابه در آن شرکت باشد.

(۵) موارد ذیل از حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستثنی می باشد:

۱- سپرده های که درجریان معمول کاری از طرف شخص وابسته نزد بانک گذاشته می شود.

۲- سپرده گذاری در جریان عادی داد وستد رابطهٔ تعاملی دربانک متعلق به عین گروپ، مشروط براینکه محدودیت های وضع شده در مقرره ها و دستور های دافغانستان بانک رعایت گردد.

۳- اعتباری که طورکامل ازطریق حساب سپرده در بانک اعطاء کنندهٔ آن، با رعایت شرایط تعیین شدهٔ دافغانستان بانک تضمین می گردد.

۴- اعطای اعتباری که اصل مبلغ و تکتانهٔ آن طور کامل از طریق تعهد یا ضمانت بانک مرکزی یا دولت مربوط که درجه بندی دراز مدت آن از

درجه بندي يې د دافغانستان بانک د تأيید وړ يوۀ معتبر بين المللي بنسټ لخوا د(A) له درجې يا يې له معادل څخه کمه نه وي.

۵- هغه پور چې په بانک پورې پرتړلي شخص باندې د وروستۍ مراجعې له حق پرته پلورل کېږي.

(٦) ور پورې تړلی شخص مکلف دی، له بانک څخه داعتبار داخيستلو په عوض، هغه مناسب تضمين چې دلاندې شرايطو لرونکی وي، وړاندې کړي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د نظر وړ اعتبار ددې مادې دڅلورمې فقرې په (۳ او۴) اجزاووکې له درج شوي ډول څخه وي، په بازارکې دتضمين منصفانه ارزښت لږترلږۀ د اعتبار د مبلغ د (۱۰۰) سلنې په اندازه وي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د نظر وړ اعتبار له بل ډول څخه وي، په بازار کې د تضمين منصفانه ارزښت لږترلږۀ د اعتبار د مبلغ د (۱۲۰) سلنې په اندازه وي.

(۷) د اعتبار مبالغ يا د ور پورې تړلي

طرف يک نهاد بين المللی معتبر مورد تائيد د افغانستان بانک کمتر از درجه (A) يا معادل آن نباشد.

۵- قرضه ايکه به شخص وابستۀ بانک بدون حق مراجعۀ بعدی به فروش می رسد.

(٦) شخص وابسته مکلف است، در عوض اخذ اعتبار از بانک، تضمين مناسب را که دارای شرايط ذيل باشد، ارائه نمايد:

۱- در صورتی که اعتبار مورد نظراز نوع مندرج اجزای (۳ و۴) فقرۀ چهارم اين ماده باشد، ارزش منصفانۀ تضمين در بازار حداقل به اندازۀ (۱۰۰) فيصد مبلغ اعتبار باشد.

۲- در صورتی که اعتبار مورد نظر از نوع ديگر باشد، ارزش منصفانۀ تضمين در بازار حداقل به اندازۀ (۱۲۰) فيصد مبلغ اعتبار باشد.

(۷) مبالغ اعتبار يا تسهيلات بانکی

شخص پر ذمت بانکي اسانتیاوې لـه لاندې حدودو څخه زیاتېدای نشي:

۱- په بانک پورې تړلـي شـخص، د نوموړي شخص نږدې خپلوانو او هغهٔ شرکت ته د اعتبار ورکول چې هغه یا د نوموړي نـږدې خپلـوان پـه هغـهٔ کې شل سلنیز مشارکت ولري، دبانک له مقرراتي پانګې څخه د(۵) سلنې په اندازه.

۲- په بانک پورې تړلو اشخاصوته په مجموعي ډول دهغهٔ له مقرراتي پانګې څخه په سلو کې پنځه ویشت.

(۸) بانک مکلف دی، له ور پورې تړلي شخص سره ترسره شوې معاملې په لنډ وخت کې نظار هیئـت تـه رپـوټ ورکړي. ددې مادې په (۴) فقره کـې درج شوې معاملې له دې حکم څخـه مستثني دي.

(۹) که چېرې اعتبار پـدې مـاده او ددې قانون په اتیایمه ماده کې د درج شوو حکمونو له رعایت پرته په بانک پورې تړلي شخص ته ورکړل شـوی وي، داسې اعتبار په لنډ وخت کې بېرته

ذمت شخص وابسته از حـدود ذیـل بیشتربوده نمی تواند:

۱- اعطای اعتبار به شخص وابسـتهٔ بانک، اقارب نزدیک شخص مذکور و شرکتی‌که وی یـا اقـارب نزدیـک موصوف در آن مشـارکت بیسـت فیصدی داشته باشـند، بـه انـدازهٔ (۵) فیصـد از سـرمایهٔ مقرراتـی بانک.

۲- به اشخاص وابستهٔ بانک به صورت مجموعی بیست وپنج فیصد ازسرمایهٔ مقرراتی آن.

(۸) بانک مکلف است، معاملات انجام شـده بـا شـخص وابسـته را به اسرع وقـت بـه هیئـت نظـار گزارش دهد. معاملات مندرج فقـرهٔ (۴) این ماده از این حکـم مسـتثنی می باشد.

(۹) هرگاه اعتبـار بـدون رعایـت احکام مندرج این ماده و مادهٔ هشتادم این قانون به شخص وابسـتهٔ بانـک، اعطاء شده باشـد، چنـین اعتبـار بـه اسـرع وقـت بازپرداخـت

ورکول (بازپرداخت) کېږي.

(۱۰) د نظار هیئت او عامل هیئت هغه شمېر غړي چې ددې مادې په (۸) فقره کې د درج شوې معاملې له تفصیلاتو څخه له خبرتیا سره سره هغه منظوره یا یې په منظورۍ باندې اعتراض کړی ندی، په انفرادي یا مشترک ډول د اصل مبلغ، تکتانې او اړوندو نورو فیسونو د بېرته ورکړې له مدرکه مسئول دي.

(۱۱)هغه معاملې چې عواید یې پدې ماده او ددې قانون په اتیایمه ماده کې ددرج شوو حکمونو مطابق ور پورې تړلي شخص ته لېږدول کېږي یا نوموړی له هغو څخه ګټه ترلاسه کوي، له ورپورې تړلي شخص سره معامله حسابېږي.

له ور پورې تړلي شخص سره ممنوعه معاملې

اتیایمه ماده:

(۱) بانک نشي کولای، شتمنۍ په ورپورې تړلي شخص باندې په مارکېټ

می گردد.

(۱۰) آن عده اعضای هیئت نظار یا هیئت عامل که علی الرغم اطلاع از تفصیلات معاملهٔ مندرج فقرهٔ (۸) این ماده، آن را منظور یابه منظوری آن اعتراض ننموده اند به طور انفرادی یا مشترک از مدرک بازپرداخت اصل مبلغ، تکتانه و سایر فیس های مربوط مسئول می باشند.

(۱۱) معاملاتی که عواید آن مطابق احکام مندرج این ماده و مادهٔ هشتادم این قانون به شخص وابسته انتقال می یابد یا وی از آن انتفاع حاصل می نماید، معامله با شخص وابسته پنداشته می شود.

معاملات ممنوعه با شخص وابسته

مادهٔ هشتادم:

(۱) بانک نمی تواند، دارائی را کمتر از ارزش واقعی آن در مارکیت به

کې د هغو له واقعي ارزښت څخه په کمه وپلوري یا له هغهٔ سره معامله داسې ترسره کړي چې له غیر ور پورې تړلي شخص سره په مقایسه کې آسانه او مناسبه حساب شي.

(۲) بانک نشي کولای، بې کیفیته مالونه یا شتمنۍ له ور پورې تړلي شخص څخه وپیري یا یې د ور پورې تړلي شخص د پور د تضمین په نامه ومني. شتمنۍ په لاندې حالاتو کې بې کیفیته ګڼل کېږي:

۱- د بانک د معیارونو یا ددافغانستان بانک د بررسۍ د وروستني رپوټ مطابق، غیر ستندرد، مشکوک یا له منځه تللي،طبقه بندي شوي وي.

۲- په هغهٔ حالت کې قرار ولري چې له هغوڅخه عاید یا ګټه ترلاسه نشي.

۳-دسررسید له نېټې څخه یې له (۳۰) ورځو څخه زیاتې، تېرې شوې وي.

۴- د مدیون دنامساعدومالي شرایطو پربنسټ، د هغهٔ د سر رسید میعاد نوی شوی وي او د بېرته ورکړې شرایط یې

شخص وابسته به فروش برساند یا معامله با وی را طوری انجام دهد که در مقایسه با شخص غیر وابسته سهل تر و مناسب تر محسوب گردد.

(۲) بانک نمی تواند، اموال یا دارائی های بی کیفیت را از شخص وابسته خریداری نموده یا به عنوان تضمین قرضهٔ شخص وابسته، قبول نماید. دارائی درحالات ذیل بی کیفیت، پنداشته می شود:

۱- طبق معیارهای بانک یا آخرین گزارش تفتیش د افغانستان بانک، غیر ستندرد، مشکوک یا ازبین رفته، طبقه بندی شده باشد.

۲- در حالتی قرار داشته باشد که عاید یا منفعت از آن حاصل شده نتواند.

۳- از تاریخ سر رسید آن بیشتر از (۳۰) روز، سپری شده باشد.

۴- بنابر شرایط مالی نا مساعد مدیون، میعاد سررسید آن تجدید شده و شرایط بازپرداخت آن

تر بیا خبرو اترو لاندې نیول شوي وي.

(۳)بانک نشي کولای، په هغوحالاتو کې چې له اعتبار څخه په لاندې مقصدونو ګټه اخیستل کېږي، اعتبار ور کړي:

۱- په بانک پورې د تړلي شخص د ذمې د پورونو د ورکړې په منظور.

۲- په بانک پورې د تړلي شخص د شتمنۍ د پېرلو په منظور.

۳- په بانک پورې له تړلي شخص سره په اړونده سوداګرۍ کې پانګه اچونه.

په بانک پورې له تړلي شخص سره د معاملو رپوټ

یو اتیایمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، د ور پورې تړلي شخص د نه بېرته ورکړل شوو پورونو په هکله، په ربعوار ډول هغه رپوټ د دافغانستان بانک ته وړاندې کړي چې دلاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- هغه دیون چې د مخکنۍ ربعې مورد مذاکرهٔ مجدد قرار گرفته باشد.

(۳) بانک نمی تواند، درحالاتی که ازاعتباربه مقاصد ذیل استفاده می شود، اعتبار اعطاء نماید:

۱- به منظور پرداخت بدهی های ذمه شخص وابسته به بانک.

۲- به منظور خریداری دارائی شخص وابسته به بانک.

۳- سرمایه گذاری درتجارت مرتبط با شخص وابسته به بانک.

گزارش معاملات با شخص وابسته

مادهٔ هشتاد ویکم:

(۱) بانک مکلف است، طور ربعوار در مورد دیون باز پرداخت نشده شخص وابسته گزارشی را به د افغانستان بانک، ارائه نماید که حاوی مطالب ذیل باشد:

۱- دیونی که بعد از تاریخ تسلیمی

درپوټ د تسلیمی له نېټې څخه وروسته ترسره یا یې ژمنه شوې ده.

۲- داړوندو ور پورې تړلو اشخاصو نومونه، دپور مبلغ، شرایط او ضوابط او نور اړین معلومات. ددې قانون د نهه اویایمې مادې په (۴) فقره کې درج شوې معاملې لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، بانک مکلف کړي څو له ور پورې تړلي شخص سره دخپلومعاملو رپوټ ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې په نسبت په لنډو زماني واټنونو کې ، له مفصلو معلوماتو سره یوځای وړاندې کړي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، د یوۀ خاص بانک په اړه ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی رپوټ له احوالو سره سم د لیکلې خبرتیا د صادرېدو په ذریعه یاد اړوندې مقررې مطابق له ټولو بانکونو یا د بانکونو له خاصو کتګوریو څخه وغواړي.

(۴) بانک مکلف دی، په دې ماده

گزارش ربع قبلی ایفاء یا تعهد شده است.

۲- اسمای اشخاص وابسته مربوط، مبلغ، شرایط و ضوابط دین و سایر معلومات ضروری. معاملات مندرج فقرۀ (۴) مادۀ هفتاد و نهم این قانون از این حکم مستثنی می باشد.

(۲) د افغانستان بانک می تواند، بانک را مکلف سازد تا گزارش معاملات خود با شخص وابسته را در فاصله زمان کوتاه نسبت به میعاد مندرج فقرۀ (۱) این ماده، توأم با معلومات مفصل ارائه نماید.

(۳) دافغانستان بانک می تواند، گزارش مندرج فقرۀ (۲)این ماده را در رابطه به یک بانک خاص حسب احوال ذریعۀ صدور اطلاعیۀ کتبی یا از تمام بانک ها یا کتگوری های خاص از بانک ها برطبق مقررۀ مربوط، مطالبه نماید.

(۴) بانک مکلف است، جهت حصول

کې ددرج شووحکمونو له رعایت څخه د ډاډ ترلاسه کولولپاره،اړوند سندونه وساتي او کنترولي تدبیرونه ونیسي.

د اعتبار ورکولو منع

دوه اتیایمه ماده:

بانک نشي کولای، په لاندې حالاتو کې شخص ته اعتبار ورکړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې په هماغهٔ بانک کې دونډو د پیرلو لپاره ترې ګټه واخیستل شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې بانک خبر شي چې له اعطاء شوي اعتبار څخه راپیدا شوي عواید، په مستقیم یا غیر مسقیم ډول د ونډو د پیرلو لپاره په هماغهٔ بانک کې ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

په نورو شرکتونو کې د بانک پانګه اچونه

درې اتیایمه ماده:

(۱) بانک کولای شي په نورو شرکتونو

اطمینان از رعایت احکام مندرج این ماده، اسناد مربوط را نگهداری و تدابیرکنترولی را اتخاذ نماید.

منع اعطای اعتبار

مادهٔ هشتاد ودوم:

بانک نمی تواند، درحالات ذیل به شخص اعتبار اعطاء نماید:

۱- در صورتی که جهت خریداری سهام در همان بانک استفاده شود.

۲- در صورتی که بانک اطلاع یابد، که عواید ناشی از اعتبار اعطاء شده، طور مستقیم یا غیر مستقیم جهت خریداری سهام در همان بانک مورد استفاده قرار می گیرد.

سرمایه گذاری بانک درسایر شرکت ها

مادهٔ هشتاد وسوم:

(۱) بانک می تواند درسایر شرکت ها

کې پانګه اچونه وکړي، پدې شرط چې د اړینو پالیسیو او کړنلارو او هم د مناسبو مالي او مدیریتي توانمنۍ له شتون او دهغو له څارنې څخه یې ډاډ ترلاسه کړی وي.

(۲) بانک مکلف دی، په هغو ونډو کې له پانګې اچونې څخه دمخه چې له لاندې سلنوڅخه واوړي، د دافغانستان بانک لیکلې اجازه واخلي:

۱- په یوۀ واحد شرکت کې د بانک د مقرراتي پانګې لس سلنه.

۲- په مجموع کې په ټولو شرکتونو کې د بانک د مقرراتي پانګې څلوېښت سلنه.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوې سلنې په ترتیب سره پنځلس سلنې او شپېته سلنې ته، زیاتې کړي.

(۴) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې لیکلې اجازې د ترلاسه کولو لپاره د غوښتنلیک د وړاندې کولو ډول اوشرایط د دافغانستان بانک په واسطه ټاکل کېږي. ددافغانستان بانک د بشپړ

سرمایه گذاری نماید، مشروط براینکه از موجودیت پالیسی ها و طرزالعمل های ضروری ونیز توانائی مالی و مدیریتی مناسب و نظارت از آن اطمینان حاصل نموده باشد.

(۲) بانک مکلف است، قبل از سرمایه گذاری در سهامی که از فیصدی های ذیل متجاوز باشد، اجازۀ کتبی دافغانستان بانک را اخذ نماید:

۱- ده فیصد سرمایۀ مقرراتی بانک در یک شرکت واحد.

۲- چهل فیصد سرمایۀ مقرراتی بانک در تمام شرکت ها در مجموع.

(۳) دافغانستان بانک می تواند، فیصدی های مندرج فقرۀ (۲) این ماده را بالترتیب به پانزده فیصد وشصت فیصد افزایش دهد.

(۴) طرزو شرایط ارایۀ در خواست جهت کسب اجازۀ کتبی مندرج فقرۀ (۲) این ماده، توسط دافغانستان بانک تعیین می گردد. دافغانستان بانک درخلال مدت (٦٠)

غوښتنليک له ترلاسه کولو څخه وروسته د (٦٠) ورځو مودې په ترڅ کې، دهغهٔ د تأييد يا رد په اړه تصميم نيسي.

(۵) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې ليکلې اجازې صادرول د هغو شرايطو په تحقق پورې وتړي چې پدې قانون کې ددرج شوو مکلفيتونو د ترسره کولو لپاره ، اړين دي.

(٦)دلاندې صفاتولرونکو بها لرونکو سندونو په اړه ددې مادې په (۲ او ۳) فقروکې درج شوې سلنې د تطبيق وړ نه دي:

۱- هغه بها لرونکي سندونه چې د بانک د تابع شرکت په واسطه د نوموړو سندونو د ورکړې د تضمين په منظور پيرل شوي دي.

۲- هغه بها لرونکي سندونه چې د مالي معاملو يا دبانک دبيا رغونې په بهيرکې په مؤقت ډول ساتل کېږي.

۳- هغه بها لرونکي سندونه چې د دين دتضمين دتصرف له امله اخيستل

روز بعد از دريافت درخواست کامل، تصميم مبنی بر تائيد يا رد آن را اتخاذ می نمايد.

(۵) دافغانستان بانک می تواند، صدور اجازهٔ کتبی مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده را منوط به تحقق شرايطی سازد که جهت ايفای مکلفيت های مندرج اين قانون، ضروری می باشد.

(٦) فيصدی های مندرج فقره های (۲و۳) اين ماده در رابطه به اسناد بهادار حاوی صفات ذيل، قابل تطبيق نمی باشد:

۱- اسناد بهاداری که توسط شرکت تابع بانک به منظور تضمين پرداخت اسناد مذکور خريداری شده است.

۲- اسناد بهاداری که در جريان معاملات مالی يا احيای مجدد بانک طور مؤقت نگهداری می گردد.

۳- اسناد بهاداری که در اثر تصرف تضمين دين اخذ شده

شوي وي.

۴- هغه بها لرونکي سندونه چې بانک يې په خپل نوم دنورو اشخاصو په استازيتوب د امانت په ډول ساتي.

(۷) بانک مکلف دی، ددې مادې د (٦) فقرې په (۱ تر ۳) اجزاوو کې درج شوي بها لرونکي سندونه، د ترلاسه کولو له نېټې څخه د يوۀ کال مودې په ترڅ کې وپلوري يايې په بل ډول سره پرېږدي.

(۸) بانک نشي کولای، په هغۀ شرکت کې چې مالي مؤسسه نه وي، واکمنه استحقاقي ونډه ترلاسه کړي.

(۹) که چېرې بانک ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې ليکلې اجازې له اخيستلو پرته پانګه اچونه وکړي، د دافغانستان بانک د ليکلي دستور د صادرولو په ذريعه بانک مکلف کوي، ترڅو په دستور کې له درج شوې نېټې څخه دمخه دد افغانستان بانک له تشخيص سره سم، خپله پانګه اچونه په کُلي يا قسمي توګه ختمه کړي.

باشد.

۴- اسناد بهاداری که بانک به نام خود به نمايندگی از ساير اشخاص طور امانت نگهداری می نمايد.

(۷) بانک مکلف است، اسناد بهادار مندرج اجزای (۱ الی۳) فقرۀ (٦) اين ماده را در خلال مدت يک سال از تاريخ حصول، به فروش رسانيده يا به نحو ديگری واگذار نمايد.

(۸) بانک نمی تواند، در شرکتی که مؤسسۀ مالی نباشد، سهم استحقاقی ذيصلاحيت کسب نمايد.

(۹) هرگاه بانک بدون اخذ اجازۀ کتبی مندرج فقرۀ (۲) اين ماده سرمايه گذاری نمايد، د افغانستان بانک ذريعۀ صدور دستورکتبی، بانک را مکلف می سازد، تا قبل از تاريخ مندرج دستور، سرمايه گذاری خود را حسب تشخيص د افغانستان بانک طورکلی يا قسمی خاتمه دهد.

(۱۰) ددافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوې اجازه، دلاندې حالاتود تشخيص پــه صورت کې فسخ اوبانک مکلف کړي، ترڅوخپله پانګه اچونه په کُلي يا قسمي توګه ختمه کړي يا يې په بل ډول سره پرېږدی:

۱- هغه شرايط چې دهغــو پربنســټ ليکلې اجازه صادره شوې ده، لــه دې وروسته د تطبيق وړ نه وي.

۲- پانګه اچونه، د بانک مالي ثبــات تهديدکړي يا د سپارونکو ګټې زيانمنې کړي.

(۱۱) ددې قانون په يوسلويوولســمه ماده کې درج شوې کړنلارې پر هغــو دستورونو باندې چــې د دافغانســتان بانک لخواددې مادې د (۹) فقــرې د حکم مطابق، صادرېږي اوهمدارنګــه د هغې اجازې د فســخ پــر فيصــلې باندې چې د دافغانستان بانک يې د دې مادې د (۱۰) فقرې د حکم مطــابق نيسي، د تطبيق وړ دي.

(۱۰) د افغانستان بانک می توانــد، اجازه مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده را در صورت تشخيص حالات ذيل فســخ نمايد و بانک را مکلف ســازد، تــا سرمايه گذاری خود را طــورکلی يــا قسمی، خاتمه داده و يا به نحو ديگری واگذار نمايد:

۱- شرايطی که به اساس آن اجــازهٔ کتبی صادرگرديده است، منبعد قابــل تطبيق نباشد.

۲- سرمايه گذاری، ثبات مالی بانک را تهديد کرده يا منافع سپرده گذاران را متضرر سازد.

(۱۱) طرزالعمل های منــدرج مــادهٔ يکصدو يازدهم اين قانون بالای دساتير که توسط د افغانستان بانک طبق حکم مندرج فقرهٔ (۹) ايــن مــاده صــادر می گردد و همچنين بالای فيصلهٔ فسخ اجــازه کــه دافغانســتان بانک مطابق حکم مندرج فقرهٔ (۱۰) اين ماده اتخاذ می نمايد، قابل تطبيــق می باشد.

د پېرېدونکي د هويت تشخيص

څلور اتيايمه ماده:

(۱) بانک نشي کولای، دهغو اشخاصو لپاره چې هويت يې مجهول وي، بانکي حساب پرانيزې يا هغوی تــه بــانکي خدمتونه وړاندې کړي.

(۲) بانک مکلف دی، مشــتري تــه دبانکي حساب دپرانيستلو لپاره لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱- د هغو مشتريانو د هويت ثبتــول چې په بانک کې حساب پرانيزي يا په هر ډول له بانک څخه د بانکي فعاليتونو لپاره، دوجوهو يا بها لرونکو سندونو د لېږد يا دبها لرونکو سندونو د معاملو يا دتأدياتي بها لرونکو سندونو د تبادلې په شمول ترې ګټه اخلي، يا نــور هغــه فعاليتونــــــــــه چــــــــــې د دافغانستان بانک يــې پــه اړونــدو کړنلارو کې مشخصوي.

۲- د بل هغهٔ شخص د هويت په هکله د کافي معلوماتو غوښتل چــې پــدې حسابونو کې ذينفع وي يا دغه فعاليتونه

تشخيص هويت مشترى

مادهٔ هشتاد وچهارم:

(۱) بانک نمی تواند، برای اشخاصی که هويت شان مجهول باشد، حساب بانکی افتتاح نموده يا به آنها خدمات بانکی را عرضه نمايد.

(۲) بانک مکلف است، جهت افتتاح حساب بانکی برای مشتری اقــدامات ذيل را انجام دهد:

۱- ثبــت هويــت مشــتريانی کــه در بانک حساب افتتاح مــی نماينــد يا به هر نحــوی از بانــک جهــت فعاليت های بانکی به شمول انتــقال وجوه يا اسناد بهادار يامعاملات اسناد بهادار يا تبادلهٔ اسناد بهادار تأديــاتی اســتفاده مــی نماينــد، يــا ســاير فعاليت های که دافغانســتان بانــک در مقرره هــای مربــوط مشــخص می نمايد.

۲- مطالبهٔ معلومات کافی در مــورد هويت شخص ديگری کــه در چنــين حساب ها ذينفــع بــوده يــا چنــين

د هغهٔ په ګټه ترسره کېږي او د نوموړي د هويت ثبتول.

۳–دهغوسندونوساتل چې د پېرېدونکو او نورو ذينفع اشخاصو هويت ثابتوي.

فعالیت ها به نفع وی انجام می شود و ثبت هویت موصوف.

۳– نگهداری اسنادی که هویت مشتریان و سایر اشخاص ذینفع را ثابت می سازد.

له جرمي فعاليتونو څخه د مخنيوي په منظور د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو ممنوعيت

ممنوعیت عرضهٔ خدمات بانکی به منظور جلوگیری ازفعالیت های جرمی

پنځه اتيايمه ماده:

(۱) بانک نشي کولای، ددې په اړه چې له بانکي حساب يا خدمتونو څخه د پيسو وينځلو يا د تروريزم د تمويل په شان دجرمي فعاليتونو د ارتکاب د ملاتړ يا مرستې لپاره ګټه اخيستل کېږي، د علم، خبرتيا يا مؤجه شک په صورت کې د اشخاصو لپاره يا د هغوی په ګټه بانکي حساب پرانيزي يا هغوی ته بانکي خدمتونه وړاندې کړي.

(۲) بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوي بانکي حساب دپرانيستلو او بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د غوښتنليک يا

مادهٔ هشتاد وپنجم:

(۱) بانک نمی تواند، در صورت علم، اطلاع یا شک مؤجه مبنی بر این که از حساب یا خدمات بانکی برای حمایت یا کمک به ارتکاب فعالیت های جرمی مانند پول شوئی یا تمویل تروریزم استفاده می شود، برای اشخاص یا به نفع آنها حساب بانکی افتتاح یا به آنها خدمات بانکی عرضه نماید.

(۲) بانک مکلف است، در خلال مدت (۵) روز کاری از تاریخ دریافت درخواست یا هدایت مبنی بر افتتاح حساب بانکی

لارښوونې د ترلاسه کولو له نېټې څخه د(۵) کاري ورځو مودې په ترڅ کې، موضوع په ليکلې توګه د دافغانستان بانک خبرتيا ته ورسوي.

له مجازي (غير حقيقي) بانکونو سره د اړيکو د رامنځته کولو ممنوعيت

شپږ اتيايمه ماده:

کورنی بانک يا د بهرني بانک نمايندګي چې په هېواد کې فعاليت کوي، نشي کولای، لاندې فعاليتونه ترسره کړي:

۱- له مجازي (غيرحقيقي)بانک سره ددوه اړخيزې تعاملي اړيکې رامنځته کول يا د بانک له حسابونو څخه د ګټې اخيستنې لپاره مجازي بانک ته د اجازې ورکول.

۲- ددې قانون له نافذېدو وروسته له مجازي بانک سره تعاملي اړيکې ته دوام ورکول.

و عرضهٔ خدمات بانکی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، موضوع را طورکتبی به دافغانستان بانک اطلاع دهد.

ممنوعيت ايجاد روابط با بانک های مجازی (غير حقيقی)

مادهٔ هشتاد وششم:

بانک داخلی يا نمايندگی بانک خارجی که درکشور فعاليت می کند، نمی تواند، فعاليت های ذيل را انجام دهد:

۱- ايجاد رابطهٔ تعاملی دو جانبه با بانک مجازی (غيرحقيقی) يا اعطای اجازه به بانک مجازی جهت استفاده از حسابات بانک.

۲- تداوم رابطهٔ تعاملی با بانک مجازی بعد از انفاذ این قانون.

له معامله لرونکوبانکونو سره داړیکو د ټینګولو شرایط

اووه اتیایمه ماده:

کورنی بانک یا د بهرني بانک نمایندګي چې په هېواد کې فعالیت کوي، له بهرني بانک سره د تعاملي اړیکې د رامنځته کولو یا د هغې له دوام څخه دمخه د لاندې شرایطو په رعایتولو مکلف دي:

۱- د بانک د عامل رئیس، یا د هغهٔ بهرني بانک د نمایندګۍ د عملیاتي آمر چې په افغانستان کې فعالیت کوي یا بل هغه شخص چې دهغوی لخوا ټاکل کېږي د منظورۍ ترلاسه کول.

۲- د متعامل بانک د سوداګریزو فعالیتونو د ماهیت او شهرت او د هغهٔ څارنیز سیستم له کیفیت څخه چې بانک د هغه تابع دی،د خبرتیا لپاره د متعامل بانک په هکله د کافي معلوماتو راټولول.

۳- د پیسو وینځلو او د تروریزم له تمویل سره دمبارزې په هکله، دمتعامل

شرایط بر قراری رابطه با بانک های معامله دار

مادهٔ هشتاد وهفتم:

بانک داخلی یا نمایندگی بانک خارجی که درکشور فعالیت می نماید، قبل ازایجاد رابطهٔ تعاملی با بانک خارجی یا تداوم آن مکلف به رعایت شرایط ذیل می باشد:

۱- کسب منظوری رئیس عامل بانک، یا آمرعملیاتی نمایندگی بانک خارجی که در افغانستان فعالیت می نماید یا شخص دیگری که از طرف آنها تعیین می گردد.

۲- جمع آوری معلومات کافی در مورد بانک متعامل جهت اطلاع از ماهیت فعالیت های تجارتی و شهرت بانک متعامل وکیفیت سیستم نظارتی که بانک تابع آن می باشد.

۳- ارزیابی ایجابات کنترولی بانک متعامل در مورد مبارزه با پول شوئی و

بانک د کنترولـــي ایجابـــاتو ارزول.

۴- پدې ماده کې د درج شوي هـــر بانک د اړوندو مسئولیتونود بیانوونکو سندونو ترتیبول.

۵- په لاندې مواردو کې د مستقیمې ورکړې وړ حســـابونو پـــه اړه د ډاډ ترلاسه کول:

- د معاملې لرونکي بانک لخوا د هغو مشتریانو د هویت تصـــدیقول چـــې د کورني بانک یا د هغهٔ د فرع حسابونوته مستقیم لاس رسی لري.

- د پیرودونکو د هویت د تثبیتولـــو د تدبیرونو متداوم رعایت.

- عندالمطالبه د اړوندو مشتریانو یا د کورني بانک او یا دهغهٔ د فرع دهویت د تثبیتولو په باره کې د معلومـــاتو پـــه وړاندې کولود متعامل بانک توانمني.

اووم فصل

اسلامي بانکداري

د اسلامي بانکداری جواز

اته اتیایمه ماده:

(۱) د اسلامي بانکداری جـــواز ددې تمویل تروریزم.

۴- ترتیب اسناد مبین مسئولیت های مـــرتبط بـــه هـــر بانـــک منـــدرج این ماده.

۵- حصول اطمینان در رابطـــه بـــه حسابات قابل تادیهٔ مستقیم درمـــوارد ذیل:

- تصدیق هویت مشـــتریان کـــه بـــه حسابات بانک داخلی یـــا فـــرع آن دسترسی مستقیم دارند، از طرف بانک معامله دار.

- رعایت مداوم تدابیر تثبیت هویـــت مشتریان.

- قادر بودن بانک متعامل بـــه ارایـــهٔ معلومات دربارهٔ تثبیت هویت مشتریان مربوط یابانک داخلی و یـــا فـــرع آن عندالمطالبه.

فصل هفتم

بانکداری اسلامی

جوازبانک داری اسلامی

مادهٔ هشتاد وهشتم:

(۱) جواز بانکداری اسلامی مطـــابق

قانون د حکمونو مطابق، د دافغانستان بانک لخوا له لزوم دید سره سم صادر او ورکول کېږي.

(۲) اسلامي بانک، خپله اداره او فعالیت په سالمه او محتاطانه توګه ددې قانون دحکمونو، شرعي اصولو، مقررو او د اسلامي بانکداری دجوازد منضمه شرایطو مطابق چې د دافغانستان بانک په واسطه صادرېږي، تنظیم اواجرأ کوي.

(۳) اسلامي بانک او دهغهٔ شرعي بورد دخپلو فعالیتونو په ترسره کولوکې داسلامي شریعت د اصولو په رعایت مکلف دي، د دافغانستان بانک پدې اړه مسئولیت نه لري.

(۴) پدې قانون کې درج شوي حکمونه په هغهٔ صورت کې چې د شرعي اصولو مطابق وي داسلامي بانکونو په هکله هم د تطبیق وړدي.

د بانک تبدیلي

نهه اتیایمه ماده:

(۱) هغه متعارف بانک چې پدې قانون

احکام این قانون از طرف دافغانستان بانک حسب لزوم دید صادر و اعطاء می گردد.

(۲) بانک اسلامی، اداره و فعالیت خود را به طورسالم ومحتاطانه مطابق احکام این قانون، اصول شرعی، مقرره ها و شرایط منضمه جواز بانکداری اسلامی که توسط دافغانستان بانک صادر می گردد، تنظیم و اجراء می نماید.

(۳) بانک اسلامی و بورد شرعی آن درانجام فعالیت خویش مکلف به رعایت اصول شریعت اسلامی بوده، دافغانستان بانک در این رابطه مسئولیت ندارد.

(۴) احکام مندرج این قانون در صورتی که مطابق اصول شرعی باشد، در مورد بانک های اسلامی نیز قابل تطبیق می باشد.

تبدیلی بانک

مادهٔ هشتاد ونهم:

(۱) بانک متعارف که مطابق

کې ددرج شووحکمونو مطابق يې د بانکداری جواز ترلاسه کړی او دهغهٔ مرکزي دفتر په افغانستان کې موقعيت ولري، کولای شي د اسلامي بانک په توګه، خپل شکل ته بدلون ورکړي او يا ددافغانستان بانک په واسطه د جوازليک له ورکولو وروسته د اسلامي بانکداری برخه پرانيزي.

(۲) د دافغانستان بانک د متعارف بانک غوښتنليک، په اسلامي بانک دبدلولو يا د اسلامي بانکداری د برخې دپرانيستلو لپاره دشرعي بورد د وړانديز شووغړواودبانک دعملياتي کړنلاروله منظوری او د اسلامي بانک يا د اسلامي بانک د برخې په توګه د متقاضي بانک د سالمو او محتاطانه فعاليتونو له ترسره کولو څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، تأييدوي.

(۳)دبانک د رامنځته کولوغوښتنليک او پدې ماده کې د درج اجازه ليک ورکړه په اړوندو مقرروکې ددرج شوو حکمونو مطابق، صورت مومي.

(۴) متعارف بانک کولای شي، خپل د

احکام مندرج اين قانون جواز بانکداری اخذ نموده ودفتر مرکزی آن در افغانستان موقعيت داشته باشد، می تواند به حيث بانک اسلامی تغيير شکل دهد و يا بخش بانکداری اسلامی را بعد از اعطای اجازه نامه توسط دافغانستان بانک افتتاح نمايد.

(۲) دافغانستان بانک، درخواست بانک متعارف را، جهت تبديل به بانک اسلامی يا افتتاح بخش بانکداری اسلامی بعد از منظوری اعضای پيشنهادی بورد شرعی و طرزالعمل های عملياتی بانک و حصول اطمينان از انجام فعاليت های سالم و محتاطانهٔ بانک متقاضی به حيث بانک اسلامی يا بخش بانک اسلامی، تائيد می نمايد.

(۳) منظوری درخواست ايجاد بانک و اعطای اجازه نامه مندرج اين ماده، مطابق به احکام مندرج مقرره های مربوط، صورت می گيرد.

(۴) بانک متعارف می تواند، فعاليت و

اسلامي بانکداری د برخې فعالیتونه او عملیات فسخ کړي.

شرعي بورد

نوي یمه ماده:

(۱) هغه اسلامي بانک یا متعارف بانک چې داسلامي بانکداری برخه په کې رامنځته کېږي، مکلف دی، د هغهٔ په خدمتونو، فعالیتونو او محصولاتو کې د اسلامي شریعت د اصولو د تطبیق او رعایت په منظور، شرعي بورد رامنځته کړي.

(۲)شرعي بورد د تاق ترکیب لرونکی دی چې لږترلږهٔ د اسلامي فقهې له دریو تنو عالمانو څخه جوړ شوی چې دهغوی نصب اوعزل د ونډه والو د عمومي مجمع په واسطه صورت مومي.

(۳)دشرعي بورد غړي په اړونده مقرره کې ددرج شوو علمي شرایطو لرونکي دي اولږترلږه داسلامي بانکداری دعملیاتو په چاروکې تجربه ولري.

(۴) د شرعي بورد غړي، د (۳) کلونو مودې لپاره انتصابېږي.

عملیات بخش بانکداری اسلامی خود را فسخ نماید.

بورد شرعی

مادهٔ نودم:

(۱) بانک اسلامی یا بانک متعارف که بخش بانکداری اسلامی در آن ایجاد می گردد، مکلف است، به منظور تطبیق ورعایت اصول شریعت اسلامی درخدمات، فعالیت ها و محصولات آن، بورد شرعی را ایجاد نماید.

(۲) بورد شرعی دارای ترکیب تاق بوده که حداقل متشکل ازسه نفر علمای فقه اسلامی می باشد که نصب و عزل آنها توسط مجمع عمومی سهمداران بانک صورت می گیرد.

(۳) اعضای بورد شرعی واجد شرایط علمی مندرج مقررهٔ مربوط بوده و حداقل تجربه در امور عملیات بانکداری اسلامی داشته باشند.

(۴) اعضای بورد شرعی برای مدت (۳) سال انتصاب می گردد.

د هغوی د راتلونکو دورو لپـــاره بیـــا انتصاب هم مجاز دی.

(۵) شرعي بـــورد لـــه خپلـــو غـــړو څخه یو د رئیس په توګه ټاکي.

(٦) دشرعي بوردغړي نشي کـــولای دبانک په اجرائیوي، مدیریتي یا څارنیزو عهدوکې توظیف شي.

(۷) دشرعي بورد تصمیمونه په غونډه کې د حاضرو غړو د رأیو په اکثریـــت نیول کېږي.درأیودبرابری په صـــورت کې هغه اړخ اکثریت شمېرل کېږي چې دشرعي بورد رئیس هغهٔ ته رأیه ورکړې وي.

(۸) داســـلامي بانکـــداری برخـــه، یومشاورچې په شرعي چاروکې دلازمو تحصیلاتو او کافي تجربو لرونکی وي، استخداموي.

د اسلامي بانکداری فعالیتونه

یونوي یمه ماده:

(۱) اسلامي بانک کـــولای شـــي، د بانکداری دجواز دمندرجاتو، اســـلامي شریعت اواړوندې مقررې مطابق، لاندې

انتصاب مجدد آنها، برای دوره هـــای بعدی نیز مجاز می باشد.

(۵) بورد شرعی یکی از اعضای خود را بحیث رئیس انتخاب می نماید.

(٦) اعضای بورد شرعی نمی تواننـــد درعهده های اجرائیوی، مدیریتی یـــا نظارتی بانک توظیف گردند.

(۷) تصامیم بورد شرعی با اکثریـــت آرای اعضای حاضردر جلسه، اتخـــاذ می گردد. در صورت تســـاوی آراء، طرفی که رئیس بورد شرعی به آن رأی داده باشـــد، اکثریـــت شـــمرده می شود.

(۸) بخش بانکداری اســـلامی یـــک مشاور را که درامـــور شـــرعی دارای تحصیلات لازم وتجارب کافی باشد، استخدام می نماید.

فعالیت های بانکداری اسلامی

مادهٔ نود ویکم:

(۱) بانک اسلامی می تواند، مطـــابق مندرجات جـــواز بانکداری، شریعت اسلامی و مقررهٔ مربوط، فعالیت های

فعالیتونه ترسره کړي:

۱- دپانګې اچونې دحسابونو په شمول د پولي سپارنو او د ورکړې وړ نورو وجوهو ترلاسه کول.

۲- د مضاربې، مرابحې، مشارکې، صکوکو، حسنه پور، اجارې، استصناع، د سلم د بیعې، ودیعت، مؤجلې بیعې او نورو هغو مالي اوبانکي فعالیتونو چې د شرعي چارو د بورد تصویب ته رسېدلی وي په شمول د فعالیتونو یا پانګې اچونې تمویلول.

۳- دمنقولو او غیر منقولو مالونو تمویل، پیر، پلور، ساتنه او اجاره.

۴- دصکوکوپه شمول دبها لرونکو سندونو صادرول.

۵- د تبادلې او د بهرنیو اسعارو د تبادلې اړوندو خدمتونو د وړاندې کولو د معاملو ترسره کول.

٦- داړوندې مقررې مطابق د پیرودونکو او عامه خلکو لپاره دبانکي او مالي ډول ډول خدمتونو وړاندې کول.

(۲) ددافغانستان بانک هغه کړنلاره چې

ذیل را انجام دهد:

۱- دریافت سپرده های پولی و سایر وجوه قابل پرداخت به شمول حسابات سرمایه گذاری.

۲- تمویل فعالیت ها یا سرمایه گذاری به شمول مضاربه، مرابحه، مشارکه، صکوک، قرض حسنه، اجاره، استصناع، بیع سلم، ودیعت، بیع مؤجل وسایر فعالیت های مالی و بانکی که به تصویب بورد شرعی بانک رسیده باشد.

۳- تمویل، خرید، فروش، نگهداری و اجارهٔ اموال منقول وغیر منقول.

۴- صدور اسناد بها دار به شمول صکوک.

۵- انجام معاملات مربوط تبادله و عرضه خدمات تبادلهٔ اسعار خارجی.

٦- عرضه خدمات متنوع بانکی ومالی برای مشتریان و مردم عامه برطبق مقررهٔ مربوط.

(۲) دافغانستان بانک طرزالعمل را که

دهغې مطابق اسلامي بانک وکولای شي غیرمنقول مالونه لاسته راوړي، وضع کوي.

(۳) پدې فصل کې درج شوي حکمونه، د نامېشتو اسلامي بانکونو په کورنیو نمایندګیو باندې هم د تطبیق وړ دي.

مطابق به آن بانک اسلامی بتواند اموال غیرمنقول را حاصل نماید، وضع می نماید.

(۳) احکام مندرج این فصل بالای نمایندگی های داخلی بانک های اسلامی غیر مقیم نیز قابل تطبیق می باشد.

اتم فصل

حسابداري او بررسي

مالي کال

دوه نوي یمه ماده:

د بانکونو مالي کال د هجري لمریز کال د مرغومي میاشتې له لومړۍ څخه پیل او د راتلونکي کال د لیندۍ د میاشتې په آخر کې پایته رسېږي.

مالي صورت حسابونه او احصائیوي رپوټونه

درې نوي یمه ماده:

(۱) بانک مکلف دی، حسابونه او سندونه وساتي او ربعوار اوکلني مالي صورت حسابونه د اړوندې مقررې

فصل هشتم

حسابداری و بررسی

سال مالی

مادۀ نود ودوم:

سال مالی بانک ها از اول ماه جدی سال هجری شمسی آغاز و در اخیر برج قوس سال بعدی خاتمه می یابد.

صورت حسابات مالی و گزارشات احصائیوی

مادۀ نود و سوم:

(۱) بانک مکلف است، حسابات و اسناد را نگهداری نماید و صورت حسابات مالی ربع وار و سالانه را طبق

مطابق او د حسابداری یا مالـــي رپوټ ورکونې له بین المللي معیارونو سره په مطابقت کې چې د بانک د فعالیتونو او مالي شرایطو دقیق منعکس کـــوونکي وي، برابر کړي. مالي صورت حسابونه په انفرادي یا ټولیز ډول، د بانک د ټولو تابع شرکتونو د فعـــالیتونو او مـــالي شرایطو نغاړونکي وي.

(۲) د یوې یا له یوې څخـــه د زیـــاتو فروعو یا د نمایندګیو د دفتر لرونکـــی نامېشت بانک مکلف دی، پدې مـــاده کې درج شوي حکمونه د هر دفتر لپاره د جلا سندونو د حســـابونو او مـــالي صـــورت حســـابونو د پروفـــورمې د برابرولو لپاره، په پام کې ونیسي.

بهرنی بررسي

څلور نوي یمه ماده:

(۱) کـــورنی بانـــک مکلـــف دی، د شرایطو لرونکی او باتجربه بهرنی بررس چـــــې د دافغانســـــتان بانـــــک د تأیید وړ وي، انتصاب کړي.

(۲) بهرنی بررس مکلف دی، په اړونده مقررهٔ مربوط و درمطابقت با معیارهای بین المللی حسابداری یا گزارش دهی مالی که منعکس کنندهٔ دقیق فعالیت ها و شرایط مالی بانک می باشد، تهیـــه نماید. صـــورت حســـابات مـــالی در برگیرندهٔ فعالیت ها و شـــرایط مـــالی مجموع شرکت های تابع بانک، طور انفرادی یا دسته جمعی می باشد.

(۲) بانک غیرمقیم دارای یک یابیشتر ازیک فرع یا دفترنمایندگی، مکلـــف است، احکـــام منـــدرج ایـــن مـــاده را جهـــت تهیـــهٔ حســـابات اســـناد جداگانه و پروفورمهٔ صورت حسابات مـــالی بـــرای هـــر دفتـــر رعایـــت نماید.

بررسی خارجی

مادهٔ نود وچهارم:

(۱) بانک داخلی مکلف است، بررس خارجی واجد شرایط و با تجربه را که مورد تائید د افغانستان بانک باشـــد، انتصاب نماید.

(۲) بررس خارجی مکلف است، طبق

مقرره کې د درج شوو معیارونو مطابق، لانـــدې دندې ترسره کړي:

۱- د حسابداری د مناسب سیستم او د هغې د کړنلارو د ساتلو په هکلـــه، بانک ته د مشورې وړاندې کول.

۲- د کورنې کنترول د سیستمونو او د خطرونو د ادارې او دهغو دکړنلارو د اغېزمنتیا په هکله، بانک ته د مشورې وړاندې کول.

۳- ددې قانون له حکمونو سره پـــه مطابقت کې د بانک له مالي وضـــعې څخه دبشپړ اومنصفانه تصویر دوړاندې کولو لپاره نظار هیئت تـــه د پـــایلو د ارزونې اومالي رپوټونو له بررسۍ سره یوځای د کلنې رپوټ ترتیبول.

۴- په لنډ وخت کې له لاندو مواردو څخه دهر یوهٔ په اړه د دافغانستان بانک ته د معلوماتو وړاندې کول:

- اختلاس، تزویر یـــا ددې قـــانون او اړوندې مقررې لـــه حکمونـــو څخـــه سرغړونه چې د بانک د نظار هیئـــت، عامل هیئت د غړي، د کارکوونکي یا استازي لخوايې صورت موندلی وي.

معیارهای مندرج مقررهٔ مربوط، وظایف ذیل را انجام دهد:

۱- ارایهٔ مشوره به بانـــک در مـــورد حفظ سیســـتم مناســـب حســـابداری وطرزالعمل های آن.

۲- ارایهٔ مشوره به بانـــک در مـــورد مؤثریت سیستم های کنترول داخلـــی وادارهٔ خطرات و طرزالعمـــل هـــای آن.

۳- ترتیب راپور سالانه توأم با ارزیابی نتـــایج و بررســـی گزارشـــات مالی به هیئت نظارجهت ارایهٔ تصـــویر کامل و منصفانه از وضع مالی بانک در مطابقـــت بـــه احکـــام ایـــن قانون.

۴- ارائه معلومات به دافغانستان بانک در رابطه با هر یک از موارد ذیل بـــه اسرع وقت:

- اختلاس، تزویر یا تخلف از احکـــام این قانون، مقررهٔ مربوط که از طرف عضو هیئت نظار، هیئت عامل، کارکن یا نمایندهٔ بانـــک صـــورت گرفتـــه باشد:

– هغه شرایط چې بانک ته د پام وړ زیان د رامنځته کېدو موجب وګرځي یا د بانک د فعالیت دوام له خطر سره مخامخ کړي.

– د بررسۍ له پایته رسېدو دمخه د هغې د دلایلو له وړاندې کولو سره یوځای له دندې څخه د بررس استعفاء یا انفکاک.

– نورې هغه موضوعګانې چې د هغهٔ د تشخیص پربنسټ د رپوټ د هر اړخیزوالي لپاره اړینې ګڼل کېږي.

(۳) د خپلواک بهرني بررس لخوا ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو معلوماتو افشاء (بربنډول)، د بانکي معلوماتو د محرمیت د ساتلو له اصل څخه سرغړونه نه ګڼل کېږي او له هغهٔ څخه پیدا شوي عواقب بررس ته نه متوجه کېږي.

(۴) دنامېشتو بانکونو کورنۍ نمایندګۍ او د هغو بهرنی بررس پدې ماده کې د درج شوو حکمونو په رعایت مکلف دي.

(۵) که چېرې بانک د یوهٔ یا زیاتو تابع

– شرایطی که موجب بروز ضرر قابل توجه به بانک گردیده یا تداوم فعالیت بانک را با خطر مواجه سازد.

– استعفاء یا انفکاک بررس از وظیفه قبل ازختم بررسی توأم با ارائه دلایل آن.

– سایرموضوعاتی که بنابر تشخیص وی جهت همه جانبه بودن گزارش ضروری پنداشته می شود.

(۳) افشای معلومات مندرج فقرهٔ (۲) این ماده از جانب بررس خارجی مستقل، تخطی از اصل حفظ محرمیت معلومات بانکی محسوب نگردیده وعواقب ناشی از آن متوجه بررس نمی گردد.

(۴) نمایندگی داخلی بانک های غیرمقیم و بررس خارجی آنها مکلف به رعایت احکام مندرج این ماده می باشند.

(۵) هرگاه بانک دارای یک

یا ورپورې تړلو شرکتونو لرونکی وي، بهرنی برس د نوموړي بانک پر بررسۍ برسېره، د هغهٔ تابع یا ور پورې تړلـــي شرکتونه په ټولیز یا انفـــرادي ډول د حسابداری یا د مالي رپوټ ورکـــونې دبین المللي معیارونو مطابق، تر بررسۍ لاندې نیسي.

(٦) د بانک تابع یا ور پـــورې تړلـــی شرکت چې د لاندې شرایطو لرونکی وي، د دافغانستان بانک د تأییـــد پـــر بنسټ، ددې مادې په (۵) فقره کې له درج شوي حکم څخه مســـتثني دی او په بهرنۍ بررسۍ کې شامل ندی:

۱- هغه تابع یا ورپورې تړلي شرکت چې دهغهٔ دفعالیتونو د ترسره کولو له امله دبانک دتېر مالي کال د عوایدو له پنځه سلنې څخه لږ ترلاسه شوې وي.

۲- هغه تابع یا ورپورې تړلی شرکت چې د بانـــک د مجمـــوعي شـــتمنۍ له پنځه سلنې څخه لږهٔ په واک کـــې ولري.

۳- د دافغانستان بانک له تشـــخیص سره سم، په بهرنۍ بررسۍ کې د تابع یا یا بیشتر شرکت تـــابع یـــا وابســـته باشـــد، بـــررس خـــارجی بـــرعلاوهٔ بررسی بانک مذکور شرکت های تابع یا وابسته آن را طـــور مجمـــوعی یـــا انفرادی مطابق به معیارهای بین المللی حسابداری یا گزارش دهی مالی مورد بررسی قرارمی دهد.

(٦) شرکت تابع یا وابستهٔ بانک کـــه دارای شرایط ذیل باشد، بنابر تائیـــد د افغانســـتان بانـــک از حکـــم مندرج فقرهٔ (۵) این ماده مستثنی بوده و در بررســـی خـــارجی شـــامل نمی باشد:

۱- شرکت تـــابع یـــا وابســـته ای که کمتر ازپنج فیصد ازعواید سال مالی گذشـــته بانـــک ازاثـــر انجـــام فعالیت های آن حاصل شده باشد.

۲- شرکت تابع یا وابسته ای که کمتر از پـــنج فیصـــد دارائـــی هـــای مجموعی بانک را در اختیـــار داشـــته باشد.

۳- حسب تشـــخیص د افغانســـتان بانک، شمولیت شرکت تابع یا وابسته

ور پورې تړلي شـــرکت شـــمولیت د ګروپ د مالي شـــرایطو د وخامـــت (خرابېدو) باعث شي.

(۷) د دافغانســـتان بانـــک کـــولای شي، بررسي شوي سندونه ترڅېړنـــې لاندې ونیســـي او ددې مـــادې پـــه حکمونوکې ددرج شوې بررسۍ په اړه د اړوند بررس د کاري سندونو نقـــل تـــرلاســـه کړي، همدارنګه له بهرني بررس څخه د ترسره شوې بررسۍ پـــه اړه اضافي توضیحات، وغواړي.

(۸) ددافغانستان بانک کولای شـــي، دبانک بهرني بررس یاد بهرني بانـــک نمایندګي چې په افغانستان کې فعالیت کوي، مکلف کړي، څود هغوکړنلارو په هکله چې د بهرني بررس یا بررسانو په واسطه په کلنۍ بررسۍ کې ورڅخه استفاده کېږي، د دافغانستان بانک ته رپوټ وړاندې کړي.

(۹) د دافغانستان بانک کولای شـــي، ددې مادې په (۷) فقره کې درج شوی بهرنـــی بـــررس مکلـــف کـــړي، څو د بررسۍ د ساحې حدود پراخـــه

در بررسی خارجی باعـــث وخامـــت شـــــرایط مـــــالی گـــــروپ گردد.

(۷) د افغانستان بانک می تواند، اسناد بررسی شده را مورد تدقیق قرار داده و نقل اسناد کاری بـــررس خـــارجی مربـــوط را در رابطـــه بـــا بررســـی مندرج احکام این ماده دریافت نموده، همچنان ازبررس خارجی توضـــیحات اضافی را در رابطه با بررسی انجـــام شده، مطالبه نماید.

(۸) دافغانستان بانک می تواند، بررس خارجی بانک یا نمایندگی بانک خارجی کـــــه در افغانســـــتان فعالیـــــت می نماید را مکلف سازد تا در مـــورد طرزالعمل های که توســـط بررس یـــا بررسان خارجی دربررســـی ســـالانه استفاده می شـــود، بـــه دافغانســـتان بانک گزارش ارائه نماید.

(۹) دافغانستان بانک می تواند، بررس خارجی مندرج فقرۀ (۷) این مـــاده را مکلف نماید، تا حدود ساحۀ بررسی را گسترش داده یا طرزالعمل خاص را در

کړي يا پدې هکله خاصه کړنلاره اجراء کړي او له تطبيق څخه يې د دافغانستان بانک ته ډاډ ورکړي.

د مالي صورت حسابونو، د بررس د رپوټ او د ښې ادارې د رپوټ خپرول

پنځه نوي يمه ماده:

(۱) دکورني بانک د نظار هيئت مکلف دی، د مالي کال له پايته رسېدو وروسته د دريو مياشتو مودې په ترڅ کې، لاندې معلومات دعمومي مجمع په واک کې ورکړي:

۱- د بانک بررسي شوي مجموعي مالي صورت حسابونه د بهرني بررس له رپوټ سره يوځای چې د هماغهٔ مالي کال په اړه ترسره شوي دي.

۲- د روان مالي کال لپاره د ښې ادارې رپوټ چې لږترلږهٔ د لاندې معلوماتو لرونکی وي:

- د کورني کنترول، د خطرونو د ادارې دسيستمونو د مشخصاتو توضيح او د هغو د اغېزمنتيا په هکله د بانک مورد اجراء نموده و ازتطبيق آن به د افغانستان بانک اطمينان دهد.

نشرصورت حسابات مالی، گزارش بررسان و راپور اداره خوب

مادهٔ نود وپنجم:

(۱) هيئت نظار بانک داخلی مکلف است، درخلال مدت سه ماه بعد از پايان سال مالی، معلومات ذيل را در اختيار مجمع عمومی قرار دهد:

۱- صورت حسابات مالی مجموعی بررسی شدهٔ بانک همراه با گزارش بررس خارجی که در رابطه با همان سال مالی انجام شده است.

۲- گزارش اداره خوب برای سال مالی جاری که حداقل حاوی معلومات ذيل باشد:

- توضيح مشخصات سيستم های کنترول داخلی، ادارهٔ خطرات و ارزيابی بانک در مورد مؤثريت

ارزونه.

– د عامل هیئت اونظار هیئت د غړو او د نظار هیئت تر اثر لاندې کمیټو د غړو د هویت مشخصول.

– د هغو غونډو مجموعي شمېر چې نظار هیئت او دهغهٔ کمیټو دتېر مالي کال په بهیر کې جوړې کړي او د هغو غونډو شمېر چې دغړو هریوهٔ په انفرادي ډول په هغو کې ګډون کړی دی.

– د دافغانستان بانک د اړوندو مقررو مطابق نور معلومات.

(۲) کورنی بانک مکلف دی، د عمومي مجمع د بررسي شوو مالي صورت حسابونو له تصویب وروسته د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې، لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱– د دافغانستان بانک ته د مالي صورت حسابونو، د بهرني بررس د رپوټونو او ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې بنې ادارې د رپوټ وړاندې کول.

۲– دهېواد د کثیرالانتشار ورځپاڼو په

آنها.

– مشخص نمودن هویت اعضای هیئت عامل وهیئت نظار و اعضای کمیته های تحت اثر هیئت نظار.

– تعداد مجموعی جلساتی که هیئت نظار و کمیته های آن در جریان سال مالی گذشته، برگزار نموده و تعداد جلساتی که هر یک از اعضاء طورانفرادی درآن اشتراک نموده اند.

– سایر معلومات طبق مقرره های دافغانستان بانک.

(۲) بانک داخلی مکلف است، درخلال مدت (۱۵) روز بعد از تصویب صورت حسابات مالی بررسی شدهٔ مجمع عمومی، اقدامات ذیل را اتخاذ نماید:

۱– ارایهٔ صورت حسابات مالی، گزارشات بررس خارجی و گزارش اداره خوب مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به د افغانستان بانک.

۲– نشر صورت حسابات مالی و

يوې کې د مالي صورت حسابونو او رپوټونو خپرول.

(۳) کورنی بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې پردرج شوو تدبیرونو برسېره، لاندې تدبیرونه هم ونیسي:

۱- ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالي صورت حسابونه او رپوټونه دافغانستان دننه او بهر دخپلو دفترونو او نمایندګیو په لید وړ ځای کې د (۱۲) میاشتو مودې لپاره کېږدي.

۲- ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالي صورت حسابونو او رپوټونو نقل د اشخاصو د غوښتنې په صورت کې د هغوی په واک کې ورکړي ، دوړاندې کولو په بدل کې یې، مناسب اُجرت چې دنومورې خدمت د عرضې لپاره د اداري د لګښتونو له مقدار څخه زیات نه وي، وغواړي.

(۴) په افغانستان کې د یوې یا څو نمایندګیو ددفتر لرونکی غېر مېشت بانک مکلف دی لاندې تدبیرونه

گزارشات در یکی از روزنامه های کثیر الانتشار کشور.

(۳) بانک داخلی مکلف است، علاوه بر ارائه معلومات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، تدابیر ذیل را نیز اتخاذ نماید:

۱- صورت حسابات مالی وگزارشات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را درمحل قابل دید در دفاتر و نمایندگی های خویش در داخل و خارج از افغانستان برای مدت (۱۲) ماه قرار دهد.

۲- نقل صورت حسابات مالی وگزارشات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را درصورت مطالبهٔ اشخاص در اختیار آنها قرار داده، دربدل ارائه آن، اجرت مناسبی را که از مقدار مصارف اداری جهت عرضهٔ خدمت مذکور بیشتر نباشد، تقاضا نماید.

(۴) بانک غیرمقیم دارای یک یاچند دفتر نمایندگی در افغانستان مکلف است تدابیر ذیل را اتخاذ

ونيسي:

۱- د بشپړ شوي تېر مالي کال لپاره، په افغانستان کې د خپلو نمايندګيو د مالي صورت حسابونو او بررسي شوو مالي حسابونو دپروفورمې مجموعه د بهرني بررس له رپوټ سره يو ځای، زيات نه زيات دهغې مودې په ترڅ کې چې نوموړی رپوټ او مالي صورت حسابونه په خپل اصلي هېواد کې واکمنو مراجعو ته سپاري، د دافغانستان بانک ته وسپاري.

۲- ددې فقرې په (۱) جزء کې درج شوي مالي صورت حسابونه او رپوټونه، د دافغانستان بانک ته له تسليمۍ څخه د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې، د هېواد د کثير الانتشار ورځپاڼو په يوې کې خپارۀ کړي.

۳-خپل مالي صورت حسابونه او رپوټونه په افغانستان کې د خپلو ټولو نمايندګيو په ليد وړ ځای کې د مالي کال تر پايته رسېدو پورې وساتي.

۴- ددې مادې د (۴) فقرې په (۱) جزء کې د درج شوو مالي صورت

نماید:

۱- مجموعۀ صورت حسابات مالی و پروفورمه حسابات مالی بررسی شدۀ دفتر نمایندگی های خویش در افغانستان را توأم با گزارش بررس خارجی، برای سال گذشتۀ مالی تکمیل شده، حداکثر در خلال مدتی که گزارش و صورت حسابات مالی متذکره را به مراجع ذیصلاح در کشور اصلی خود می سپارد، به دافغانستان بانک تسلیم نماید.

۲- صورت حسابات مالی و گزارشات مندرج جزء (۱) این فقره را در خلال مدت (۱۵) روزاز تسلیمی به دافغانستان بانک، دریکی از روزنامه های کثیر الانتشار کشور نشر نماید.

۳- صورت حسابات مالی و گزارشات خویش را در محل قابل دید، در تمامی نمایندگی های خویش در افغانستان الی ختم سال مالی نگهداری نماید.

۴- نقل صورت حسابات مالی وگزارشات مندرج جزء (۱) فقرۀ (۴)

حسابونو او رپوټونو نقل د اشخاصو د غوښتنې په صورت کې د هغوی په واک کې ورکړي او د وړاندې کولو په بدل کې يې، مناسب اُجرت چې د نوموړي خدمت دعرضې لپاره له اداري لګښتونو څخه زيات نه وي، وغواړي.

(۵) که چېرې پدې ماده کې په درج شوو رپوټونوکې عمده تېروتنې وموندل شي، بانک مکلف دی موضوع په لنډ وخت کې د دافغانستان بانک ته خبرورکړي او نوموړی رپوټ تصحيح او خپور کړي.

د دافغانستان بانک او بهرني بررس ترمنځ غونډې

شپږ نوي يمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی، د زمان په ټاکلي واټن کې او لږترلږۀ په کال کې يوځل له هر بانک يا د هغۀ بهرني بانک له نمايندګۍ سره چې په افغانستان کې فعاليت کوي اودهغوی له بهرني بررس سره درې اړخيزې غونډې جوړې کړي او د دافغانستان بانک په

این ماده را در صورت مطالبۀ اشخاص در اختيار آنها قرار داده، در بدل عرضۀ آن اجرت مناسبی را که از مصارف اداری جهت عرضۀ خدمت مذکور بيشتر نباشد، تقاضا نمايد.

(۵) هرگاه درگزارشات مندرج اين ماده اشتباهات عمده دريافت گردد، بانک مکلف است موضوع را به اسرع وقت به دافغانستان بانک اطلاع و گزارش مذکور را تصحيح و نشر نمايد.

جلسات ميان د افغانستان بانک و بررس خارجی

مادۀ نود وششم:

(۱) دافغانستان بانک مکلف است، در فاصله زمان معين و حداقل سال يکبار جلسات سه جانبه را با هر بانک يا نمايندگی بانک خارجی که در افغانستان فعاليت می کند و بررس خارجی آنها تدوير نموده و موضوعات مربوط به

څارنيزو مسئوليتونو پـوري اړونـدې موضوعګانې چې د بانک د بررسـۍ د دورې په ترڅ کې رامنځته کېږي، تـر بحث لاندې ونيسي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، د اړتيا له مخې او د خپلو مکلفيتونـو د ترسره کولـو لپـاره ددې قـانون د حکمونو مطابق، د بانک له بهرني بررس او په افغانستان کې د بهرنيو بانکونو له فعالو نمايندګيو سـره، دوه اړخيـزې غونډې جوړې کړي.

مسئوليت های نظـارتی دافغانسـتان بانـک را کـه در خـلال دورهٔ بررسی بانک بوجود می آيد، مـورد بحث قرار دهد.

(۲) دافغانستان بانک می تواند، حسب ضرورت و جهت انجام مکلفيت های خود مطـابق احکـام ايـن قـانون، جلسات دو جانبه را با بررس خارجی بانک و نمايندگی های بانـک هـای خارجی فعال در افغانسـتان، تـدوير نمايد.

نهم فصل

رپوټ ورکونه

د بانک په واسطه رپوټ ورکونه

اووه نوي يمه ماده:

(۱) هغه بانک چې د افغانسـتان پـه قلمروکې فعاليت کوي، مکلف دی، په لاندې مواردو کې رپوټونه ترتيب اود د افغانستان بانک ته يې وړاندې کړي:

۱- دبانک او د تابع او ور پورې تړلو شرکتونو د پانګې دبسـنې (تکـافو)، مالي استطاعت او توانمنۍ د وضـعيت

فصل نهم

گزارش دهی

گزارش دهی توسط بانک

مادهٔ نود وهفتم:

(۱) بانکی که در قلمـرو افغانسـتان فعاليت می نمايـد، مکلـف اسـت، در موارد ذيل گزارشـات را ترتيـب و به دافغانستان بانک ارائه نمايد:

۱- وضـعيت مـالی بـه شـمول وضـعيت تکـافوی سـرمايه، استطاعت مـالی و توانـائی بانـک

په شمول، مالي وضعيت.
۲- د سياليت وضعيت.
۳- اداره او عمليات.
۴-دنه ترلاسه کېدو وړ او نه ترلاسه شوي پورونه اوتخصيص شوي مالي زېرمې.
۵- د بهرنيو اسعارو وضعيت.
٦- د تکتاني نرخ.
۷- پولي احصائيه.
۸- د ملاحظې وړ عرضه شوي مالي اعتبارات او اسانتياوې.
۹- دبين المللي احصائيوي او څارنيزو منل شوو معيارونو او تګلارو سره په مطابقت کې په اړونده مقرره کې له درج شوي تجويز سره سم، نور رپوټونه.
۱۰- اسلامي بانک دمتعارفو بانکونو په نسبت د متفاوتو فعاليتونو پربناء د خپلو فعاليتونو په اړه اضافي رپوټونه وړاندې کوي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو رپوټونو د ترتيبولو ډول او مشخصات او د هغو د تسليمۍ وخت،

و شرکت های تابع و وابسته.
۲- وضعيت سياليت.
۳- اداره وعمليات.
۴- قروض غيرقابل حصول وحاصل ناشده و ذخاير مالی تخصيص يافته.
۵- وضعيت اسعار خارجی.
٦- نرخ تکتانه.
۷- احصائيهٔ پولی.
۸-اعتبارات و تسهيلات مالی عرضه شدهٔ قابل ملاحظه.
۹- ساير گزارشات حسب تجويز مندرج مقررهٔ مربوط درمطابقت با معيارها و شيوه های پذيرفته شدهٔ احصائيوی و نظارتی بين المللی.
۱۰- بانک اسلامی بنابر فعاليت های متفاوت نسبت به بانک های متعارف گزارشات اضافی در رابطه به فعاليت های خود ارائه می نمايد.
(۲) نحوه و مشخصات ترتيب گزارشات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده و ميعاد تسليمی آن، در مقرره های

د دافغانستان بانک په مقـــررو کـــې، تنظیمېږي.

(۳) د نامېشت بانک کورنۍ فرع او د نمایندګۍ دفتر، د دافغانستان بانک ته دخپلې ادارې او عملیاتو په هکلـــه د رپوټ په ترتیبولو او وړانـــدې کولـــو مکلف دي، د نومـــوړي رپـــوټ ډول اومشخصات او دهغهٔ د وړاندې کولو وخت په اړونده مقرره کې، تنظیمېږي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي، د بانک، مالي مؤسسې او دهغو د استازي پر وړاندې د نا بشپړ او ناسم رپوټ د وړاندې کولو، په رپوټ ورکونه کې د ځنډ، د غلط او بـــې لارې کـــوونکي رپوټ دوړاندې کولو په صورت کې، ددې قانون په یوسلو اتمه ماده کـــې د درج شوي حکم مطابق اقدام وکړي.

(۵) پـــدې مـــاده کـــې درج شـــوي حکمونه تر هغو حدودو پورې چـــې د دافغانستان بانک یې مناسب تشـــخیص کړي، په افغانستان کـــې پـــر فعـــالې غیر بانکي مالي مؤسسې او د هغې پـــه استازي باندې هم د تطبیق وړ دي، خو

دافغانســـــتان بانـــــک، تنظـــــیم می گردد.

(۳) فرع داخلی و دفتر نمایندگی بانک غیـــرمقیم مکلـــف بـــه ترتیـــب و ارایهٔ گزارش درمورد اداره وعملیات خود به دافغانستان بانک می باشـــند. نحوه و مشخصات گزارش مـــذکور و میعاد ارایهٔ آن در مقررهٔ مربوط ، تنظیم می گردد.

(۴) دافغانستان بانک می تواند، علیه بانـــک، مؤسســـهٔ مـــالی و نماینـــدهٔ آنهـــا در صـــورت ارایـــهٔ گـــزارش نامکمـــل ونادرســـت، تـــأخیر در گـــزارش دهـــی، ارائـــه گزارش غلط و گمراه کننده، مطـــابق حکم منـــدرج مـــادهٔ یکصدوهشـــتم این قانون اقدام نماید.

(۵) احکام منـــدرج ایـــن مـــاده تـــا حـــدودی کـــه دافغانســـتان بانـــک مناسب تشخیص نماید، برمؤسسهٔ مالی غـــیر بانکـــی فـــعال در افغانستان و نمایندهٔ آن نیز قابل تطبیق می باشد، مگر این کـــه توســـط د افغانســـتان

داچې د دافغانستان بانک پر واسطه لدې امر څخه مستثني شوي وي.

بانک از این امر مستثنی گردیده باشد.

د احصائيوي معلوماتو انسجام

اته نوي يمه ماده:

(۱) بانکونه اونورې مالي مؤسسې او د هغو استازي او نور شرکتونه او سازمانونه چې د اعتباراتو په ورکولو بوخت دي، مکلف دي، د افرادو او يا ځانګړو شرکتونو د معاملو په هکله معلومات راټول، د څارنيزو دندو او پاليسۍ په اړه احصايې تنظيم او د دافغانستان بانک يا نورو هغو ادارو چې د دافغانستان بانک يې مجاز ګڼي، په واک کې ورکړي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی، له بانکونو او نورو مالي مؤسسو څخه ترلاسه شوي احصائيوي مجموعي معلومات د بين المللي مؤسسو په وړاندې د اړوندو مسئوليتونو په ترسره کولو کې د عامه ضرورت وړ اړتياوو مطابق، راټول او تنظيم کړي.

انسجام معلومات احصائیوی

مادۀ نود وهشتم:

(۱) بانک ها و سایر مؤسسات مالی و نمایندگان آنها وسایر شرکت ها و سازمان های که مصروف اعطای اعتبارات می باشند، مکلف اند، معلومات در مورد معاملات افراد و یا شرکت های خاص جمع آوری احصائیه ها دررابطه به وظایف نظارتی و پالیسی راتنظیم و دراختیار دافغانستان بانک یا سایر اداراتی که دافغانستان بانک مجاز می داند، قرار دهند.

(۲) دافغانستان بانک مکلف است، معلومات مجموعی احصائیوی دریافت شده از بانک ها وسایر مؤسسات مالی رامطابق نیازمندی های مورد ضرورت عامه در ایفای مسئولیت های مربوط در قبال مؤسسات بین المللی جمع آوری و تنظیم نماید.

(۳) د دافغانستان بانک نشي کولای، له قانوني مواردو څخه پرته هغه احصائيوي معلومات چې دهغو له امله د اشخاصو او شرکتونو شهرت او هويت عامو خلکو ته افشاء شي، نورو اشخاصو ته افشاء کړي، افشاء کوونکی دقانون د حکمونو مطابق مجازات کېږي، خوداچې معلومات دمخه د عامو خلکو په واک کې يا د خصوصي ثبت د دفتر يا د عامه اعتباراتو دثبت د دفتر د اړوندو دندو دترسره کولو لپاره، ورکړل شوي وي.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي، د څارنيزو دندو دترسره کولولپاره، ددې مادې په (۱ او۲) فقروکې درج شوي معلومات، هغو ناظرينو او واکمنو مقاماتو ته چې د قانون او د بانکي او مالي سندونو د محرميت په ساتلو پورې داړوندو مقررو دحکمونو مطابق د نوموړو معلوماتو د ترلاسه کولو د اجازې لرونکي وي، وړاندې کړي.

(۳) دافغانستان بانک نمی تواند، معلومات احصائيوی را که در اثر آن شهرت وهويت اشخاص و شرکت ها افشاء شود، به جز از موارد قانونی به ساير اشخاص افشاء نمايد، افشاء کننده طبق احکام قانون مجازات می گردد، مگر اينکه معلومات قبلاً در اختيار عموم مردم يا جهت انجام وظايف مربوط به دفتر ثبت خصوصی و دفتر ثبت اعتبارات عامه قرار گرفته باشد.

(۴) دافغانستان بانک می تواند، جهت انجام وظايف نظارتی، معلومات مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده رابه ناظرين ومقامات ذيصلاح که طبق احکام قانون، مقرره های مربوط به حفظ محرميت اسناد مالی و بانکی، اجازهٔ حصول معلومات مذکور را دارا می باشد، ارائه نمايد.

څارنه

نهه نوي يمه ماده:

(۱) کورنی بانک، تابع او ورپورې ترلي شرکتونه، دهغهٔ نامېشت بانک فرع او د نمايندګۍ دفتر چې په افغانستان کې فعاليت کوي، د دافغانستان بانک د څارونکو يا هغو بررسانو په واسطه چې د دافغانستان بانک لخوا انتصابېږي، څارل کېږي.

(۲) د کورني بانک بهرني تابع او ور پورې ترلي شرکتونه، يا د هغهٔ نامېشت بانک فرع يا د نمايندګۍ دفتر چې په افغانستان کې فعاليت کوي، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو څارونکو يا بررسانو په واسطه چې د دافغانستان بانک او نومورې مرجع ترمنځ دعقد شوي موافقه ليک مطابق د بهرنۍ واکمنې مرجع په واسطه ټاکل شوي اشخاص پکې شامل دي، څارل کېږي.

(۳) د دافغانستان بانک او د هغهٔ څارونکی ددې مادې په (۱ او ۲) فقروکې د درج شوو حکمونو د تطبيق

نظارت

مادهٔ نود ونهم:

(۱) بانک داخلی، شرکت های تابع و وابسته، فرع و دفتر نمايندگی بانک غيرمقيم که درافغانستان فعاليت می نمايند، توسط نظارت کنندگان دافغانستان بانک يا بررسان که از طرف دافغانستان بانک تعيين می شوند، نظارت می گردند.

(۲) شرکت های تابع و وابستهٔ خارجی بانک داخلی، يا فرع و دفتر نمايندگی بانک غيرمقيم که در افغانستان فعاليت می نمايند، توسط نظارت کنندگان يا بررسان مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده که شامل اشخاص تعيين شده توسط مرجع ذيصلاح خارجی طبق توافقنامهٔ منعقده بين دافغانستان بانک ومرجع متذکره می باشد، نظارت می گردد.

(۳) دافغانستان بانک و نظارت کنندهٔ آن جهت تطبيق احکام مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده، دارای

لپاره، د لاندې واکونو لرونکي دي:

۱- دبانک دفتر یا د هغهٔ تابع یا ورپورې ترلي شرکت ته ننوتل او د بانک یا د هغهٔ د تابع او ورپورې ترلي شرکت د حسابونو، دفترونو، سندونو او نورو مدارکو پلټنه.

۲- د نظار هیئت او عامل هیئت یا ورته نورو تشکیلاتو له غړو، د بانک یا د هغهٔ د تابع یا ورپورې ترلي شرکت له کارکوونکو او استازي څخه د بانک یا دهغهٔ د تابع یا ورپورې ترلي شرکت د ادارې اوفعالیتونو داړوندو موضوعګانو په اړه، د معلوماتو ترلاسه کول.

(۴) کورنی بانک تابع، ورپورې ترلي شرکتونه، کورنی دفتر او فرع یا دهغه نمایندګي مکلف دي، هغهٔ څارونکي یا بررس ته چې د دافغانستان بانک لخوا انتصابېږي، خپلو دفترونو ته د ننوتلو اجازه ورکړي او د دندو په ترسره کولوکې ور سره همکاري وکړي.

(۵) د دافغانستان بانک کولای شي، له اړتیا سره سم، دبانک یا دهغو دتابع یا ورپورې ترلو شرکتونو حسابونو،

صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- ورود به دفتر بانک یا شرکت تابع یا وابستهٔ آن و تفتیش حساب ها، دفاتر، اسناد و سایر مدارک بانک یا شرکت تابع و وابستهٔ آن.

۲- کسب معلومات از اعضای هیئت نظار و هیئت عامل یا سایر تشکیلات مشابه، کارکنان و نمایندهٔ بانک یا شرکت تابع یا وابستهٔ آن در مورد موضوعات مربوط به اداره و فعالیت های بانک یا شرکت تابع یا وابستهٔ آن.

(۴) بانک داخلی شرکت های تابع، وابسته، دفتر و فرع داخلی یا نمایندگی آن مکلف اند، به نظارت کننده یا بررسی که ازطرف دافغانستان بانک انتصاب می گردد، اجازهٔ ورود به دفاتر خود را داده و در انجام وظایف آنها را همکاری نمایند.

(۵) د افغانستان بانک می تواند، حسب ضرورت، جهت دسترسی به حسابات، دفاتر و سایر اسناد بانک یا

دفترونو او نورو سندونو ته د لاسرسي لپاره، د قوانينو د تنفيذ له مراجعو څخه، د همکارۍ غوښتنه وکړي.

(٦) ددافغانستان بانک نشي کولای، داشخاصو يانورو ادارو د غوښتنې پربنسټ د بانک، دهغو د تابع، ورپورې تړلي شرکت او فرع يا د نمايندگۍ ددفتر په بررسۍ، د رپوټ په برابرولو او ترتيبولو اوداطلاعاتو په وړاندې کولو اقدام وکړي،خوداچې پدې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي يا د واکمنې محکمې په واسطه تجويز شوي وي او يا دبهرني بانک د واکمنې مرجع لخوا داسې غوښتنې صورت موندلی وي.

(۷) ددافغانستان بانک مکلف دی، د خپلې بررسۍ رپوټ برابر او دهغهٔ يو نقل د بانک، دهغهٔ د تابع يا ورپورې تړلي شرکت، فرع يا د نمايندگۍ دفتر د بررسۍ له پايته رسېدو وروسته د دريو مياشتو مودې په ترڅ کې، بانک، تابع شرکت، ورپورې تړلي شرکت يا نوموړي دفتر ته وړاندې کړي.

شرکت های تابع يا وابستهٔ آن از مسئولين مراجع تنفيذ قوانين، تقاضای همکاری نمايد.

(٦) دافغانستان بانک نمی تواند، براساس درخواست اشخاص يا ساير ادارات به بررسی بانک، شرکت تابع، وابسته وفرع يا دفتر نمايندگی آن، تهيه و ترتيب گزارش و ارايهٔ اطلاعات اقدام نمايد، مگراينکه درايـن قانون طوری ديگری تصريح گرديده يا توسط محکمهٔ ذيصلاح تجويز اتخاذ گرديده باشد و يا از طرف مرجع ذيصلاح بانک خارجی چنين تقاضائی صورت گرفته باشد.

(۷) د افغانستان بانک مکلف است، گزارش بررسی خود را تهيه و يک نقل آن را در خلال مدت سه ماه بعد از اتمام بررسی بانک، شرکت تابع يا وابسته، فرع يادفتر نمايندگی آن به بانک، شرکت تابع، شرکت وابسته يا دفتر مذکور ارائه نمايد.

لسم فصل
اصلاحي او تنفيذي فوري اقدامات

د پانګې د کمښت دوضعيت خبرتيا

سلمه ماده:

(۱) که چېرې بانک د پانګې د کمبود، کتنې وړ کمبود يا حاد کمبود په وضعيت کې راشي، مکلف دی موضوع په لنډ وخت کې په ليکلې توګه د دافغانستان بانک ته خبر ورکړي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، خپلې محاسبې ته په کتو سره ددې مادې په (۱) فقره کې د کمبود له درج شوو حالاتو څخه هريو په بانک کې تشخيص کړي او په هکله يې په لنډ وخت کې نوموړي بانک ته په ليکلې توګه خبر ورکړي.

د پانګې د رغونې پلان

يوسلو يوه يمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی، د

فصل دهم
اقدامات اصلاحی و تنفیذی فوری

اطلاعیهٔ وضعیت کمبود سرمایه

مادهٔ صدم:

(۱) هرگاه بانک در وضعیت کمبود، کمبود قابل ملاحظهٔ یا کمبود حاد سرمایه قرار گیرد، مکلف است موضوع را به اسرع وقت طور کتبی به دافغانستان بانک اطلاع دهد.

(۲) دافغانستان بانک می تواند، نظر به محاسبهٔ خویش هر یکی از حالات کمبود مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را در بانک تشخیص نموده و در مورد آن به اسرع وقت به بانک مذکور طور کتبی اطلاع دهد.

پلان احیای سرمایه

مادهٔ یکصد ویکم:

(۱) دافغانستان بانک مکلف است، بعد

دې قانون په سلمه ماده کــې د درج شوې خبرتیا له ترلاسه کولویاصادرولو وروسته، له لاندې دستورونو څخــه د یوۀ د صادرولو لپاره د خپل تصمیم په اړه بانک ته خبرتیا صادره کړي:

۱- د دافغانستان بانک ته د تصویب په غرض د بانک د پانګې د رغونې دپلان وړاندې کول یا له احوالو سره ســم د پانګې د رغونې د دمخه وړاندې شوي پلان بیاکتنــه، پــه هغــۀ ډول چــې ددافغانستان بانک لپاره د منلو وړ وي.

۲- د دافغانستان بانک له تشــخیص سره سم، ددې قــانون پــه یوســلو دوه یمه، یوسلو درېیمــه او یوســلو څلورمه ماده کې د درج شوو حکمونو د یوۀ په تطبیقولــو بانــدې د بانــک مکلفول.

(۲) بانک مکلف دی، ددې مــادې د (۱) فقرې په (۱) جــزء کــې د درج شوې پانګې د رغونې پلان، جزئیــات، تر ټاکلي حدپورې د پانګې د رغــونې ډول او هغو ته د لاس رسۍ وخــت او موده، مشخص کړي.

از دریافت یا صدور اطلاعیۀ منــدرج مادۀ صدم این قانون، اطلاعیۀ کتبــی مبنی برتصمیم خویش جهت اصــدار یکی از دساتیر ذیل را به بانک صادر نماید:

۱- ارایــۀ پــلان احیــای ســرمایۀ بانک غرض تصویب بــه دافغانســتان بانک یــا بــازنگری پــلان احیــای سرمایۀ ارائــه شــدۀ قبلــی حســب احــوال بــه نحــوی کــه بــرای دافغانستان بانک قابل قبول باشد.

۲- مکلــف ســاختن بانــک بــه تطبیق یکی از احکام منــدرج مــواد یکصــدو دوم، یکصدوســوم و یکصــدوچهارم ایــن قــانون، حســب تشــخیص دافغانســتان بانک.

(۲) بانک مکلف است، پلان احیــای سرمایۀ مندرج جزء (۱) فقرۀ (۱) این ماده، جزئیات، نحوۀ احیای سرمایه تا حد معینه ومــدت زمــان دســتیابی بــه آنهــا را مشــخص نماید.

د پانګې له کمبود سره پرمخامخ بانک باندې د تطبیق وړ محدودیتونه

یو سلو دوه یمه ماده:

(۱) د پانګې له کمبود سره مخامخ بانک نشي کولای لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱–ددافغانستان بانک له دمخه لیکلې اجازې پرته دنوو فعالیتونو ترسره کول.

۲– له پنځه سلنې څخه د زیات خطر پربنسټ دعیارو شوو شتمنیو زیاتوالی.

په بیلانس شیټ کې شامل یا بهر هغه اقلام او شتمنۍ چې دهغو د خطر اندازه سنجول شوې ده، هم په نوموړو شتمنیو کې شاملې دي.

۳– د پانګې په وېشلو اقدام.

۴– د نظار هیئت یا عامل هیئت غړو ته د پولي اختیاري امتیازاتو ورکړه.

(۲)ددې قانون په یوسلودرېیمه ماده کې درج شوي محدودیتونه پر هغهٔ بانک چې دپانګې له کمبود سره مخامخ دی اوتر ټاکلې مودې پورې

محدودیت های قابل تطبیق بربانک مواجه به کمبود سرمایه

مادهٔ یکصد ودوم:

(۱) بانک مواجه به کمبود سرمایه نمی تواند به اقدامات ذیل مبادرت ورزد:

۱– انجام فعالیت های جدید بدون اجازهٔ قبلی کتبی دافغانستان بانک.

۲– افزایش دارائی های عیار شده به اساس خطر بیش از پنج فیصد.

اقلام ودارائی های شامل یا خارج بیلانس شیت که اندازهٔ خطر آنها سنجش شده است، نیز شامل دارائی های متذکره می باشد.

۳– اقدام به توزیع سرمایه.

۴– پرداخت امتیازات پولی اختیاری به اعضای هیئت نظار وهیئت عامل.

(۲) محدودیت های مندرج مادهٔ یکصد وسوم این قانون بر بانکی که با کمبود سرمایه مواجه است و الی میعاد معینهٔ پلان قابل قبول جهت

يې دپانګې د رغونې لپاره دمنلو وړ پلان د دافغانستان بانک ته نه وي وړانـدې کړی يايې د تصويب شوي پـلان پـه تطبيق کې قصورکړی وي، هم د تطبيق وړ دي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شـي، ددې قانون په يوسلودرېيمه ماده کـې درج شوي محدوديتونه د پـانګې لـه کمبود سره پرمخامخ بانک باندې وضع کړي، خوداچې د دافغانستان بانک ته ثابته شي چې ددغو محدوديتونو وضع کول ددافغانستان بانک دتصويب شوې پانګې د رغونې د بريالي تطبيق لپـاره، اړين دي.

دپانګې له کتنې وړ کمبـود سـره پرمخامخ بانک باندې د تطبيق وړ محدوديتونه

يوسلو درېيمه ماده:

د پانګې له کتنـې وړ کمبـود سـره مخامخ بانک نشي کولای، ددې قانون د يوسلو دوه يمې مادې په (۱) فقـره کې پردرج شـوواقداماتو برسـېره، د

احياى سرمايه را به د افغانستان بانک ارائـه ننمـوده يـا در تطبيـق پلان تصويب شـده قصـور نمـوده باشـد، نيـز قابـل تطبيـق است.

(۳) د افغانستان بانک مـی توانـد، محـدوديت هـای منـدرج مـادهٔ يکصد وسوم اين قانون را بر بانـک مواجه به کمبود سرمايه وضع نمايـد، مگر اينکه به دافغانستان بانک ثابـت گردد که وضع اين محدوديت ها برای تطبيق موفقانهٔ پلان احيـای سـرمايه تصويب شـدهٔ دافغانسـتان بانـک، ضروری می باشد.

محدوديت های قابل تطبيق بربانک مواجه به کمبودقابـل ملاحظـهٔ سرمايه

مادهٔ يکصد وسوم:

بانـک مواجـه بـه کمبـود قابـل ملاحظهٔ سرمايه نمی توانـد، عـلاوه بـر اقـدامات منـدرج فقـرهٔ (۱) مادهٔ يکصدودوم اين قانون بدون اجازهٔ

دافغانستان بانک له لیکلـــې اجـــازې پرته په لاندې اقداماتو هم لاس پـــورې کړي:

۱- د سپارنو لپاره د مارکېټ د نـــرخ په نسبت د زیاتې تکتانې ورکړه.

۲- په هره ربع کې، له یوۀ اعشـــاریه پنځه ویشت ســـلنې (۱,۲۵) څخـــه زیات، دخطر پـــه نســـبت دتعـــدیل شووشتمنیو زیاتول.

په بېلانس شیټ کې شامل یا بهر هغـــه اقلام او شتمنۍ چې د خطر اندازه یـــې سنجول شوې ده، په نوموړو شـــتمنیو کې شاملې دي.

۳- د نظار هیئت او عامل هیئت غړو ته د معاشونو یا امتیازونو زیاتول او د هڅوونکي معاش ورکول.

۴- په بانک پورې له تړلواشخاصوسره معامله.

۵- په بانک پورې دتړلـــو اشخاصـــو حساب ته د وجوهو لېږدول.

٦- له معامله لرونکي بانک څخـــه د سپارنې منل یا د موجودو سپارنو نوي کول یاپې بل حساب ته لېږدول.

کتبـــی قبلـــی دافغانســـتان بانـــک بـــه اقـــدامات ذیـــل نیزمبـــادرت ورزد:

۱- پرداخت تکتانۀ بیشتر نسبت بـــه نرخ مارکیت برای سپرده ها.

۲- افزایش دارائی های تعدیل شـــده نسبت به خطر بیش از یک اعشـــاریه بیست و پنج (۱,۲۵) فیصد در هـــر ربع.

اقلام ودارائی های شامل یـــا خـــارج بیلانس شیت که اندازۀ خطـــر آنهـــا سنجش شده است، شامل دارائی های متذکره می باشد.

۳- افزایش معاشات یـــا امتیـــازات و اعطای معاش تشویقی به اعضای هیئت نظار و هیئت عامل.

۴- معاملـــه بـــا اشـــخاص وابســـتۀ بانک.

۵- انتقال وجوه به حساب اشـــخاص وابسته بانک.

٦- قبول سپرده ازبانک معامله دار یا تجدید سپرده های موجود یا انتـــقال آنهابه حساب دیگر.

په ځينو بانکونو باندې د تطبيق وړ اضافي تدبيرونه

يو سلو څلورمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک کولای شي، هغه بانک چې د پانګې له کمبود يا د پانګې له کتنې وړ کمبود سره مخامخ دي او د پانګې د پر وخت نوي کولو د پلان په وړاندې کولو قادر نه دی يا يې ددافغانستان بانک دتصويب شوې پانګې د نوي کېدو پلان په مناسبه توګه نه وي عملي کړی، دلاندې يوهٔ يا له يوهٔ څخه د زياتو اقداماتو په ترسره کولو مکلف کړي:

۱- د خپلو وندو کافي اندازه د پلورلو لپاره وړاندې کړي، څو دهغو له پلورلو څخه وروسته، بانک کافي پانګه ولري.

۲- د يوهٔ متبوع بانک لخوا تصاحب شي يا له يوهٔ بل بانک سره مدغم شي.

۳- هغه فعاليت چې د بانک يا د هغهٔ د تابع يا ورپورې تړلي

تدابير اضافی قابل تطبيق بر بعضی از بانک ها

مادهٔ يکصد وچهارم:

(۱) دافغانستان بانک می تواند، بانکی را که با کمبود سرمايه يا کمبود قابل ملاحظهٔ سرمايه مواجه است و قادر به ارايهٔ پلان به موقع تجديد سرمايه نبوده يا پلان تجديد سرمايهٔ تصويب شدهٔ دافغانستان بانک را طور مناسب عملی ننموده باشد، به اتخاذ يک يا بيش از يکی از اقدامات ذيل مکلف نمايد:

۱- مقدارکافی ازاسهام خويش راجهت فروش عرضه نموده تا بعد از فروش آن، بانک سرمايهٔ کافی داشته باشد.

۲- از جانب يک بانک متبوع تصاحب شود يا با يک بانک ديگر مدغم گردد.

۳-فعاليتی که توسط بانک، ياشرکت تابع يا وابسته آن

شرکت په واسطه ترسره کېږي او د دافغانستان بانک د تشخیص پربنسټ، دغه شان فعالیت بانک له جدي خطر سره مخامخ کوي، بدل یا کم کړي یايې لغو کړي.

۴- د نظار هیئت یا عامل هیئت یو غړی عزل یا تعویض کړي یا له احوالو سره سم په کُلي ډول د نظار نوی هیئت یا عامل هیئت غوره کړي. ددې قانون په یوسلواتمه ماده کې درج شوي حالتونه لدې حکم څخه مستثني دي.

۵- دبانک د تابع یا ورپورې تړلو شرکتونو پلورل یا انحلال چې د دافغانستان بانک د تشخیص پربنسټ وخیم مالي وضعیت ولري او بانک له جدي خطر سره مخامخ کړي.

٦- د هغو نورو اقداماتو ترسره کول چې د دافغانستان بانک د تشخیص پربنسټ، پوره پانګې ته د لاس رسی لپاره، اړین ګڼل کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې قانون په یو سلو اتمه ماده کې له درج شوي حکم سره په مطابقت کې،

انجام می گردد و بنابرتشخیص دافغانستان بانک چنین فعالیت، بانک را باخطر جدی مواجه می سازد، تغییر یا کاهش دهد یا لغو نماید.

۴- یکی از اعضای هیئت نظار یا هیئت عامل را عزل یا تعویض نموده یا بطورکلی هیئت نظار یاهیئت عامل جدید را حسب احوال انتخاب نماید. حالات مندرج مادۀ یکصد وهشتم این قانون از این حکم مستثنی می باشد.

۵- فروش یا انحلال شرکت های تابع یا وابستۀ بانک که بنابر تشخیص دافغانستان بانک به وضعیت مالی وخیم قرار داشته و بانک را به خطر جدی مواجه سازد.

٦- اتخاذ سایر اقداماتی که بنابر تشخیص دافغانستان بانک جهت دستیابی به سرمایۀ کافی، ضروری پنداشته می شود.

(۲) دافغانستان بانک می تواند، درتمام احوال دستور عزل شخص مذکور را درمطابقت با حکم مندرج

په ټولوحالتونوکې د یادشوي شـــخص دعزل دستور صادر کړي.

مادۀ یکصد وهشتم این قانون را صادر نماید.

د پانګې له کمبود، کتنې وړ اوحاد کمبود سره د مخامخ بـــانکونو د غوښتنلیکونو د تأیید شرایط

شرایط تائید درخواســـت هـــای بانک های مواجه به کمبود، کمبود قابل ملاحظه و حاد سرمایه

یو سلو پنځمه ماده:

د دافغانستان بانک کـــولای شـــي، د وړاندې شوي غوښتنلیک په اړه،ددې قانون د یو سلو دوه یمې مادې د (۱) فقرې په (۱ او۲) اجزاوو کـــې درج شوې لیکلې اجازه یا په یو سلو درېیمه ماده کې درج شوی حکم یوازې پـــه لاندې حالاتوکې صادر کړي:

۱- پـــه هغـــۀ صـــورت کـــې چـــې د دافغانستان بانک، دبانک د پانګې د رغونې په پلان یا په هغۀ کـــې اړیـــن تعدیلات، تصویب کړي وي.

۲- پـــه هغـــۀ صـــورت کـــې چـــې د دافغانستان بانک ډاډه شي چې بانک ددې مـــادې پـــه (۱) جـــزء کـــې درج شوی پـــلان پـــه مناســـب ډول تطبیقوي او تر ټاکلې وخته پورې د پلان

مادۀ یکصد وپنجم:

دافغانستان بانک می تواند، اجازۀ کتبی مندرج اجزای (۱ و۲) فقرۀ (۱) مادۀ یکصد ودوم یا حکم منـــدرج مـــادۀ یکصد وسوم این قانون را در رابطه به درخواست ارائـــه شـــده صـــرف در حـــــالات ذیـــــل صـــــادر نماید:

۱- درصورتی که دافغانستان بانـــک پلان احیای سرمایۀ بانک یا تعـــدیلات ضـــروری در آن را تصـــویب کـــرده باشد.

۲- در صورتی که دافغانستان بانـــک اطمینان حاصل نماید که بانک پـــلان مندرج جزء (۱) این ماده را به طـــور مناسب تطبیق می نماید و قادر به تحقق اهـــداف پـــلان الـــی میعـــاد معینـــه

دموخو په پلي کولو قادر دی.

۳- پــه هغــۀ صــورت کــې چــې د دافغانستان بانک ډاډه شــي چــې وړاندیز شوي اقدامات له پلان ســره مطابقت لري او د نوموړو موخو د پلي کېدو موجب ګرځي.

د پانګې له حادکمبود ســره پــه مخامخ بانکپورې مرتبط تدبیرونه

یوسلوشپږمه ماده:

(۱) که چېرې بانک د پانګې له حــاد کمبود سره مخامخ شي، د دافغانستان بانک مکلف دی، دبانک د پــانګې د حاد کمبود دخبرتیا یا تشــخیص لــه ترلاسه کولو وروسته زیات نه زیات د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کــې، لــه احوالو سره سم، د بانک لپاره متولي یا د تصفیې مدیر انتصاب کړي.

(۲)د پانګې له حاد کمبود سره مخامخ بانک، د متولي یا د تصفیې د مــدیر د انتصاب تر وخته پورې ددې قانون په یوسلو دریمه، یوسلو څلورمه او یوسلو پنځمه مادوکې د درج شوو حکمونو د

می باشد.

۳- در صورتی که دافغانستان بانــک اطمینان حاصل نماید کــه اقــدامات پیشنهادی با پلان مطابقــت داشــته وموجــب تحقــق اهــداف مربــوط می گردد.

تدابیرمرتبط به بانک مواجــه بــا کمبود حاد سرمایه

مادۀ یکصد وششم:

(۱) هرگاه بانک با کمبود حاد سرمایه مواجــه شــود، دافغانســتان بانــک مکلف است، حداکثر در خلال مدت (۳۰) روزبعد از دریافت اطلاعیه یــا تشــخیص کمبــود حــاد ســرمایه بانک، حسب احوال بــرای بانــک متولی یا مــدیر تصــفیه را انتصــاب نماید.

(۲) بانک مواجه با کمبود حاد سرمایه الی زمان انتصاب متولی یا مدیر تصفیه تابع محدودیت های احکام مندرج مواد یکصدو سوم، یکصدو چهارم و یکصدو پــــنجم ایــــن قــــانون

محدوديتونو تابع وي.

(۳) د پانګې له حاد کمبود سره مخامخ بانک نشي کولای، ددې مادې په (۱ او۲) فقروکې ددرج شوي حکم په پام کې نيولوسره په لاندې اقداماتو لاس پورې کړي:

۱- نوې سپارنه ومني.

۲- د خپل مؤخر يا مقدم دين اصل يا تکتانه چې د پانګې د مشخصاتو لرونکي وي، ورکړي.

۳- هغه عمده معاملې چې د بانک له عادي کاري چارو څخه نه ګڼل کېږي د پانګې اچونې، د مالکيتونو د پراختيا او د شتمنيو د پلورلو يا نورو هغو اقداماتو په شمول چې ددې قانون دحکمونومطابق، خبر ورکونه يا د دافغانستان بانک داجازې ترلاسه کول ايجابوي، ترسره کړي.

۴- د خپلې محاسبې په تګلاره کې عمده بدلونونه وارد کړي.

می باشد.

(۳) بانک مواجه با کمبود حاد سرمايه نمی تواند بانظرداشت احکام مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده به اقدامات ذيل مبادرت ورزد:

۱- سپرده جديد را قبول نمايد.

۲- اصل يا تکتانه دين مؤخر يامقدم خويش را که مشخصات سرمايه را دارا می باشد، پرداخت نمايد.

۳- معاملات عمدهٔ که از امور کاری عادی بانک محسوب نمی شود، به شمول سرمايه گذاری، توسعهٔ مالکيت ها و فروش دارائی ها يا ساير اقداماتی که مطابق احکام اين قانون، ايجاب اطلاع دهی يا کسب اجازهٔ دافغانستان بانک را می نمايد، انجام دهد.

۴- تغييرات عمده را در شيوهٔ محاسبهٔ خويش وارد نمايد.

د سرغړونو او د بانک نورو ناخوندي او ناسمو فعالیتونو د ترسره کولو په هکله اقدامات

یو سلو اوومه ماده:

(۱) په بانک کې د بانک یا د نظار هیئت یا عامل هیئت دیوۀ غړی یا د واکمنې استحقاقي ونډې لرونکي شخص یا بل شخص چې دبانک دچارو په اجراء کې دخالت لري، ونډه والتوب (سهم لرل) په لاندې مواردو کې سرغړونه ګڼل کېږي:

۱- ددې قانون، مقررو او لیکلو دستورونو یا هغو موافقه لیکونو چې د دافغانستان بانک ددې قانون د حکمونو مطابق عقد کړي دي، د حکمونو نه رعایت.

۲- دبانکداری دجواز یا اجازه لیکونو د شرایطو یا منضمه محدودیتونو چې د دافغانستان بانک دبانک یاشخص لپاره صادرکړي دي نه رعایت.

۳- په بانک پورې په اړوندو ناخوندي

اقدامات در مورد تخطی ها و انجام سایر فعالیت های غیر مصئون و نا سالم بانک

مادۀ یکصد وهفتم:

(۱) سهیم بودن بانک یا یکی از اعضای هیئت نظار، هیئت عامل یا شخص دارای سهم استحقاقی ذیصلاحیت در بانک یا شخص دیگری که در اجرای امور بانک دخالت دارد، در موارد ذیل تخلف پنداشته می شود:

۱- عدم رعایت احکام این قانون، مقرره ها ودستور های کتبی د افغانستان بانک یا موافقتنامه های که دافغانستان بانک مطابق احکام این قانون منعقد نموده است.

۲- عدم رعایت شرایط یا محدودیت های منضمه جواز بانکداری یا اجازه نامه های که دافغانستان بانک برای بانک یا شخص صادر نموده است.

۳- اشتراک در فعالیت های غیر

او ناسمو فعالیتونو کې ګډون.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شـــي، ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوو سرغړونو په اړه، له احوالو سره ســـم، لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱- له بانک یا له پام وړ شخص سره د اصلاحي اقداماتو په اړه دلیکلي موافقه لیک عقدول.

۲- د دافغانستان بانک د تجویز شوو اصلاحي اقداماتو په ترســـره کولـــو د بانک یا پام وړ شخص د مکلف کولو په اړه دلیکلي دستور صادرول.

۳- د نغدي جریمې د ورکړې په اړه د لیکلي دستور صادرول.

(۳) ددې مادې د (۲) فقرې پـــه (۳) جزءکې درج شوی لیکلی دســـتور د لاندې شرایطو په پام کې نیولو ســـره صادرېږي:

۱-د سرغړونې د شـــدت او خفـــت اندازه.

۲- پر بانک یا سپارونکو بانـــدې لـــه سرغړونې څخه د پیدا شوو وارده یـــا احتمالي اغېزو اندازه.

مصئون و ناسالم مربوط به بانک.

(۲) دافغانستان بانک می توانـــد، در رابطه به تخطی های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده حسب احوال اقدامات ذیل را اتخاذ نماید:

۱- عقد موافقتنامه کتبی در رابطه به اقدامات اصلاحی با بانک یا شـــخص مورد نظر.

۲- صدور دستورکتبی مبنی برمکلف ساختن بانک یاشخص مورد نظر بـــه اتخاذ اقدامات اصلاحی تجویز شـــدهٔ دافغانستان بانک.

۳- صدور دستور کتبـــی مبنـــی بـــر پرداخت جریمه نقدی.

(۳) دســـتور کتبـــی منـــدرج جـــزء (۳) فقـــرهٔ (۲) ایـــن مـــاده بـــا نظرداشـــت شـــرایط ذیـــل صـــادر می گردد:

۱- انـــدازهٔ شـــدت و خفـــت تخطی.

۲- اندازهٔ تأثیرات وارده یا احتمـــالی ناشی از تخطی بر بانـــک و ســـپرده گذاران.

۳- د سرغړونې دعمدي والـــي يـــا د تکرار حدود.

۴- د بانک يا پام وړ شـــخص مـــالي وضعيت.

د عزل دستور

يوسلواتمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک کولای شـــي، د ليکلي دستور په صادرولو سره بانک مکلف کړي، څو دبانک د نظار هيئت يا عامل هيئت غړی چې د دافغانستان بانک د تشخيص پربنسټ، په نوموړي هيئت کې د غړيتوب لپاره د لانـــدې دلايلو پربنسټ مناسب نه ګڼل کېږي، عزل کړي:

۱- ددې قانون په اته پنځوسمه مـــاده کې د درج شوو شرطونو دنه تکميـــل په سبب يې په نوموړي هيئت کـــې د غړيتوب شرايط له لاسه ورکړي وي.

۲-دخپلو سپارل شوو دندو په ترسره کولـــو کـــې يـــې ددې قـــانون پـــه نهه پنځوسمه ماده کې له درج شـــوي حکم څخه د ســـلوک د ډول پـــه اړه

۳- حدود عمدی بودن يـــا تکـــرار تخطی.

۴- وضعيت مالی بانک يا شخص مورد نظر.

دستور عزل

مادۀ يکصد وهشتم:

(۱) دافغانستان بانک می توانـــد، بـــا صدور دستور کتبی، بانک را مکلـــف نمايد تا عضو هيئت نظار ياهيئت عامل بانک راکه بنابر تشخيص دافغانســـتان بانک برای عضويت درهيئت متذکره به اساس دلايل ذيل مناســـب تلقـــی نمـــــی گـــــردد، عـــــزل نمايد:

۱- به سبب عدم تکميل شرايط مندرج مادۀ پنجـــا وهشـــتم ايـــن قـــانون، شرايط عضويت درهيئت مذکور را از دست داده باشد.

۲- در ايفـــای وظـــايف محولـــۀ خـــويش از حکـــم منـــدرج مـــادۀ پنجاه ونهم ايـــن قـــانون در رابطـــه به طـــرز ســـلوک تخطـــی ورزيـــده

سرغړونه کړې وي.

۳- په سرغړونو او ددې قانون د يوسلو اوومې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو ناخوندي او نورو ناسمو فعاليتونو په ترسره کولو کې ونډه وال وي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي ليکلي دستور د صادرولو په وخت کې دسرغړونو شدت يا خفت يا پدې پُست کې د بانک د سپارونکو او دائنينو پرګتو باندې، دهغهٔ د فعاليت له دوام څخه د پيدا شوو ناوړو اغېزو په شمول، د غړي د ناخوندي او ناسمو فعاليتونو ترسره کول په پام کې ونيسي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي دستور کې لاندې مطالب هم تصريح کړي:

۱- د بانک د چارو په ترسره کولو کې د نوموړي شخص (په هر ډول) له ګډون څخه مخنيوی.

۲- په بانک کې د شخص د مستقيمې

باشد.

۳-در تخطی ها و انجام سایر فعالیت های غیرمصئون و ناسالم مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ یکصد وهفتم این قانون سهیم بوده باشد.

(۲) دافغانستان بانک مکلف است، حین صدور دستور کتبی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، شدت یا خفت تخطی ها یا انجام فعالیت های غیر مصئون و نا سالم عضو را به شمول تأثیرات سوء ناشی ازتداوم فعالیت وی در این پست را بر منافع سپرده گذاران و دائنین بانک درنظر گیرد.

(۳) دافغانستان بانک می تواند، در دستور مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مطالب ذیل را نیز تصریح نماید:

۱- ممانعت از اشتراک شخص مذکور (به هر شکل) در انجام امور بانک.

۲- ممانعت از اعمال حق رأی

یا غیر مستقیمې رایې د حق له اعمال څخه مخنیوی.

۳- په بانک کې د هغهٔ له مستقیم یا غیر مستقیم مالکیت څخه د ټول یا یوې برخې په پلورلو یا پرېښودلو باندې د نوموړي شخص مکلف کول.

۴- په عین ګروپ پورې د اړوندو بانکونو یا شرکتونو د هریوهٔ په فعالیتونو کې د پُست د ترلاسه کولو یا د نوموړي شخص له ګډون څخه ممانعت، خو د دافغانستان بانک په لیکلې اجازه.

(۴) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې مادې په(۳)فقره کې درج شوی دستور دهغهٔ شخص پر وړاندې چې وار دمخه یې د بانک د تصفیې د مدیر یا دنظار هیئت یاعامل هیئت د غړي په توګه دنده ترسره کړې ده، هم صادر کړي.

(۵) پدې ماده کې درج شوي حکمونه، د بانک د عین ګروپ د اړوندو شرکتونو د نظار هیئت او عامل هیئت پر غړي باندې هم په عین

مستقیم یا غیر مستقیم شخص در بانک.

۳- مکلف ساختن شخص مذکور به فروش یا واگذاری تمام یا بخشی از مالکیت مستقیم یا غیر مستقیم وی دربانک.

۴- ممانعت از احراز پست یا اشتراک شخص مذکور در فعالیت های هر یک از بانک ها یا شرکت های متعلق به عین گروپ، مگر به اجازهٔ کتبی دافغانستان بانک.

(۴) دافغانستان بانک می تواند، دستور مندرج این ماده را علیه شخصی که قبلاً به حیث مدیر تصفیه یا عضو هیئت نظار یا هیئت عامل بانک ایفای وظیفه نموده است، نیز صادر نماید.

(۵) احکام مندرج این ماده، بر عضو هیئت نظار یا هیئت عامل شرکت های متعلق به عین گروپ بانک، به عین ترتیب نیز قابل تطبیق می

ترتیب سره ، د تطبیق وړ دي.

دجرم په ارتکاب د مظنون شخص د دندې ځنډول

یوسلو نهمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی، په هغهٔ صورت کې چې ددې قانون د یوسلو اتمې مادې په (۱) فقره کې یادشوی شخص دپیسو د وینځلو او د تروریزم د تمویل د جرمونو د فعالیتونو په ارتکاب مظنون وي، پدې هکله د واکمنې محکمې د وروستنۍ پرېکړې تر صادرېدو پورې، د هغهٔ د دندې د ځنډولو او د بانک په فعالیت کې دهغهٔ د ګډون دممانعت په اړه، لیکلی دستور صادر کړي.

له سیاسي او مذهبي فعالیتونو څخه راپیدا شوي جرمونه، لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) ددافغانستان بانک مکلف دی، د نوموړي شخص د محکومیت په اړه د واکمنې محکمې له نهایي پرېکړې څخه وروسته چې د وروستۍ

باشد.

تعلیق وظیفهٔ شخص مظنون به ارتکاب جرم

مادهٔ یکصد ونهم:

(۱) دافغانستان بانک مکلف است، در صورتی که شخص مندرج فقره (۱) مادهٔ یکصد وهشتم این قانون به ارتکاب فعالیت های جرمی مانندپول شوئی وتمویل تروریزم مظنون باشد، الی صدور فیصلهٔ نهائی محکمهٔ ذیصلاح در مورد، دستور کتبی مبنی برتعلیق از وظیفه و ممانعت از اشتراک وی را در فعالیت بانک صادر نماید.

جرایم ناشی از فعالیت های سیاسی و مذهبی از این حکم مستثنی می باشد.

(۲) دافغانستان بانک مکلف است، بعد از فیصلهٔ نهائی محکمهٔ ذیصلاح مبنی بر محکومیت شخص مذکور که

مرافعه طلبی وړ نه وي، ددې قانون د يوسلو اتمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي يوهٔ يا ټولو اجزاوو لرونکي ليکلي دستور په صادرولو سره، هغه له دندې څخه عزل کړي.

د ونډو اجباري پلورل يا پرېښودنه

يوسلولسمه ماده:

که چېرې شخص، ددې قانون په يوسلو اتمه او يوسلو نهمه ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق، دخپلې رأيې د حق لرونکو ونډو په پلورلو يا پرېښودولو مکلف وي، خو د ټاکلې مودې په ترڅ کې يې و نه پلوري يا پرېنږدي، پدې صورت کې د دافغانستان بانک کولای شي د نوموړو ونډو دپلورلو دستور د څرګندې مزايدې يا په هره ډول بله مناسبه تګلاره صادرکړي.

د تنفيذي دستور د صادرېدو ډول

يوسلو يوولسمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک مکلف دی، ددې قانون په يو سلو يوه يمه، يو سلو قابل مرافعه طلبی بعدی نباشد، با صدور دستور کتبی حاوی يک يا تمام اجزای مندرج فقرهٔ (۳) مادهٔ يکصد و هشتم اين قانون، وی را از وظيفه عزل نمايد.

فروش يا واگذاری اجباری اسهام

مادهٔ يکصد ودهم:

هرگاه شخص مطابق احکام مندرج مواد يکصدو هشتم و يکصدونهم اين قانون مکلف به فروش يا واگذاری سهام واجد حق رأی خود باشد، ولی درخلال ميعاد معينه، آن را فروش يا واگذار ننمايد، در اين صورت دافغانستان بانک می تواند دستور فروش سهام مذکور را از طريق مزايدهٔ علنی يا به هر شيوهٔ مناسب ديگر صادر نمايد.

طرز صدور دستور تنفيذی

مادهٔ يکصد ويازدهم:

(۱) دافغانستان بانک مکلف است، درخلال مدت (۱۵) روز

اوومه او یوسلواتمه مادوکې د درج شوو دستورونوله صادرولو څخه دمخه د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې موضوع د لیکلې خبرتیا په صادرولو سره، په دستور کې درج شوي بانک یاشخص ته خبرورکړي. په دستور کې درج شوی بانک یاشخص کولای شي په نوموړي دستور د نه قناعت په صورت کې خپل اعتراض د دافغانستان بانک ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې بانک، د پانګې له کمبود یا له کتنې وړ کمبود سره د ځان د مخامخ کېدو له حالت څخه دمخه د دافغانستان بانک ته خبر ورکړي، د دافغانستان بانک، نوموړي بانک ته د پانګې د رغونې د پلان د وړاندې کولوپه اړه دلیکلي دستورپه صادرولو مکلف نه دی، خو ددې قانون په یوسلو دوه یمه، یو سلو دریمه او یوسلوڅلورمه مادو کې د درج شوو نورو محدودیتونو دوضع کولو په اړه بانک ته خبرتیا صادره او د لیکلي اعتراض دوړاندې کولو فرصت

قبل از اصدار دستورهای مندرج مواد یکصدویکم، یکصدوهفتم و یکصد وهشتم این قانون موضوع را با صدور اطلاعیهٔ کتبی به بانک یا شخص مندرج دستور اطلاع دهد. بانک یا شخص مندرج دستور می تواند در صورت عدم قناعت به دستور متذکره اعتراض خویش را به دافغانستان بانک ارائه نماید.

(۲) هرگاه بانک، دافغانستان بانک را قبلاً از مواجه بودن خود به حالت کمبود یاکمبود قابل ملاحظهٔ سرمایه اطلاع دهد، دافغانستان بانک مکلف به صدور دستور کتبی مبنی بر ارایهٔ پلان احیای سرمایه به بانک متذکره نمی باشد، اما اطلاعیهٔ مبنی بر وضع سایر محدودیت های مندرج احکام مواد یکصدودوم، یکصد و سوم و یکصد وچهارم این قانون را به بانک صادر و فرصت ارایهٔ اعتراض کتبی را اعطاء

ورکوي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي اعتراض د وړاندې کولو او د څېړنې ډول، په اړونده مقرره کې تنظيمېږي.

مؤقت دستورونه

يوسلو دوولسمه ماده:

که چېرې د دافغانستان بانک ددې قانون ديوسلو يوولسمې مادې په(۱) فقره کې په درج شوې خبرتيا کې د ذکر شوو دلايلو پربنسټ تشخيص کړي چې دبانک سرغړونې، ناسم او نامحتاطانه فعاليت کېدای شي هغهٔ ته د رسيدګۍ دپروسې له بشپړېدو دمخه، د بانک دافلاس او ورشکستګۍ، دبانک دشتمنيو او عوايدو د کتنې وړوېشلو، د بانک د مالي شرايطو د خرابېدو يا د بانک د سپارونکو ګټو يا عامه ګټو ته دخطر درامنځته کېدو لامل شي يا د بانک دفترونه يا سندونه ترهغې اندازې غيردقيق اونابشپړ وي چې ددافغانستان بانک د عادي څارنيزې پروسې له لارې

می نماید.

(۳) طرز ارائه و بررسی اعتراض مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، در مقررهٔ مربوط، تنظيم می گردد.

دستور های مؤقت

مادهٔ يکصد و دوازدهم:

هرگاه دافغانستان بانک بنابر دلايل ذکر شده در اطلاعيهٔ مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ يکصدو يازدهم اين قانون تشخيص نمايد، که تخطی ها، فعاليت نا سالم و غير محتاطانهٔ بانک می تواند قبل از تکميل پروسهٔ رسيدگی به آن منجر به افلاس و ورشکستگی بانک، توزيع قابل ملاحظهٔ دارائی ها وعوايد بانک، وخامت شرايط مالی بانک يا بروز خطر به منافع سپرده گذاران بانک يا منافع عامه گردد يا دفاتر يا اسناد بانک به اندازهٔ غير دقيق و نا مکمل باشد که د افغانستان بانک از طريق پروسه عادی نظارتی قادر نگردد تا شرايط مالی بانک

ونه توانېږي، ترڅو دبانک مالي شرايط يا د بانک پر وضعيت باندې د عمده اغېزو د لرونکې هرې معاملې جزئيات تشخيص کړي، پدې صورت کې له احوالو سره سم له لاندې مؤقتو دستورونو څخه يو صادروي:

۱- ددې قانون په يوسلو اوومه ماده کې په درج شوي حالت کې ددافغانستان بانک له تشخيص سره سم، پدې ماده کې د درج شوو شرايطو له رامنځته کېدو څخه د مخنيوي يا د سندونو د ثبت په پروسه کې دنيمګړتياوو او تشو د اصلاح لپاره دمناسبو اقداماتوپه ترسره کولوباندې د بانک مکلفول.

۲- ددې قانون په يوسلو اتمه ماده کې په درج شوو حالاتو کې، په خبرتيا کې دياد شوي شخص د دندې په څنډولو دبانک مکلف کول اود بانک د چارو په ترسره کولوکې دهغهٔ له هر ډول بياګډون څخه ممانعت.

يا جزئيات هر معامله دارای اثرات عمده بر وضعيت بانک را تشخيص نمايد، در اين صورت حسب احوال يکی از دستورهای مؤقت ذيل را صادر می نمايد:

۱- مکلف ساختن بانک به اتخاذ اقدامات مناسب حسب تشخيص دافغانستان بانک درحالات مندرج مادهٔ يکصد وهفتم اين قانون، جهت جلوگيری از وقوع شرايط مندرج اين ماده يا اصلاح نواقص و کاستی ها در پروسهٔ ثبت اسناد.

۲- مکلف ساختن بانک به تعليق وظيفهٔ شخص ذکر شده در اطلاعيه و ممانعت از هرگونه اشتراک مجدد وی درانجام امور بانک در حالات مندرج مادهٔ يکصدو هشتم اين قانون.

مؤقت کنګلول

یوسلو دیارلسمه ماده:

(۱) دد افغانستان بانک کولای شي، ددې قانون دیو سلو یوولسمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې خبرتیا په اړه، ددې قانون په یو سلواوومه، یو سلو اتمه او یوسلو نهمه مادو کې ددرج شووحالاتو په هکله دنهایي تصمیم د صادربدو تر وخته پورې له اړتیا سره سم د هغو شتمنیو، وجوهو یا نورو مالونو لپاره چې په خبرتیا کې د درج شوي شخص ترمستقیم یاغیر مستقیم کنترول لاندې وي یا په هغهٔ پورې اړه ولري، له احوالو سره سم له لاندې دستورونو څخه یو صادر کړي:

۱- دشتمنیویا نورو مالونو د اخیستلو (برداشت)، لېږدولو، تیتو پرک کولو، بربادولو، حذف یا پرېښودلو په اړه د هر ډول اقدام له ترسره کولو څخه د نظر وړ شخص یا دهغهٔ تر کنترول لاندې شرکت ممانعت.

انجماد مؤقت

مادهٔ یکصد وسیزدهم:

(۱) دافغانستان بانک می تواند، در رابطه به اطلاعیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ یکصدویازدهم این قانون الی زمان صدور تصمیم نهائی در رابطه به حالات مندرج مواد یکصدوهفتم، یکصدوهشتم و یکصدونهم این قانون عندالضرورت جهت حفظ دارائی ها، وجوه یا سایر اموالی که تحت کنترول مستقیم یا غیرمستقیم شخص مندرج اطلاعیه بوده یا متعلق به وی می باشد، حسب احوال یکی از دساتیر ذیل را صادر نماید:

۱- ممانعت شخص مورد نظر یا شرکت تحت کنترول وی از اتخاذ هرگونه اقدام مبنی بر برداشت، انتقال، پراگنده نمودن، برباد نمودن، حذف یا واگذاری دارائی ها یا سایر اموال.

۲- د مؤقت دستور د تطبيق لپاره د دافغانستان بانک د يوۀ يا له يوۀ څخه د زياتو استازو توظيف.

(۲) دافغانستان بانک کولای شي ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوو مؤقتو دستورونو په اړه، د ليکلي دستور په صادرولو سره بانک يابله مالي مؤسسه مکلفه کړي، ترڅو په نوموړي بانک يا مالي مؤسسه کې د نظر وړ شخص يا د هغۀ تر کنترول لاندې شرکت اړوند حساب يا حسابونه په بيړنۍ توګه کنګل کړي او پدې حسابونو کې شته وجوه د دافغانستان بانک د وروستۍ لارښوونې تر صادرېدو پورې حفظ او وساتي.

د مؤقت دستور انفاذ او دشتمنيو کنګلول

يو سلو څوارلسمه ماده:

(۱) ددې قانون په يوسلو دوولسمه او يو سلو ديارلسمه ماده کې درج شوي مؤقت دستورونه، په لاندې احوالو کې د اعتبار وړ دي:

۲- توظيف يک يا بيش ازيک نمايندۀ دافغانستان بانک جهت تطبيق دستور مؤقت.

(۲) دافغانستان بانک مي تواند در رابطه با دساتير مؤقت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، باصدور هدايت کتبي بانک يا مؤسسۀ مالي ديگر رامکلف نمايد تا حساب يا حسابات مربوط به شخص مورد نظر يا شرکت تحت کنترول وی را در بانک يا مؤسسۀ مالی مذکورطورعاجل منجمد نموده و وجوه موجود در اين حسابات را الی صدورهدايت بعدی دافغانستان بانک حفظ ونگهداری نمايد.

انفاذ دستور مؤقت و انجماد دارائی

مادۀ يکصد و چهاردهم:

(۱) دستورهای مؤقت مندرج مواد يکصدودوازدهم و يکصد وسيزدهم اين قانون در احوال ذيل مدار اعتبار مي باشد:

۱- د نظر وړ دستور د صادرېدو یا نه صادرېدو په هکله ددې قانون په یوسلو اوومه، یوسلو اتمه یا یوسلو نهمه مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق د دافغانستان بانک د تصمیم نیولو تروخته پورې.

۲- تر هغهٔ وخته پورې چې دستور د کمېسیون په واسطه ددې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي حکم په رعایت سره، ددې قانون په یو سلو پنځلسمه ماده کې ددرج شوي حکم له مخې، لغو، تحدید یا تعلیق شي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې دستور ددې قانون دیو سلو دوولسمې مادې په (۱) جزء کې د درج شوي حکم مطابق صادر شوی وي، د سندونو او سوابقو د صحت (سموالي) په اړه په داسې ډول چې د بانک مالي وضعیت په مناسب ډول منعکس کړي د دافغانستان بانک د تشخیص تر وخته پورې.

(۲) که چېرې د دافغانستان بانک ددې قانون دیو سلو پنځلسمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق

۱- الی زمان اتخاذ تصمیم دافغانستان بانک دربارهٔ صدور یا عدم صدور دستور مورد نظر برطبق احکام مندرج مواد یکصد وهفتم، یکصد وهشتم یا یکصد ونهم این قانون.

۲- الی زمانی که دستور توسط کمیسیون با رعایت حکم مندرج فقرهٔ (۲) این ماده لغو، تحدید یا تعلیق گردد مطابق حکم مندرج مادهٔ یکصدو پانزدهم این قانون.

۳- الی زمان تشخیص دافغانستان بانک مبنی بر صحت اسناد وسوابق به طوریکه وضعیت مالی بانک رابه شکل مناسب، منعکس سازد در صورتی که دستور مطابق حکم مندرج جزء (۱) مادهٔ یکصد و دوازدهم این قانون صادر شده باشد.

(۲) هرگاه دافغانستان بانک بر تصمیم صادرهٔ کمیسیون بر طبق حکم مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ

د مؤقت دستور دلغو، تحدید یا تعلیق په اړه دکمېسیون پرصادرشوي تصمیم قناعت و نه لري، کولای شي دنوې کتنې غوښتنلیک واکمنې محکمې ته وړاندې کړي. مؤقت دستور د کمېسیون د تصمیم په هکله دواکمنې محکمې دوروستنۍ پرېکړې تر وختـه پورې، د اعتبار وړ دی.

د مؤقت دستور په هکله د کمېسیون نوې کتنې

یوسلو پنځلسمه ماده:

(۱) که چېرې بانک یا شخص په هغو مؤقتي دستورونو باندې چې ددې قانون په یوسلو نهمه، یو سلو دوولسمه یا یو سلو دیارلسمه مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق صادر شوي، قناعت ونه لري، کولای شي د (۱۰) کاري ورځو مودې په ترڅ کې دنوې کتنې غوښتنلیک کمېسیون ته وړاندې کړي. د نوې کتنې د غوښتنلیک وړاندې کول، د مؤقت دستور د انفاذ د تعلیق لامل نه ګرځي.

یکصدوپانزدهم این قانون مبنی بر لغو، تحدید یا تعلیق دستور مؤقت قناعت نداشته باشد،می تواند درخواست تجدید نظر را به محکمهٔ ذیصلاح ارائه نماید. دستور مؤقت الی زمان فیصله نهائی محکمهٔ ذیصلاح در مورد تصمیم کمیسیون، مدار اعتبار می باشد.

تجدید نظر دستور مؤقت توسط کمیسیون

مادهٔ یکصد وپانزدهم:

(۱) هرگاه بانک یا شخص به دستورهای مؤقتی که مطابق احکام مندرج مواد یکصدونهم، یکصدو دوازدهم یا یکصدوسیزدهم این قانون صادر گردیده، قناعت نداشته باشد، می تواند در خلال مدت (۱۰) روز کاری درخواست تجدید نظر را به کمیسیون ارائه نماید. ارایهٔ درخواست تجدید نظر، باعث تعلیق انفاذ دستور مؤقت نمی گردد.

(۲) کمېسیون کولای شي ددې قانون په یوسلونهمه او یوسلو یو ولسمه ماده کې ددرج شوو اقداماتو د بشپړېدو تر وخته پورې، د موقتو دستورونو انفاذ او تطبیق د موضوع ماهیت ته په کتنې سره، لغو، تحدید یا تعلیق کړي، پدې شرط چې کمېسیون لاندې موارد تشخیص کړي:

۱- دغوښتنلیک ورکوونکي د ادعاء د صحت په اړه د پیاوړي احتمال شتون.

۲- دغوښتنلیک د نه منل کېدو په صورت کې غوښتنلیک ورکوونکي ته د جبران نه منونکي زیان اووښتل.

۳- دنوې کتنې دغوښتنلیک د منل کېدو په صورت کې د دافغانستان بانک یا نوموړي بانک نه زیانمن کېدل.

۴- د نوې کتنې دغوښتنلیک د منل کېدو له امله د عامه ګټو تأمین.

د دستور صادرېدل، انفاذ او لغو

یو سلو شپاړسمه ماده:

(۱) هغه نهایي دستور یا مؤقت دستور

(۲) کمیسیون می تواند الی زمان تکمیل اقدامات مندرج مواد یکصدونهم و یکصد ویازدهم این قانون، انفاذ و تطبیق دستورهای مؤقت را نظر به ماهیت موضوع، لغو، تحدید یا تعلیق نماید، مشروط بر اینکه کمیسیون موارد ذیل را تشخیص دهد:

۱- موجودیت احتمال قوی مبنی بر صحت ادعای درخواست دهنده.

۲- وارد شدن خسارهٔ جبران ناپذیر به درخواست دهنده در صورت عدم قبولی درخواست.

۳- عدم متضرر شدن دافغانستان بانک یا بانک متذکره درصورت قبولی درخواست تجدید نظر.

۴- تأمین منافع عامه در اثر قبولی درخواست تجدید نظر.

صدور، انفاذ و لغو دستور

مادهٔ یکصد وشانزدهم:

(۱) دستور نهائی یا دستور مؤقت که

چې ددې قانون د حکمونو مطابق بانک ته صادرېږي، لیکلی وي او د هغو ټولو اقداماتو نغاړونکی وي چې بانک دهغو په ترسره کولو مکلف دی. نهايي يا مؤقت دستور کولای شي هغه وخت يا زماني موده چې په ترڅ کې يې بانک دهغهٔ په رعايت مکلف دی، وټاکي.

(۲) ددافغانستان بانک مکلف دی، د اقداماتودترسره کولولپاره ټاکل شوې موده اويا ددې مادې د (۱) فقرې په دستور کې د درج شوو شرايطو د رعايت وخت په نوموړو دستورونو کې وټاکي.

(۳) ددافغانستان بانک مکلف دی، د بانک اړوند نهايي دستور يا مؤقت دستور د هغهٔ مرکزي دفتر ته ابلاغ کړي، که چېرې دستور په يوې کورنۍ فرع يا د يوهٔ نامېشت بانک د کورنۍ نمايندګۍ په دفتر پورې اړه ولري، پدې صورت کې د دافغانستان بانک نوموړي دستور مستقيماً يادوشوو دفترونو ته ابلاغوي.

(۴) ددافغانستان بانک مکلف دی، د

مطابق احکام این قانون به بانک صادر می شود، کتبی بوده و در برگیرنده تمام اقداماتی می باشد که بانک مکلف به انجام آن است. دستور نهائی یا مؤقت می تواند وقت یا مدت زمانی را که در جریان آن بانک مکلف به رعایت آن می باشد، تعیین نماید.

(۲) د افغانستان بانک مکلف است، میعاد معینه برای انجام اقدامات و یا زمان رعایت شرایط مندرج دستور فقرهٔ (۱) این ماده را در دستور های مذکور تعیین نماید.

(۳) د افغانستان بانک مکلف است، دستور نهائی یا دستور مؤقت مربوط بانک را به دفتر مرکزی آن ابلاغ نماید، هرگاه دستور مربوط به یک فرع داخلی یا دفتر نمایندگی داخلی یک بانک غیرمقیم باشد، در این صورت دافغانستان بانک دستور متذکره را مستقیماً به دفاتر مذکور ابلاغ می نماید.

(۴) دافغانستان بانک مکلف است،

نهايي يا مؤقت دستور پــه ضــميمه د نوموړي دستور دصادرېدو په هکلــه د خپل تصميم يو نقل له دلايلو او دهغو قوانينو د حکمونوله يادولو سره يوځای چې دهغو له مخې د دستور د صادرېدو اجازه لري، بانک ته واستوي.

(۵) نهايي دستور اومؤقت دستور دهغهٔ د ابلاغ له نېټې څخه د اعتبارور او لازم الاجراء دی، خودا چې د دستور وخت (ميعاد) په هغهٔ کې د درج شوو شرايطو مطابق تېرشوی وي يــا د دافغانســتان بانک بل نهايي يا مؤقت دستور د هغهٔ ځای ناستی شي يا د نوې کتنې له امله د کمېسيون د تصميم مطابق لغو شي يا داچې د دافغانستان بانک، د هغهٔ لغو په ليکلې توګه بانک ته ابلاغ کړي.

(٦) که چېرې، د دافغانستان بانــک د دستور د تطبيق نه اړتيا تشخيص کړي، کولای شي، د نهايي يامؤقت دســتور انفاذ لغو کړي.

(۷) د بانک د اساسنامې منــدرجات، جواز، اجازه ليک يا پام وړ بانک تــه د دافغانستان بانک په واسطه صــادره

ضم دستور نهائی يا مؤقت، يک نقل از تصــميم خــويش مبنــی برصــدور دستور متذکره را توأم با دلايل و ذکر احکام قوانينی که برطبــق آن اجــازهٔ صدور دســتور را دارد، بــه بانــک ارسال نمايد.

(۵) دستور نهائی يا دســتورمؤقت از تاريخ ابلاغ آن مــدار اعتبــار و لازم الاجرا بوده، مگر ايــن کــه ميعــاد دستورطبق شرايط مندرج آن منقضــی گرديده باشد يا دستورنهائی ومؤقــت ديگر دافغانستان بانک جــايگزين آن شده يا دراثر تجديد نظر طبق تصــميم کميسيون لغو گرديــده يــا اينکــه دافغانستان بانک لغو آن را طورکتبی به بانک ابلاغ نمايد.

(٦) هرگاه دافغانستان بانــک عــدم ضرورت تطبيق دســتور را تشــخيص دهد، می تواند انفاذ دستور نهائی يــا مؤقت را لغو نمايد.

۷- مندرجات اساسنامهٔ بانک، جواز، اجازه نامه يا اجازهٔ صــادره توســط دافغانستان بانک به بانک مورد نظــر،

شوې اجازه، قرارداد اوهغه پوهـــاوي (تفاهمات) چې يو اړخ يې بانک وي، لدې څخه په صرف نظر چې دنافذېدو نېټه يې دنهايي يا مؤقت دســـتور لـــه صادرېدو دمخـــه يـــا وروســـته وي، د دافغانستان بانک د دستور د تطبيـــق خنډ نه کېږي. د واکمنې محکمې پـــه حکم يا په قرارداد کې د درج شـــوو شرايطو د تطبيق له امله د پيسو وړکړه يا انتقال لدې حکم څخه مستثني دي.

دکمېسيون په واســـطه د نهـــايي تنفيذي دستور نوې کتنه

يوسلو اوولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ددې قـــانون پـــه يوســـلويوه يمـــه، يوســـلو اوومـــه، يوسلو اتمه يا يو سلو نهمه مادو کې د درج شوو حکمونو مطابق د هغۀ پر عليه (پرخلاف) نهايي دستور صادر شوی او په هغۀ قناعت ونکړي، کولای شـــي د هغۀ د ترلاسه کېدو لـــه نېټـــې څخـــه د(۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې، پـــر نوموړي دستور د نوې کتنې غوښتنليک

قرارداد و تفاهمنامه های که یک طرف آن بانک بوده صرف نظر از این کـــه تاریخ انفاذ آن قبل یا بعد از صـــدور دستور نهائی یا دستورمؤقت باشد، مانع تطبیق دستور صادره دافغانستان بانک نمـــــی گـــــردد. پرداخـــــت یا انتقال پـــول بـــه حکـــم محکمـــۀ ذیصـــــلاح یـــــا در اثـــــر تطبیـــق شـــرایط منـــدرج قـــرارداد از این حکم مستثنی می باشد.

تجدید نظر دستور تنفیذی نهـــائی توسط کمیسیون

مادۀ یکصد وهفدهم:

(۱) شخصی که مطابق احکام مندرج مواد یکصدویکم، یکصـــد وهفـــتم، یکصدوهشتم یا یکصد و نهـــم ایـــن قـــــانون علیـــــه وی دســـــتور نهـــائی صـــادر شـــده وبـــه آن قناعـــت نـــه نمایـــد، مـــی توانـــد درخـــــلال مـــــدت (۳۰) روز از تاریخ دریافت آن، درخواست تجدیـــد نظـــــر دســـــتور مـــــذکور

کمېسیون ته وړاندې کړي.
(۲)کمېسیون کولای شي، د دافغانستان بانک د تصمیم د سوابقو په پام کې نیولو سره، دستور په قسمي یا کلي توګه تأیید، لغو یا یې اعاده کړي یا موضوع د نورو اقداماتو د کولو لپاره ددافغانستان بانک ته راجع کړي.
(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې بیا څېړنې پیل د دستورپه انفاذ یا په هغهٔ کې د درج شوو الزاماتو د ځنډ لامل نه ګرځي.

یوولسم فصل

څارنه

په بانک کې دشامل ګروپ د جوړښتونو روڼتوب (شفافیت)

یو سلو اتلسمه ماده:
(۱) په بانک کې شامل ګروپ مکلف دی، خپل اداري جوړښت داسې تنظیم کړي چې د دافغانستان بانک وکولای شي، لاندې مراتب تشخیص کړي:
۱- دګروپ کنترولوونکی اصلي شخص یا اشخاص.

را به کمیسیون ارائه نماید.
(۲) کمیسیون می تواند، بانظرداشت سوابق تصمیم دافغانستان بانک، دستور را طور کلی یا قسمی تائید، لغو یا آن را اعاده نماید یا موضوع را جهت اتخاذ سایر اقدامات به دافغانستان بانک راجع سازد.
(۳) آغاز بررسی مجدد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده باعث تأخیر درانفاذ دستور یا الزامات مندرج آن نمی گردد.

فصل یازدهم

نظارت

شفافیت ساختارهای گروپ شامل بانک

مادهٔ یکصد وهجدهم:
(۱) گروپ شامل بانک مکلف است، ساختار اداری خود را طوری تنظیم نماید که دافغانستان بانک بتواند، مراتب ذیل را تشخیص نماید:
۱- شخص یا اشخاص اصلی کنترول کنندهٔ گروپ.

۲-دګروپ دغړو شرکتونو سوداګریز فعالیتونه.

۳- دګروپ او دهغهٔ دغړو شرکتونود هر یوهٔ مالي وضعیت.

۴- ګروپ او دهغهٔ دغړو شرکتونو هریوهٔ ته متوجه خطرات.

۵- دخطر داداري، د کورني کنترول د تدبیرونو او په بانک کې د شامل ګروپ په سطحه د اداري د ډول په اړه د ګروپ دکړنلارو او اجراآتو اغېزمنتوب.

٦- په بانک کې د شامل ګروپ د غړوترمنځ سوداګریزې اومالي اړیکې او نورې اړیکې.

(۲) په بانک کې شامل ګروپ مکلف دی، خپل اداري جوړښت داسې تنظیم کړي چې د دافغانستان بانک کورني او بهرني بررس د څارنیزو دندو اجراء له ستونزې سره مخامخ نه کړي.

(۳) د ګروپ غړی بانک مکلف دی، په بانک کې د شامل ګروپ له نورو غړوڅخه دخپلواک حُکمي شخصیت په توګه، فعالیتونه، شتمنی،

۲- فعالیت های تجارتی شرکت های عضو گروپ.

۳- وضعیت مالی گروپ وهر یک از شرکت های عضو آن.

۴- خطرات متوجه گروپ وهر یک از شرکت های عضو آن.

۵- مؤثریت طرزالعمل ها و اجراآت گروپ دررابطه به اداره خطر، تدابیر کنترول داخلی و طرز اداره در سطح گروپ شامل بانک.

٦- روابط تجارتی ومالی و سایر روابط بین اعضای گروپ شامل بانک.

(۲) گروپ شامل بانک مکلف است، ساختار اداری خویش را طوری تنظیم نماید که اجرای وظایف نظارتی دافغانستان بانک، بررس داخلی و خارجی را به مشکل مواجه نسازد.

(۳) بانک عضو گروپ مکلف است، منحیث شخصیت حکمی مستقل از سایر اعضای گروپ شامل بانک، فعالیت ها، دارائی ها، بدهی ها، عواید،

پورونه، عواید، لګښتونه اوخپل ځان ته متوجه خطرات، په بانک کې له شامل ګروپ څخه جلا وټاکي.

په بانک کې پرشاملو ګروپونو باندې د احتیاطي الزاماتو تطبیق

یوسلو نولسمه ماده:

(۱) لاندې حکمونه پربانکي ګروپونو باندې په توحیدي ډول او په ګروپ کې پرشاملو بانکونو باندې په انفرادي ډول د تطبیق وړ دي:

۱- دبانکونو د پانګه ییزو(سرمایوي) ایجاباتو په اړه، ددې قانون په اته شپېتمه ماده کې درج شوی حکم.

۲- د بانکي اسانتیاوو د محدودیتونو په اړه، ددې قانون په دوه اویایمه ماده کې درج شوی حکم.

۳- په نورو شرکتونو کې د پانګې اچونې په اړه، ددې قانون په دري اتیایمه ماده‌کې درج شوی حکم.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، ددې قانون نورحکمونه د مقررو له انفاذ څخه وروسته پر بانکي ګروپونو باندې

مصارف وخطرات متوجه خود را، مجزا از گروپ شامل بانک تعیین نماید.

تطبیق الزامات احتیاطی بر گروپ های شامل بانک

مادۀ یکصد ونزدهم:

(۱) احکام ذیل بر گروپ های بانکی به طور توحیدی و بانک های شامل در گروپ به طور انفرادی قابل تطبیق می باشد:

۱- حکم مندرج مادۀ شصت وهشتم این قانون دررابطه به ایجابات سرمایوی بانک ها.

۲- حکم مندرج مادۀ هفتادودوم این قانون دررابطه به محدودیت های تسهیلات بانکی.

۳- حکم مندرج مادۀ هشتادوسوم این قانون در رابطه به سرمایه گذاری در سایر شرکت ها.

(۲) دافغانستان بانک می تواند، سایر احکام این قانون را بعد از انفاذ مقرره ها بر

تطبيق کړي.

(۳) په بانک کې شامل ګروپ مکلف دی، د پانګې اچونو د بسنې (تکافو)، د لويو بانکي اسانتياوو د ورکـــړې او د بهرنيو اسعارو دتبادلې دخطراتو په اړه، د ســـوداګريزو فعـــاليتونو د پـــرمخ بيولو لپاره، مناسبې کړنلارې او پاليسۍ ولري.

(۴) په ګروپ کې متبوع اصلي شرکت مکلف دی، ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو الزاماتو له رعايت څخه ډاډ ترلاسه کړي.

(۵) دد افغانستان بانک مکلـــف دی، ددې مادې په (۳) فقره کـــې د درج شوي هر ګروپ پاليسۍ او کړنلارې لږترلږۀ په کال کې يوځل بررســـي او دهغو له رعايتولو څخه ډاډ ترلاسه کړي او ګروپ مکلف کړي، څوهغه تعديلونه چې د دافغانستان بانـــک د تشـــخيص پربنسټ د بانک يا د ګروپ د غـــړو بانکونو د ساتلو لپـــاره لازم دي، پـــه نوموړو پاليسيو او کړنلارو کـــې وارد کړي.

گروپ های بانکی تطبیق نماید.

(۳) گروپ شامل بانک مکلف است، دررابطه به تکافوی سرمایه گذاری ها، اعطای تسهیلات بـــانکی بـــزرگ و خطرات تبادلۀ اسعار خـــارجی، دارای طرزالعمل ها وپالیسی هـــای مناســـب جهت پیشبرد فعالیت هـــای تجـــارتی باشد.

(۴) شرکت اصلی متبوع در گـــروپ مکلف است، از رعایت الزامات مندرج فقرۀ (۳) این ماده اطمینـــان حاصـــل نماید.

(۵) دافغانستان بانک مکلف اســـت، پالیسی ها وطرزالعمل های هرگروپ مندرج فقرۀ(۳)این ماده راحداقل سال یک بار بررســـی و از رعایـــت آنهـــا اطمینان حاصل نمـــوده وگـــروپ را مکلف سازد تا تعدیلات راکـــه بنـــابر تشخیص دافغانستان بانک جهت حفظ بانک یا بانک های عضو گروپ لازم مـــی باشـــد، در پالیســـی هـــا و طرزالعمـــل هـــای مـــذکور وارد نماید.

(٦) که چېرې ددافغانستان بانک تشخیص کړي چې دګروپ پانګه دبانک دساتنې لپاره کافي نده، کولای شي بانک مکلف کړي، ترڅو اضافي پانګه په واک کې واخلي یا له معمولې اندازې څخه د لوړې پانګې د بسنې (کفایت) په نسبت فعالیت وکړي.

د کورني کنترول او د خطر د اداري سیستم

یوسلو شلمه ماده:

(۱) په بانک کې شامل ګروپ مکلف دی،داړوندو فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره، د کورني کنترول او د خطراتو د اداري مناسب سیستم رامنځته اوهغه په منظمه توګه تدقیق او نوی کړي.

(۲) په ګروپ کې متبوع اصلي شرکت مکلف دی، په بانک کې دشامل ټول ګروپ په کچه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم له رعایت څخه ډاډترلاسه کړي.

(٦) هرگاه دافغانستان بانک تشخیص دهد که سرمایه گروپ برای حفظ بانک کافی نمی باشد، می تواند بانک رامکلف سازد، تا سرمایهٔ اضافی را در اختیار گرفته یا به نسبت کفایت سرمایهٔ بالاتر از اندازهٔ معمول فعالیت نماید.

سیستم کنترول داخلی و ادارهٔ خطر

مادهٔ یکصد وبیستم:

(۱) گروپ شامل بانک مکلف است، جهت پیشبرد فعالیت های مربوط، سیستم مناسب کنترول داخلی و ادارهٔ خطرات را ایجاد و آنها را طور منظم تدقیق و تجدید نماید.

(۲) شرکت اصلی متبوع در گروپ مکلف است، از رعایت حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در سطح تمام گروپ شامل بانک اطمینان حاصل نماید.

په متبوع بانکي شـــرکت کـــې د پانګې بسنه

يو سلو يوويشتمه ماده:

متبوع بانکي شـــرکت مکلـــف دی، د خپلو فعاليتونو د پرمخ بيولو لپـــاره د ګروپ د غړو نورو بانکونو لپـــاره د مالي ځواک په توګه عمـــل وکـــړي او د کـــافي پـــانګې انـــدازه چـــې د دافغانستان بانک په واســـطه ټاکـــل کېږي، وساتي.

د متبوع بانکي شـــرکت د ادارې ډول

يو سلو دوه ويشتمه ماده:

(۱) هغه شخص په متبوع بانکي شرکت کې د نظار هيئت، عامل هيئت يا ورته نورو تشکيلاتو د غـــړي پـــه توګـــه، انتصاب يا ټاکل کېدای شي چې وړ او مناسب وي او په اړونده دنده کـــې د کافي تجربې او مسلکي توانمنی لرونکی وي.

(۲) د متبـــوع بـــانکي شـــرکت د نظار هيئت، عامل هيئت او ورته نورو

کفايت سرمايه در شرکت بـــانکی متبوع

مادۀ يکصد وبيست ويکم:

شرکت بانکی متبوع مکلف اســـت، جهت پيشبرد فعاليت هـــای خـــويش منحيث منبع قوت مالی بـــرای ســـاير بانک های عضو گروپ عمل نموده و اندازۀ سرمايۀ کافی را کـــه توســـط دافغانستان بانک تعيين می‌گردد، حفظ و نگهداری نمايد.

طـــرز ادارۀ شـــرکت بـــانکی متبوع

مادۀ يکصد وبيست ودوم:

(۱) شخصی به صفت عضوهيئت نظار، هيئت عامل ياساير تشکيلات مشـــابه درشرکت بانکی متبوع انتصاب يا تعيين شده می تواند، که شايسته و مناســـب بوده ودارای تجربه کافی و توانـــائی مســـلکی در وظيفـــه مربـــوط باشد.

(۲) اعضای هيئت نظار، هيئت عامـــل وساير تشـــکيلات مشـــابه شـــرکت

تشکیلاتو غړي مکلف دي، د سلوک د ډول پـــه اړه ددې قـــانون پـــه نهه پنځوسمه ماده کې درج شوی حکم په پام کې ونیسي.

(۳) د دافغانستان بانک کولای شي، د متبوع بانکي شرکتونو لپـاره د ښـې اداري معیارونـــه پـــه اړونـــده مقرره کې تنظیم کړي.

د متبوع بانکي شرکت فعالیتونه

یو سلو درویشتمه ماده:

متبوع بانکي شرکت مکلف دی، یوازې مالي او د مالي مؤسســو د مـدیریت فعالیتونه او نور هغه فعالیتونه چې د دا ډول فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره لازمي ګڼل کېږي، ترسره کړي.

د متبوع بانکي شرکت په واســطه پانګه اچونه

یوسلو څلېریشتمه ماده:

(۱) متبوع بانکي شرکت مکلف دی، پـــه نـــورو شـــرکتونو کـــې د پـــانګې اچونـــو د اجـــراء او څارنې لپاره د پالیسیو، کـرنلارو او

بانکی متبوع مکلف اند، حکم مندرج مادۀ پنجاه و نهم این قانون را در رابطه بـــه طـــرز ســـلوک رعایـــت نمایند.

(۳) د افغانستان بانک مـــی توانـــد، معیـــار هـــای ادارۀ خـــوب بـــرای شرکت های بانکی متبوع را در مقررۀ مربوط، تنظیم نماید.

فعالیت های شرکت بانکی متبوع

مادۀ یکصد وبیست وسوم:

شرکت بانکی متبوع مکلف اســت، صرف فعالیت های مالی و مـــدیریت مؤسسات مالی و سایر فعالیت های که به منظور پیشبرد چنین فعالیت ها لازمی پنداشته می شود، انجام دهد.

سرمایه گذاری توســط شـــرکت بانکی متبوع

مادۀ یکصد وبیست وچهارم:

(۱) شرکت بانکی متبوع مکلف است، از موجودیت پالیسی ها و طرزالعمل ها و توانائی مدیریتی و مالیـــاتی جهـــت اجراء و نظارت از سرمایه گذاری ها

مديريتي او مالي توانمنۍ له شتون څخه ډاډ حاصل کړي.

(۲) متبوع بانکي شرکت نشي کولای، له هغهٔ شرکت څخه چې مالي مؤسسه نه وي، واکمنه استحقاقي ونډه تحصيل کړي.

(۳) که چېرې متبوع بانکي شرکت د هغهٔ دين د ترسره کولو له سببه چې عقد يې په ښه نيت سره صورت موندلی، په بل شرکت کې واکمنه استحقاقي ونډه ترلاسه کړي، پدې صورت کې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی حکم پر هغهٔ باندې نه تطبيقېږي. پدې شرط چې د متبوع بانکي شرکت د انتفاعي مالکيت ونډه د يوهٔ کال مودې په ترڅ کې د واکمنې استحقاقي ونډې له اندازې څخه لږې ته راټيټه شي.

د متبوع بانکي شرکت تابع او ورپورې تړلي شرکتونه

يو سلو پنځه ويشتمه ماده:

(۱) متبوع بانکي شرکت کولای شي، در سايرشرکت ها، اطمينان حاصل نمايد.

(۲)شرکت بانکی متبوع نمی تواند، سهم استحقاقی ذيصلاحيت را از شرکتی که مؤسسه مالی نباشد، کسب نمايد.

اعتبار می باشد. هرگاه مبلغ ثبت شده طلب کمتر از مبلغ مندرج اسناد و دفاتر بانک باشد، در این صورت مبلغ کمتر مدار اعتبار می باشد.

(۳) هغه داین چې طلب یې د رهن یا دمال د حبس د حق په وړاندې د بانک له شتمنیو څخه تضمین شوی دی، کولای شي، خپل طلب د هغهٔ مبلغ لپاره چې ارزښت یې په ورته مزایده کې له توقع وړ شتمنۍ څخه زیات وی، ثبت کړي.

(۳) داین که طلب اش در برابر رهن یا حق حبس مال از دارائی های بانک تضمین شده است، می تواند طلب خویش را برای مبلغی که از ارزش مورد توقع دارائی در مزایدهٔ مشابه بیشتر باشد، ثبت نماید.

(۴) د نامعلوم ارزښت لرونکی طلب، د هغهٔ ارزښت په اندازه چې د تصفیې مدیر یې اټکلوي، د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

(۴) طلب دارای ارزش نامعلوم، به اندازهٔ ارزشی که مدیر تصفیه تخمین می نماید، مدار اعتبار پنداشته می شود.

(۵) د تصفیې مدیر مکلف دی، له ارزونې وروسته، داعتبار وړثبت شوي طلبات په یوهٔ لست او دخپل اعتراض وړ طلبات په بل لست کې د دلایلو په یادولو سره درج کړي. نوموړي لستونه، د نوم، آدرس، د طلباتو د مبلغ او دهغو د طلباتو د تضمین دمبلغ د

(۵) مدیر تصفیه مکلف است، بعد از ارزیابی، طلبات ثبت شدهٔ مدار اعتبار را دریک لست و طلبات مورد اعتراض خویش را در لست دیگر با ذکر دلایل درج نماید. لست های متذکره حاوی اسم، آدرس، اندازهٔ مبلغ طلبات و تضمین طلباتی می باشد

اندازې لرونکي وي چې د تصفيې د مدير اعتبار يا اعتراض دهغو په هکله وروستنی نه وي، د لومړيتوب د حق پر بنسټ فهرست کېږي.

(٦) د تصفيې مدير مکلف دی، ددې مادې په (۵) فقره کې درج شوي فهرستونه د طلباتو د ثبت لپاره د ټاکل شوې مودې د پايته رسېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې بشپړ کړي. معترض داين کولای شي، د تصفيې دمدير پر تصميم باندې د نوې کتنې په اړه د نوموړي تصميم د نيولو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې خپل اعتراض کمېسيون ته وړاندې کړي. د اعتراض نه کولو په صورت کې، تصميم نهايي ګڼل کېږي.

(۷) کمېسيون مکلف دی، ددې مادې په (٦) فقره کې د درج شوي اعتراض د رسيدګۍ نېټه داسې وټاکي چې معترض داين وکولای شي، د خپل طلب د ثبت لپاره، د تصفيې مدير او کمېسيون ته سندونه او مدارک وړاندې کړي، پدې شرط چې نوموړې

که اعتبار يا اعتراض مدير تصفيه در مورد آنها نهائی نبوده به اساس حق تقدم فهرست می گردند.

(٦) مدير تصفيه مکلف است، فهرست های مندرج فقرهٔ (۵) اين ماده را در خلال مدت (۳۰) روز از تاريخ ختم ميعاد معينه جهت ثبت طلبات تکميل نمايد. داين معترض می تواند به تصميم مدير تصفيه در خلال مدت (۳۰) روز از تاريخ اتخاذ تصميم متذکره اعتراض خويش را مبنی بر تجديد نظر به کميسيون ارائه نمايد. در صورت عدم اعتراض، تصميم نهائی پنداشته می شود.

(۷) کميسيون مکلف است، تاريخ رسيدگی به اعتراض مندرج فقرهٔ (٦) اين ماده را طوری تعيين نمايد که داين معترض بتواند، جهت ثبت طلب خويش، به مدير تصفيه و کميسيون اسناد و مدارک ارائه نمايد، مشروط بر اينکه رسيدگی های مذکور

رسیدگي، کمېسیون ته د اعتـــراض وړ طلباتو د فهرست د تسلیمۍ له نېټـــې څخه وروسته، له (٦٠) ورځو څخه په زیاته موده کې، صورت ومومي.

(۸) دتصفیې مدیر مکلف دی، یوازې یو ځل د الکترونیکي پُست یا د خبرتیا د خپرولو په شمول د پُست له لارې، د رسیدگۍ پـــه هکلـــه دائنـــین، خبـــر کړي.

(۹)که چیري دائنین داړوندو طلباتو د رسیدگۍ په منظور کمېسیون ته چې د پُست په واسطه هغو ته خبر ورکـــړل شوی دی، حاضر نشي، د هغوی طلبات رد شوي ګڼل کېږي.

(۱۰) کمېسیون مکلف دی، د نـــوې کتنې رد شوي غوښتنلیکونه اړونـــدو دائنینو ته په لیکلې توګه خبر ورکړي او نقل یې د تصفیې مدیر تـــه وړانـــدې کړي.

(۱۱) ددې مادې په (٦) فقره کـــې د اعتراض په اړه د کمېســـیون تصـــمیم وروستی ګڼـــل کېـــږي او د تصـــفیې مدیر ته خبر ورکول کېږي او په هغـــهٔ

در مـــــدت بیشـــــتر از (٦٠) روز بعد از تاریخ تسلیمی فهرست طلبـــات مورد اعتراض به کمیسیون، صـــورت گیرد.

(۸) مدیر تصفیه مکلف است، صرف یک مرتبه از طریق پست بـــه شـــمول پست الکترونیکی یا نشـــر اطلاعیـــه، دائنین را درمورد رســـیدگی، مطلـــع سازد.

(۹) هرگاه دائنین به منظور رســـیدگی طلبات مربوط به کمیسیون که توسط پست به آنها خبر داده شـــده اســـت، حضور نیابند، طلبات آنهـــا رد شـــده پنداشته می شود.

(۱۰) کمیســـیون مکلـــف اســـت، درخواست های تجدید نظر رد شده را به دائنین مربوط طور کتبی اطـــلاع و نقل آن را به مـــدیر تصـــفیه، ارائـــه نماید.

(۱۱) تصمیم کمیسیون در رابطه بـــه اعتراض مندرج فقرهٔ (٦) ایـــن مـــاده نهائی شمرده شده و به مدیر تصـــفیه اطلاع داده و در فهرستی که توســـط

فهرست کې چې د تصفيې مدير په واسطه ساتل کېږي، ثبتېږي.

(۱۲)په هغهٔ صورت کې چې د دائنينو د نوې کتنې غوښتنليک د کمېسيون لخوا د تأييد وړ وګرځي، موضوع د کمېسيون له لوري نوموړو دائنينو ته خبر ورکول کېږي او نقل يې د تصفيې مدير ته، وړاندې کېږي.

(۱۳) د تصفيې مدير نشي کولای، هغه طلبات چې د کمېسيون په واسطه ردکېږي، ورکړي. هغه دائنين چې د هغوی طلبات د کمېسيون په واسطه ردېږي، کولای شي د خبرتيا د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې، د استيناف غوښتنه وکړي.

تسويه

يوسلو اته پنځوسمه ماده:

(۱) هغه تصميمونه چې ددې قانون د حکمونومطابق نيول کېږي، د تر تصفيې لاندې بانک او دهغهٔ په وړاندې د اړخونو ترمنځ دمکلفيتونو د تسويې خنډ

مدير تصفيه نگهداری می شود، ثبت می گردد.

(۱۲)درصورتی که درخواست تجديد نظردائنين از طرف کميسيون مورد تائيد قرار گيرد، موضوع از طرف کميسيون طورکتبی به دائنين مذکور اطلاع داده می شود و نقل آن به مدير تصفيه ارائه می گردد.

(۱۳) مدير تصفيه نمی تواند، درخواست طلباتی راکه توسط کميسيون رد می شود، پرداخت نمايد. دائنينی که درخواست آنها بنابر تصميم کميسيون رد می شود، می توانند در خلال مدت (۱۵) روز از تاريخ دريافت اطلاعيه، استيناف خواهی نمايند.

تسويه

مادهٔ يکصد وپنجاه وهشتم:

(۱) تصاميمی که مطابق احکام اين قانون اتخاذ می شود، مانع تسويهٔ مکلفيت ها بين بانک تحت تصفيه و طرف های مقابل آن شده

نشي کېدای.

(۲) دترتصفيې لانـدې بانـک او د قرارداد د اړخونو د حقوقو او وجيبـو د تشخيص په هکله، د فسخ او تسويې پـه اړه د شـرايطو لرونکـو مـالي قراردادونو حکمونه چـې د اړخونـو ترمنځ عقد شوي دي ، دتطبيق وړ دي. د قرارداد د فسخ خالص ارزښـت، د قرارداد د اړخ پر وړاندې د بانـک د ادعا او يا دهغې ادعا پربنسټ چـې د قرارداد اړخ د بانک پر وړاندې ثبـت کړې ده، تثبيتېږي.

د قرارداد د فسخ خالص ارزښت ددې فقرې په مفهوم هغه مبلغ دی چـې د شرايطو لرونکي مالي قرارداد د اړخونو ترمنځ د متقابلو وجيبو له تسويې څخه لاسته راځي.

(۳) د شرايطو لرونکی مالي قرارداد د لاندې موافقـه ليکونـو پـه مفهـوم دی:

۱- د اسعارو يا د تکتاني د نرخونو د معاوضې موافقه ليک.

۲-د مأخذ د معاوضې موافقه ليـک.

نمی تواند.

(۲) در مـورد تشـخيص حقـوق و وجايـب بانـک تحـت تصفيه وطـرفين قـرارداد، احکـام قـرارداد هـای مـالی واجـد شرايط که ميان طرفين در رابطـه بـه فسخ وتسويه عقد گرديده، قابل تطبيق می باشد. ارزش خالص فسخ قرارداد، براساس ادعای بانـک عليـه طـرف قرارداد و يـا ادعـای کـه طـرف قرارداد، عليه بانک ثبت نموده، تثبيت می گردد.

ارزش خـالص فسـخ قـرارداد بـه مفهوم اين فقره مبلغی است، کـه از تسويه وجايب متقابـل بـين طـرفين قرارداد مالی واجد شـرايط بدسـت می آيد.

(۳) قرارداد مالی واجد شـرايط بـه مفهـوم موافقتنامـه هـای ذيـل می باشد:

۱- موافقت نامهٔ معاوضهٔ اسـعار يـا نرخ های تکتانه.

۲- موافقتنامهٔ معاوضهٔ مأخذ.

۳- د چمتو، دمخه پير (پيش خريد)، مستقبلي موافقه ليکونه او د اسعارو نور موافقه ليکونه.

۴- د نوساني نرخ د زيات نه زيات يا لږترلږې ټاکونکي معاملې د تأمين موافقه ليک.

۵- د اجناسو د قرارداد د معاوضې موافقه ليک.

٦- دنرخ د دمخه پير(پيش خريد) موافقه ليک.

۷- د بيا پيرودنې (بازخريد) يا د معکوسې بيا پيرودنې موافقه ليک.

۸- د چمتو، د دمخه پير، مستقبلي معاوضې موافقه ليکونه او د اجناسو دقرارداد نور موافقه ليکونه.

۹- د پير، پلور، د پور د راکړې ورکړې، بها لرونکو سندونو، د بها لرونکو سندونودمعاملاتو دتسويې موافقه ليکونه اودسپارنې دبها لرونکو سندونو د خدمتونو د ترسره کولو موافقه ليکونه.

۱۰- ددې فقرې له (۱څخه تر ۹) اجزاوو پورې له درج شوو موافقه

۳- موافقتنامه های آماده، پيش خريد، مستقبلی و ساير موافقتنامه های اسعار.

۴- موافقتنامهٔ تأمين معاملهٔ تعيين کنندهٔ حداکثر يا حداقل نرخ نوسانی.

۵- موافقتنامه معاوضه قرارداد اجناس.

٦- موافقتنامه پيش خريد نرخ.

۷- موافقتنامهٔ بازخريد يا بازخريد معکوس.

۸-موافقتنامه های معاوضه آماده، پيش خريد، مستقبلی وساير موافقتنامه های قرارداد اجناس.

۹- موافقتنامه های خريد، فروش، داد وستد قرضه، اسناد بهادار، تسويهٔ معاملات اسناد بهادار و موافقتنامهٔ انجام خدمات اسناد بهادار سپرده گذاری.

۱۰- موافقتنامه های مشابه با موافقتنامه های مندرج اجزای

ليکونو سره ورته موافقه ليکونه يا د هغو په اړه هر ډول مشتق، ترکيب يا اختيار.

۱۱- ددې فقرې له (۱څخه تر ۱۰) اجزاوو پورې د درج شوو موافقه ليکونوپه اړه نغاړونکي موافقه ليکونه.

۱۲- ددې فقرې له (۱څخه تر ۱۱) اجزاوو پورې تر درج شوو موافقه ليکونو لاندې دپورونو ضمانت.

۱۳- په اړوندو مقررو کې تصريح شوي نور موافقه ليکونه.

(۴) د تصفيې دمدير له انتصاب وروسته ددې قانون په يوسلو پنځوسمه ماده کې ددرج شوومواردو په استثني د ترلاسه شوو طلباتو يامنل شوو پورونو تسويه صورت نشي موندلی.

د روانو (جاري) قراردادونو فسخ

يوسلو نهه پنځوسمه ماده:

(۱) د تصفيې مدير کولای شي، د پور، کرايې، اجارې او د قرارداد له لارې د پير او استخدام د قراردادونو په شمول د اجناسو د تحويلولو او د خدمتونو د

(۱الی۹) اين فقره يا هر گونه مشتق، ترکيب يا اختيار در رابطه به آن.

۱۱- موافقتنامه های فراگير در رابطه به موافقت نامه مندرج اجزای (۱ الی ۱۰) اين فقره.

۱۲- ضمانت ديون تحت موافقتنامه های مندرج اجزای (۱الی۱۱) اين فقره.

۱۳- سايرموافقتنامه های تصريح شده در مقرره های مربوط .

(۴) تسويهٔ طلبات کسب شده يا بدهی قبول شده بعد از انتصاب مدير تصفيه به استثنای موارد مندرج مادهٔ يکصدو پنجاهم اين قانون صورت گرفته نمی تواند.

فسخ قراردادهای جاری

مادهٔ يکصد وپنجاه ونهم:

(۱) مدير تصفيه می تواند، قراردادهای جاری بانک تحت تصفيه را در رابطه به تحويل اجناس و عرضهٔ خدمات بشمول قراردادهای فروش،

وړانـــــدې کولـــــو پـــــه اړه د تر تصـــفيې لانـــدې بانـــک جـــاري قراردادونه په يو اړخيز ډول د مناسبې مودې په ترڅ کې په قسمي ياکُلي توګه فسخ کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي قرارداد اړخ کـــولای شـــي، د قرارداد له مندرجاتو څخه له سرغړونې د راپيدا شوي زيان د جبران لپاره خپل اعتراض کمېسيون ته وړاندې کړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي زيان جبران د قرارداد د فسخ له نېټې څخه، ټاکل کېږي او يوازې پـــه مستقيم او واقعي زيان پورې محـــدود دی او د ګټې له ضياع څخه را پيـــدا شوي زيانونه يا غير پولي زيانونه پکـــې شامل نه دي.

(۴) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي زيـــان د جبـــران غوښـــتنه، د عمومي نه تضمين شـــوو طلبـــاتو پـــه توګه ددې قانون ديوسلودوه شـــپېتمې مادې د (۱) فقرې د (۸) جزء مطابق درجه بندي کېږي.

کرايـــه، اجـــاره وخريـــد از طريـــق قرارداد و استخدام به صـــورت يـــک جانبـــه در خـــــلال مـــدت زمـــان مناسب طورقسمی يـــا کلـــی فســـخ نمايد.

(۲) طرف قرارداد مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده می تواند، اعتراض خود را جهت جبران خساره ناشی از عـــدم ايفـــای مندرجات قراردادبه کميسيون ارائـــه نمايد.

(۳) جبران خسارهٔ مندرج فقرهٔ (۲) اين مـــاده از تـــاريخ فســـخ قـــرارداد، تعيـــين شـــده و صـــرف محـــدود به خسارهٔ مستقيم و واقعـــی بـــوده و شامل خساره های ناشی از ضياع مفاد يـــا خســـاره هـــای غيـــر پـــولی نمی باشد.

(۴) مطالبهٔ جبران خسارهٔ مندرج فقرهٔ (۲) اين مـــاده بـــه حيـــث طلبـــات تضمين ناشدهٔ عمومی مطـــابق حکـــم مندرج جـــزء (۸) فقـــرهٔ (۱) مـــادهٔ يکصد و شصت ودوم اين قانون درجه بندی می گردد.

د طلباتو په تصفيه کې تفاهم

يوسلو شپېتمه ماده:

(۱)دبانک دتصفيې مديرکولای شـــي، د طلباتو د تصفيې لپاره د بانـــک لـــه دائنينو او مديونينو سره تفاهم وکړي.

(۲) ددې مادې پـــه (۱) فقـــره کـــې درج شوی تفاهم، د نوې کتنې لپـــاره کمېسيون يا د استيناف غوښتنې لپـــاره واکمنې محکمې ته نه احاله کېږي.

تضمين شوي طلبات

يوسلو يوشپېتمه ماده:

(۱) د تصفيې مدير مکلف دی، هغـــه شتمنۍ چې دبانک په وړاندې د دائنينو منظور شوي طلبات يـــا د نـــورو پـــه وړاندې دبانک طلبـــات تضـــمينوي، دعمومي مزايدې لـــه لارې وپلـــوري. لاندې موارد لدې حکم څخه مســـتثني دي:

۱- دهغو بهالرونکو سندونو، اسعارو او نورو شتمنيو پلورل چې په آســـانۍ سره په بازار کـــې د پلـــورنې وړ دي، ددغو سندونو په خاصو بازارونو کې.

تفاهم در تصفيهٔ طلبات

مادهٔ يکصد وشصتم:

(۱) مدير تصفيهٔ بانک مـــی توانـــد، جهت تصفيهٔ طلبات با دائنين و مديونين بانک تفاهم نمايد.

(۲) تفاهم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، جهت تجديد نظر به کميسيون يا جهت استيناف خواهی به محکمـــه احالـــه نمی گردد.

طلبات تضمين شده

مادهٔ يکصد وشصت ويکم:

(۱) مدير تصـــفيه مکلـــف اســـت، دارائی های که طلبات منظـــور شـــدهٔ دائنين عليه بانک يا طلبات بانک عليه ديگران راتضمين می نمايد، از طريـــق مزايدهٔ عمومی بـــه فـــروش برســـاند. موارد ذيل از ايـــن حکـــم مســـتثنی می باشد:

۱- فروش اسناد بهادار، اسعار و ساير دارائی های را که به آسانی در بـــازار قابل فروش می باشـــند در بازارهـــای خاص اين اسناد.

۲- د بانک دهغو بهالرونکو سندونو، اسعارو او نورو شتمنیو پلورل چې دهغو پورونه تضمینوي او په آسانۍ سره په بازار کې د پلورنې وړ وي، د هغو دائینو په واسطه چې دغه شتمنۍ په واک کې لري.

(۲)که چېرې دتصفیې مدیر تشخیص کړي چې ددې مادې په(۱) فقره کې ددرج شوو شتمنیو لپاره مناسبه بیه په عمومي مزایده کې نه ترلاسه کېږي، کولای شي، شتمنۍ په خصوصي توګه په مناسبه بیه چې هغه یې ټاکي، وپلوري.

(۳) د تر تصفیې لاندې بانک ټولې شتمنۍ ددې مادې د (۱) فقرې په (۲) جزء کې ددرج شوو شتمنیو په استثني، د تصفیې د مدیر د غوښتنې په صورت کې دهغهٔ په واک کې ورکول کېږي.

(۴) د تصفیې دمدیر او داین ترمنځ شخړه، د هغې شتمنۍ په هکله چې د هغې په ذریعه یو طلب تضمینېږي، د کمېسیون په واسطه حل او فصل

۲- فروش اسناد بهادار، اسعار و سایر دارائی های بانک که بدهی های آن را تضمین می نماید و به آسانی در بازار قابل فروش باشد، توسط دائنین که این دارائی ها را در اختیار دارند.

(۲)هرگاه مدیرتصفیه تشخیص نماید که قیمت مناسب برای دارائی های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در مزایده عمومی بدست نمی آید، می تواند، دارائی ها را طور خصوصی به قیمت مناسبی که وی تعیین می نماید، به فروش برساند.

(۳) کلیه دارائی های بانک تحت تصفیه به استثنای دارائی های مندرج جزء (۲) فقرهٔ (۱) این ماده، در صورت تقاضای مدیر تصفیه در اختیار وی گذاشته می شود.

(۴) منازعه بین مدیر تصفیه و دائن، در مورد ارزش دارائی که ذریعهٔ آن یک طلب تضمین می شود، توسط کمیسیون حل و فصل می گردد.

کېږي. که چېرې نوموړې شتمنۍ په بازار یا عمومي مزایده کې پلورل شوې وي، د هغې پلورنې بیه چې له بازار یا عمومي مزایدې څخه لاسته راځي، د شتمنۍ د ارزښت په هکله، وروستۍ (نهایي) ګڼل کېږي.

د ورکړو لومړیتوب (تقدم)

یوسلو دوه شپېتمه ماده:

(۱) دترتصفیې لاندې بانک شتمنۍ د هغهٔ د دائنینو ترمنځ د لاندې لومړیتوبونو په ترتیب سره ورکول کېږي:

۱- بانک ته د ورکول شوو پورونو له بابته د دافغانستان بانک طلبات.

۲- د متولیت له ادارې څخه راپیدا شوي لګښتونه او مخارج.

۳- دتصفیې له ادارې څخه را پیدا شوي لګښتونه او مخارج.

۴- د تضمین شوو سپارنو له بابته طلبات.

۵- د تصفیې په بهیر کې بانک ته د ورکول شوو پورونو په اړه

هرگاه دارائی متذکره در بازار یا مزایده عمومی به فروش رسیده باشد، قیمت فروش که از بازار یا مزایده عمومی بدست می آید در مورد ارزش دارائی، نهائی شمرده می شود.

تقدم پرداخت ها

مادهٔ یکصد وشصت ودوم:

(۱) دارائی های بانک تحت تصفیه بین دائنین آن به ترتیب اولویت های ذیل پرداخت می گردد:

۱- طلبات دافغانستان بانک ازبابت قرضه های اعطاء شده به بانک.

۲- مصارف و مخارج ناشی از ادارهٔ متولیت.

۳- مصارف ومخارج ناشی از ادارهٔ تصفیه.

۴- طلبات از بابت سپرده های تضمین شده.

۵- طلبات در رابطه با قرضه های اعطاء شده به بانک درجریان

طلبات.

٦- دهغو نه تضمين شووسپارنو له بابته طلبات چې دپوردبهالرونکو سندونوپه ډول نه وي.

۷-هغه مالیات چې دتصفيې دپروسې دپیلېدو پر وخت يې د ورکړې له وخت څخه له دوو کلونو څخه زيات تېر شوی نه وي.

۸- دهغوی دنه ورکړل شوو معاشونو په هکله د بانک دکارکوونکو د طلباتو په شمول د دائنينو نه تضمين شوي طلبات چې د بانک د ذمت طلب دی. ددې فقرې په (۹) جزء کې د درج شوو دائنينو په استثني.

۹- د مؤخرو دائنينو طلبات.

(۲) که چېرې د بانک شتمنی، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو کتګوريو دهرې يوې د طلباتو ورکړې ته بسنه و نه کړي. د دائنينو د هر يوۀ طلب د هغو د ونډې په تناسب د بانک له پاتې شتمنيو څخه د ورکړې وړ دی.

(۳) پاتې شتمنی په هغو اشخاصو پورې اړه مومي چې دبانک دسندونو مطابق د

تصفيه.

٦- طلبات از بابت سپرده های تضمين ناشده که به صورت اسناد بهادار قرضه نباشد.

۷- مالياتی که درزمان آغاز پروسهٔ تصفيه از ميعاد تأديهٔ آن بيش از دوسال سپری نشده باشد.

۸- طلبات تضمين ناشدهٔ دائنين به شمول طلبات کارکنان بانک در مورد معاشات پرداخت ناشدهٔ ايشان که طلب ذمت بانک است.به استثنای دائنين مندرج جزء (۹) اين فقره.

۹- طلبات دائنين مؤخر.

(۲) هرگاه دارائی های بانک، پرداخت طلبات هر يک از کتگوری های مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را کفايت ننمايد، طلب هر يک از دائنين متناسب به سهم شان از دارائی های باقی ماندهٔ بانک قابل پرداخت می باشد.

(۳) دارائی های باقی مانده به اشخاصی تعلق می گيرد که مطابق اسناد بانک در

تصفيې د مدير د انتصاب په وخت کې د بانک د ونډه والو پــه توګــه وو. نوموړې شتمنۍ دونډه والو د ملکيت له ونډو سره متناسبې، هغو ته لېږدېږي.

له دائنينو سره نه پوهاوی

يو سلو دري شپېتمه ماده:

دتر تصفيې لاندې بانک په اړه له دائنينو ســـره تفـــاهم ددې قـــانون پـــه يو سلوشپېتمه ماده کې د درج شـــوو حکمونو په اســـتثني صـــورت نشـــي موندلای.

عمومي غونډه او د دائنينو کميټه

يوسلو څلور شپېتمه ماده:

(۱) دائنين نشي کولای، دتر تصـــفيې لاندې بانک د انحلال په اړه، عمومي غونډه جوړه کـــړي، خـــو دغونـــډې جوړېدو ته دارتيا په اړه د تصـــفيې د مـــدير دغوښـــتنليک لـــه املـــه او د دافغانستان بانک په تأييد سره.

(۲) دائنين نشي کولای، د تر تصفيې لاندې بانک د انحلال په اړه، کميټـــه جوړه کړي، خو د تصفيې د مـــدير د تاريخ انتصـــاب مديرتصـــفيه بحيـــث سهمدار بانک بوده اند. دارائی هـــای مذکور متناسب بـــا ســـهام ملکيـــت سهمداران، به آنها منتقل می گردد.

عدم تفاهم با دائنين

مادۀ يکصد وشصت وسوم:

تفاهم در رابطـــه بـــه بانـــک تحـــت تصفيه با دائنين به اســـتثنائی احکـــام مندرج مادۀ يکصـــد وشصـــتم ايـــن قـــانون، صـــورت گرفتـــه نمی تواند.

جلسۀ عمومی و کميتۀ دائنين

مادۀ يکصد وشصت وچهارم:

(۱) دائنين نمی توانند، در رابطه بـــه انحلال بانک تحت تصـــفيه، جلســـۀ عمومی را دايو نمايند، مگر بـــه اثـــر درخواست مدير تصـــفيه مبنـــی بـــر ضرورت تدوير جلسه وتائيد دافغانستان بانک.

(۲) دائنين نمی توانند، دررابطـــه بـــا انحلال بانک تحت تصفيه کميته ای را تشکيل نمايند، مگربه اثردرخواســـت

غوښتنليک او د دافغانستان بانک په تأيید یا د دائنینو دیوۀ یا له یوۀ څخه د زیاتو د ګټو د تمثیل یا ساتلو لپاره د کمېټې د تشکیل د مناسب والي په اړه د تصفیې د مدیر په تصمیم.

(۳) د تصفیې مدیر کولای شي، د عمومي غونډې د جوړېدو یا د دائنینو دکمیټې د تشکیل په اړه د تصمیم له نیولو وروسته، د هغوی دندې او واکونه مشخص کړي.

د وېش جدول

یوسلو پنځه شپېتمه ماده:

(۱) د تصفیې مدیر کولای شي، د مساوي درجې لرونکي منظور شوي طلبات په یوه کتګورۍ کې درج او د لومړیتوب د حق پرېنسټ، هغوی فهرست او ددې قانون په یوسلو دوه شپېتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق یې د شتمنۍ دوېش په جدول کې ثبت کړي. ددې قانون په یوسلو یوپنځوسمه ماده کې ددرج شوي حکم په استثني د طلباتي ورکړې وړ هغه

مدیر تصفیه وتائید دافغانستان بانک یاتصمیم مدیرتصفیه مبنی بر مناسب بودن تشکیل کمیته جهت تمثیل یا حفظ منافع یک یا بیشتری از دائنین.

(۳) مدیر تصفیه می تواند، بعد از اخذ تصمیم مبنی بر تدویر جلسۀ عمومی یا تشکیل کمیتۀ دائنین، وظایف و صلاحیت های آنها را مشخص نماید.

جدول توزیع

مادۀ یکصد وشصت وپنجم:

(۱) مدیر تصفیه می تواند، طلبات منظور شدۀ دارای درجۀ مساوی را در یک کتگوری درج و به اساس حق تقدم، آنها را فهرست و در جدول توزیع دارائی طبق حکم مندرج مادۀ یکصدوشصت ودوم این قانون ثبت نماید. به استثنائی احکام مندرج مادۀ یکصدوپنجاه ویکم این قانون مبالغ قابل پرداخت طلباتی که دردرجۀ مساوی

مبالغ چې په مساوي درجه کې دي، دشته وجوهود اندازې په پام کې نیولو سره، په عین سلنې ټاکل او ورکول کېږي.

(۲) د تصفیې مدیر مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي جدول کې شاملې ورکړې، اجراء کړي. د وېش په جدول کې شامل هغه مبالغ چې د نه پېژندنې او یا د هغو له دائنینو سره د اړیکې (تماس) د نه شونتیا په علت د ورکړې وړ نه دي، تریوۀ حساب لاندې، د دافغانستان بانک ته سپارل کېږي.

(۳)دتصفیې مدیر د خبرتیا په صادرولو او د هېواد له کثیرالانتشار ورځپاڼو څخه په یوه کې ددې مادې په(۲) فقره کې د درج شوو دائنینو د نومونو په خپرولو سره دهغوی طلباتو ته د رسیدګی په غرض دوی ته بلنه ورکوي.

(۴) دائنینو یا د هغوی ورثه وو ته د ورکړې لپاره سپارل شوي مبالغ، د هغې مودې تر پایته رسېدو پورې چې د قانون په واسطه ټاکل شوې ده، له

قرار دارند، بانظرداشت اندازۀ وجوه موجود، به عین فیصدی تعیین و پرداخت می گردند.

(۲) مدیر تصفیه مکلف است، پرداخت های مشمول جدول مندرج فقرۀ (۱) این ماده را اجراء نماید. مبالغ شامل جدول توزیع که به علت عدم شناسائی و یا عدم امکان تماس با دائنین آن قابل پرداخت نمی باشد، تحت یک حساب به دافغانستان بانک سپرده می شوند.

(۳) مدیر تصفیه با صدور اطلاعیه و نشر اسامی دائنین مندرج فقرۀ (۲) این ماده در یکی از روزنامه های کثیرالانتشار کشور از ایشان غرض رسیدگی به طلبات شان دعوت می نماید.

(۴)مبالغ سپرده شده جهت پرداخت به دائنین یا ورثه آنها، نزد دافغانستان بانک الی انقضای مدتی که توسط قانون تعیین گردیده

د دافغانستان بانک سره پاتې کېږي. د دائنینو یا دهغو دورثه وو دنه مراجعې په صورت کې، نوموړي مبالغ دولت ته لېږدول کېږي.

د هغو مسئولو اشخاصو په وړاندې چې بانک ته یې زیان اړولی وی، د طلباتو د تعقیب واک

یو سلو شپږ شپېتمه ماده:

(۱)که چېرې ثابته شي چې دترتصفیې لاندې بانک د نظار هیئت یا عامل هیئت له غړو څخه یوهٔ، د دې قانون، د اړوندو مقررو له حکمونوڅخه دسرغړونې یا دسلوک دډول له اصولو څخه د سرغړونې له امله، بانک ته دزیان لامل شوی دی، دهغه لخوا د وارد شوي زیان د اندازې متناسب، مسئول ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د سلوک د ډول له اصولو څخه سرغړونه د ګټې د ترلاسه کولو په منظور د ونډه وال یا په بانک کې دواکمنې استحقاقي

است، می ماند. درصورت عدم مراجعه دائنین یا ورثه آنها مبالغ متذکره به دولت انتقال می یابد.

صلاحیت تعقیب طلبات علیه اشخاص مسئول که به بانک خساره وارد نموده اند

مادهٔ یکصد و شصت وششم:

(۱) هرگاه ثابت گردد که یکی از اعضای هیئت نظار یا هیئت عامل بانک تحت تصفیه در اثر تخطی از احکام این قانون، مقرره های مربوط یا تخطی از اصول طرز سلوک باعث خساره به بانک شده است، متناسب به اندازهٔ خسارهٔ وارده از جانب وی، مسئول می باشد.

(۲) هرگاه تخطی از اصول طرز سلوک مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، نظر به هدایت، تحریک یا پیشنهاد مستقیم یا غیر مستقیم سهمدار یا شخص واجد سهم استحقاقی

وندې د لرونکي شخص دلارښوونې، تحريک يا دمستقيم ياغيرمستقيم وړانديز له مخې صورت موندلی وي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی حکم، پر ونډه وال يا نوموړي شخص باندې هم د تطبيق وړ دی.

(۳) د تصفيې مدير کولای شي، د هغو زيانونو د اعادې لپاره چې د هغهٔ له انتصاب څخه دمخه، پدې ماده کې د درج شوو اشخاصو د اقداماتو دنيولو له امله بانک ته وراووښتي دي، دعوي اقامه کړي. نوموړې دعوي د تصفيې د پروسې له بشپړېدو وروسته هم اقامه کېدای شي.

(۴) که چېرې خپلواک قراردادیان د حقوق پوهانو، محاسبينو او ارزوونکو (هغه اشخاص چې د بانک شتمنۍ قيمت ګذاري کوي) په شمول، د تصفيې د مدير له انتصاب څخه په دمخه دوره کې د بانک لپاره دبرابرو شووخدمتونو د وړاندې کولو په اړه د اهمال، غير قانوني اقداماتو يا دمقتضي اقداماتو دنه کولو له امله، بانک ته د زيان لامل

ذيصلاحيت در بانک به منظور کسب منفعت صورت گرفته باشد، حکم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، بالای سهمدار يا شخص مذکور نيز قابل تطبيق می باشد.

(۳) مدير تصفيه می تواند، جهت اعادهٔ خساراتی که قبل از انتصاب وی از اثر اتخاذ اقدامات اشخاص مندرج اين ماده به بانک وارد شده است، اقامه دعوی نمايد. دعوی مذکور بعد از تکميل پروسهٔ تصفيه نيز اقامه شده می تواند.

(۴) هرگاه قراردادیان مستقل به شمول حقوقدانان، محاسبين و ارزيابان (اشخاصی که دارائی های بانک را قيمت گذاری می نمايند) بالاثر اهمال، اقدامات غيرقانونی ياعدم اتخاذ اقدامات مقتضی در رابطه به عرضهٔ خدمات فراهم شده برای بانک دردورهٔ قبل از انتصاب مدير تصفيه، باعث خساره به بانک

شوي وي، د تصفيې مدير کولای شي،د زيان د جبران لپاره، دهغوی پـــرخلاف دعوي اقامه کړي.

له قضايي رسيدګۍ څخـــه دمخـــه دمؤقت دستور صادرول

يوسلو اووه شپېتمه ماده:

(۱) محکمه کولای شي، ددې قانون د يو سلو شپږ شپېتمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوې دعوې داقامې په اړه يا د تصـــفيې د مـــدير د غوښـــتنليک پربنسټ، له لاندې مؤقتو دســـتورونو څخه يوصادر کړي:

۱- د وجوهو، شتمنيو يا نورو مالونو د برداشت، لېږدولو، تيتولو، بربـــادولو، حذف يا پرېښودلو لـــه اقـــدام څخـــه دمدعي عليه يا د هغهٔ ترکنترول لاندې شرکت منع کول.

۲- د محکمې تر کنترول لانـــدې د وجوهو، شتمنيو يا مالونو اېښودل.

(۲) محکمه کولای شي،ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شـــوو مؤقتـــو دستورونو د تطبيقولو لپاره يو يـــا لـــه

شده باشند، مدير تصفيه مـــی توانـــد، جهت جبران خساره، عليه آنها اقامـــهٔ دعوی نمايد.

صدور دســـتور مؤقـــت قبـــل از رسيدگی قضائی

مادهٔ يکصد وشصت وهفتم:

(۱) محکمه می تواند، در رابطه با اقامهٔ دعـــوی منـــدرج فقـــرهٔ (۳) مـــادهٔ يکصدوشصت وششم اين قانون يابنابر درخواست مـــدير تصـــفيه، يکـــی از دستورهای مؤقـــت ذيـــل را صـــادر نمايد:

۱- منع مدعی عليه يا شرکت تحـــت کنترول وی، ازاقدام بـــه برداشـــت، انتقال، پراگنده نمودن، برباد نمودن، حذف يا واگذاری وجوه، دارائی ها يا ساير اموال.

۲- قرار دادن وجوه، دارائی هـــا يـــا اموال، تحت کنترول محکمه.

(۲) محمکه می تواند، جهت تطبيـــق دستورهای مؤقت مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، يک يا بيش از يـــک شـــخص

يوهٔ څخه زيات اشخاص وټاکي.

(۳) محکمه کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مؤقت دستورونه په لاندې حالاتو کې صادر کړي:

۱- د پياوړي احتمال شتون چې د تصفيې مدير پدې قضيه کې ذيحق وپېژندل شي.

۲- د تصفيې دمدير د غوښتنليک تأييد د قضيې د نورو اړخونو د هر يوهٔ دکتنې وړ ضرر باعث نه کېږي.

۳- د تصفيې دمدير د غوښتنليک تأييد عامه ګټې تأمينوي.

(۴) محکمه کولای شي، ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي حکم د مؤقت دستور په اړه د تصفيې د مدير په غوښتنه د ليکلې لارښوونې په صادرولو سره هغه بانکونه يا مالي مؤسسې چې په مؤقت دستور کې درج شوی شخص يا د نومورې شخص ترکنترول لاندې هر شرکت، په هغوکې بانکي حساب يا حسابونه ولري يا په دې حساب يا حسابونو باندې کنترول

را تعيين نمايد.

(۳) محکمه می تواند، دستورهای مؤقت مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را در حالات ذيل صادر نمايد:

۱- موجوديت احتمال قوی که مدير تصفيه دراين قضيه ذيحق شناخته خواهد شد.

۲- تائيد درخواست مدير تصفيه باعث ضرر قابل ملاحظه به هر يک از جوانب ديگر قضيه نمی شود.

۳- تائيد درخواست مدير تصفيه منافع عامه را تأمين می نمايد.

(۴) محکمه می تواند، در رابطه با دستور مؤقت حکم مندرج فقرهٔ (۳) اين ماده، به درخواست مدير تصفيه با صدورهدايت کتبی، بانک ها يا مؤسسات مالی را که شخص مندرج دستور مؤقت يا هر شرکت تحت کنترول شخص مذکور در آنها دارای حساب يا حسابات بانکی است يا بالای اين حساب يا حسابات کنترول دارد، مکلف

ولري، مکلف کړي چې دغه حسابونه په بيړنۍ توګه کنګل او په هغو کې شته مبالغ تر وروستۍ (وړپسې) لاربښوونې پورې وساتي.

(۵) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مؤقت دستورونه د وروستۍ پرېکړې تر صادرېدو يا د محکمې په واسطه په بل ډول د هغو تر حل او فصل پورې، د اعتبار وړ دي.

د هېواد له پولې بهر تصفيه

يوسلو اته شپېتمه ماده:

که چېرې تر تصفيې لاندې بانک د هېواد له پولې بهر فعاليت وکړي، د تر تصفيې لاندې بانک ټولو شتمنيو ته د کورنيو يا بهرنيو دائنينو د مساوي لاس رسۍ د زمينې دبرابرولوپه منظور،لاندې اقدامات صورت مومي:

۱–په هغۀ صورت کې چې د ترتصفيې لاندې کورني بانک په يوۀ بهرني هېواد کې فرع يا د نمايندګۍ دفتر ولري، د دافغانستان بانک ترممکنه حده پورې دنوموړي هېواد له مقاماتو سره د نماید، که این حسابات را طور عاجل منجمد و مبالغ موجود در آن را الی هدایت بعدی حفظ نماید.

(۵) دستورهای مؤقت مندرج فقرۀ (۱) این ماده الی صدور فیصله نهائی یا حل و فصل آن طور دیگری توسط محکمه، مدار اعتبار می باشد.

تصفیۀ خارج از مرزکشور

مادۀ یکصد وشصت وهشتم:

هرگاه بانک تحت تصفیه در خارج ازمرز کشور فعالیت نماید، به منظور ایجاد زمینۀ دسترسی مساوی دائنین داخلی وخارجی به کلیه دارائی های بانک تحت تصفیه، اقدامات ذیل صورت می گیرد:

۱– درصورتی که بانک داخلی تحت تصفیۀ دارای فرع یا دفتر نمایندگی در یک کشور خارجی باشد، دافغانستان بانک تا حد ممکن با مقامات کشور مذکور در رابطه

بانک د تصفيې په اړه همکاري کوي.

۲-په هغهٔ صورت کې چې دترتصفيې لاندې کورني بانک دايـن د خپلـو اړوندو طلباتو د ورکړې يوه برخه پـه بهرني هېواد کې ترلاسه کړې وي، پاتې طلبات د قضيې له حل او فصل څخه له راپيدا شوو لګښتونوسره،په افغانستان کې د هغهٔ په ورکړه کې شاملېدای شي.

۳- دتصفيې مدير، د بانک دمتوليت، تصفيې او د بيا رغونې د تدبيرونو، يا په افغانستان کـې د خپلـو فروعـو او نمايندګيو د دفترونو په هکله د نامېشتو بانکونو دانحـلال د نـورو اړونـدو تدبيرونو په اړه د بهرنيو واکمنو مراجعو په واسطه د صادرو شوو تصميمونو د تأييـد پـه هکلـه تصـميم نيسي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې نا مېشت بانک پـه هغـهٔ هېـواد کـې چـې مرکزي دفتر يې هلته واقع دی، يا خپله راکړه ورکړه عمدتاً هلته ترسره کوي، د انحلال، تصفيې يا ورته اقداماتو پـه

بـه تصـفيهٔ بانـک همکـاری می نماید.

۲- در صورتی کـه دائـن بانـک داخلی تحـت تصـفيه، قسـمتی از پرداخـت مربـوط بـه طلبـاتش را در کشور خـارجی دريافـت کـرده باشد، بقيهٔ طلبات با مصارف ناشـی از حل و فصل قضيه، در افغانسـتان شامل پرداخت وی شده می تواند.

۳-مـدير تصـفيه، در مـورد تائيـد تصـاميم صـادره توسـط مراجـع ذيصـلاح خـارجی مبنی بر متوليت، تصفيه و تدابير احيای مجدد بانک، يا ساير تدابير مربوط به انحلال بانک های غير مقيم در مورد فروع و دفـاتر نماينـدگی شـان در افغانسـتان تصـميم اتخـاذ می نماید.

۴- در صورتی که بانک غير مقيم در کشـوری کـه دفتـر مرکـزی اش درآن جا واقع است، يا داد و ستد خود را عمـدتاً در آن جـا انجـام می دهد، در حال انحلال، تصفيه يـا

حال کې وي، د دافغانستان بانک کولای شي، د لزوم په صورت کې د بانک د دائنینو د ګټو د ساتلو لپاره، په افغانستان کې د نا مېشت بانک د شتمنیو د لېږدولو اجازه منحلوونکو مراجعو، د تصفیې مدیر یا په هغهٔ هېواد کې ورته مراجعو ته صادره کړي.

اقدامات مشابه باشد، دافغانستان بانک می تواند، در صورت لزوم دید جهت حفظ منافع دائنین بانک، اجازهٔ انتقال دارائی های بانک غیرمقیم در افغانستان را به مراجع منحل کننده، مدیر تصفیه یا مراجع مشابه در آن کشور صادر نماید.

د تصفیې پای

یوسلو نهه شپېتمه ماده:

(۱) د بانک د تصفیې پروسه په هغهٔ حالت کې پایته رسېږي چې د بانک شتمنۍ او پورونه وپلورل شي یا په نغده وجه بدل شي او ماحصل یې مستقیماً د بانک دائنینو ته ورکړل شي، یا دسپارنې په توګه د دافغانستان بانک ته ورکول شي، ترڅو د بانک دائنین وکولای شي، عندالمراجعه نومورې مبلغ ددې قانون د یوسلو پنځه شپېتمې مادې په (۴) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، له د دافغانستان بانک څخه ترلاسه کړي.

(۲) ددافغانستان بانک عالي شوري

ختم تصفیه

مادهٔ یکصد وشصت ونهم:

(۱) پروسهٔ تصفیه بانک در حالتی خاتمه می یابد که دارائی ها و بدهی های بانک به فروش رسیده یا به وجه نقد تبدیل گردیده و ماحصل آن مستقیماً به دائنین بانک پرداخت شده، یا بحیث سپرده نزد دافغانستان بانک قرار داده شود، تا دائنین بانک بتوانند عندالمراجعه، مبلغ متذکره را طبق حکم مندرج فقرهٔ (۴) مادهٔ یکصد وشصت و پنجم این قانون، از دافغانستان بانک دریافت نمایند.

(۲) شورای عالی د افغانستان

مکلفه ده، په هغهٔ صورت کې چې د ترتصفيې لاندې بانک چارې په بشپړه توګه تسويه شوې وي، د پرېکړې (فيصلې) په صادرولو سره، بانک د انحلال له نېټې څخه منحل اعلام او دنومړي بانک د سندونو او دفترونو د ساتلو ځای مشخص کړي.

(۳) د بانکونو د ثبت دفتر مکلف دی، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي انحلال له اعلام وروسته، نومړی بانک له اړوند دفتر څخه حذف کړي.

بانک مکلف است، در صورتی که امور بانک تحت تصفیه، کاملاً تسویه گردیده باشد با صدور فیصله، بانک را از تاریخ انحلال، منحل اعلام و محل حفظ اسناد و دفاتر بانک مذکور را مشخص نماید.

(۳) دفتر ثبت بانک ها مکلف است، بعد از اعلام انحلال مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، بانک مذکور را از دفتر مربوط حذف نماید.

د تصفيې ميعاد

يوسلو اويايمه ماده:

د تصفيې مدير مکلف دی، ترڅو د مناسبې مودې په ترڅ کې د تر تصفيې لاندې بانک تصفيه سرته ورسوي.

معیاد تصفیه

مادهٔ یکصد وهفتادم:

مدیر تصفیه مکلف است، تا در خلال مدت مناسب تصفیه بانک تحت تصفیه را به انجام برساند.

د تصفيې رپوټ

يوسلو يواويايمه ماده:

(۱) دتصفيې مدير مکلف دی، د بانک د تصفيې بشپړې محاسبې چې ددې قانون د حکمونو مطابق يې صورت

گزارش تصفیه

مادهٔ یکصد وهفتاد ویکم:

(۱)مدیر تصفیه مکلف است، محاسبات کامل تصفیهٔ بانک را که مطابق احکام این قانون صورت گرفته

موندلی دی، په خوندي توګه وساتي.

(۲) د تصفيې مدير مکلف دی، د تصفيې له مواردو څخه د هريوۀ په اړه، د کلنۍ محاسبې سندونه يا رپوټونه د دافغانستان بانک، په لاسرسۍ کې ورکړي.

(۳) د تصفيې مدير مکلف دی، ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی رپوټ د غوښتنې په صورت کې د تصفيه شوي بانک هر يوۀ ونډه وال يا ټولو خلکو ته وړاندې کړي.

(۴) د تصفيې مدير مکلف دی، د اړوندې محاسبې سندونه د تصفيې په اداره کې لږترلږۀ د (٦)کلونو مودې لپاره وساتي، خودا چې د محکمې په واسطه په بل ډول تجويز شوي وي.

است، طور محفوظ نگهداری نماید.

(۲) مدير تصفيه مکلف است، در رابطه به هر يک از موارد تصفيه، اسناد يا گزارشات محاسبۀ سالانه را به دسترس دافغانستان بانک قرار دهد.

(۳) مديرتصفيه مکلف است، گزارش مندرج فقرۀ (۲) اين ماده را در صورت تقاضا به هر يک از سهمداران بانک تصفيه شده ياعموم مردم ارائه نمايد.

(۴) مدير تصفيه مکلف است، اسناد محاسبۀ مربوط را در ادارۀ تصفيه برای مدت حداقل (٦) سال حفظ نمايد، مگر اين که توسط محکمه طور ديگری تجويز گرديده باشد.

څوارلسم فصل

جزايي حکمونه

د بانک له عنوان څخه ګټه اخيستنه او د واکمني استحقاقي ونډې ترلاسه کول

يو سلو دوه اويايمه ماده:

(۱) که چېرې شخص ددې قانون د دريمې مادې په (۲ او۳) فقرو کې درج شوي حکمونه رعايت نه کړي، له احوال سره سم په هغه نغدي جريمه چې له شلو ميليونو(۲۰۰۰۰۰۰۰) افغانيو څخه زياته يا هغهٔ حبس چې له پنځو کلونو څخه زيات نه وي، يا په هغو دواړو محکومېږي.

(۲) که چېرې شخص، ددې قانون د يو ويشتمې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه سرغړونه وکړي، يا ددې قانون د څلېريشتمې مادې په (۵) فقره کې درج شوی دستور رعايت نه کړي، پدې صورت کې سرغړوونکی له احوالو سره سم په هغه نقدي جريمه چې له شلو ميليونو

فصل چهاردهم

احکام جزائی

استفاده از عنوان بانک و کسب سهم استحقاقی ذیصلاحیت

مادهٔیکصد وهفتاد ودوم:

(۱) هرگاه شخص احکام مندرج فقره های (۲ و ۳) ماده سوم این قانون را رعایت ننماید، حسب احوال به جریمهٔ نقدی ایکه از بیست میلیون (۲۰۰۰۰۰۰۰) افغانی بیشتر یا حبس که از پنج سال بیشتر نباشد و یا به هر دوی آنها محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص، از حکم مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست و یکم این قانون تخطی نموده یا دستور مندرج فقرهٔ (۵) مادهٔ بیست وچهارم این قانون را رعایت ننماید، در این صورت متخلف حسب احوال، به جریمهٔ نقد ایکه از بیست میلیون (۲۰۰۰۰۰۰۰)

(۲۰۰۰۰۰۰۰) افغانیوڅخه زیاته یا هغهٔ حبس چې له پنځو کلونو څخه زیات نه وي، یا په هغو دواړو محکومېږي.

د دافغانستان بانک د قانون او مقررو له حکمونو څخه سرغړونه

یوسلو دري اویایمه ماده:

(۱) ددې قانون د یو سلو اوومې مادې د (۲) فقرې په (۳) جزء کې درج شوې نغدي جریمه د هرې سرغړونې یا د هغې د هرې ورځې د تداوم په وړاندې د حقیقي شخص لپاره زیات نه زیات دوه سوه پنځوس زره (۲۵۰۰۰۰) افغانۍ او دحُکمي شخص لپاره زیات نه زیات یو میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ ټاکل کېږي.

(۲) د دافغانستان بانک کولای شي، پر حقیقي شخص باندې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې نغدي جریمې د وضع په صورت کې، بانک یا د بانک د عین ګروپ اړونند شرکت د نوموړي شخص په عوض د

افغانی بیشتر یا حبس که از پنج سال بیشتر نباشد یا به هر دو آن محکوم می گردد.

تخلف از احکام قانون و مقرره های د افغانستان بانک

مادهٔ یکصد وهفتاد وسوم:

(۱) جریمهٔ نقدی مندرج جزء (۳) فقرهٔ (۲) مادهٔ یکصد وهفتم این قانون در برابر هر تخطی یا هر روز تداوم آن برای شخص حقیقی حداکثر مبلغ دو صدوپنجاه هزار (۲۵۰۰۰۰) افغانی و برای شخص حکمی حداکثرمبلغ یک میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانی تعیین می گردد.

(۲) دافغانستان بانک می تواند، در صورت وضع جریمهٔ نقدی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بالای شخص حقیقی، بانک یا شرکت متعلق به عین گروپ بانک را از پرداخت جریمهٔ وضع

وضع شوې جريمې له ورکړې څخه، منع کړي.

پنځلسم فصل
متفرقه حکمونه

د نوې کتنې غوښتنليک

يوسلو څلور اويايمه ماده:

(۱) کمېسيون نشي کولای، د متوليت يا تصفيې دپيل په اړه تصميمونه يا د متوليت يا تصفيې په پروسه کې نيول شوي اقدامات تعليق، تعديل يا لغو کړي.

(۲) که چېرې شخص د کمېسيون په پرېکړې باندې اعتراض ولري، کولای شي، ددې قانون د حکمونو مطابق د نوې کتنې غوښتنليک واکمنې محکمې ته وړاندې کړي. په هغهٔ صورت کې چې دنوې کتنې غوښتنليک د بانک متوليت يا تصفيې ته د کمېسيون له اقدام او پرېکړې سره اړيکه ولري، محکمه، داقداماتو د ادعاء او دنومورو تصميمونوقانوني والی بررسي کوي او يوازې د اووښتي زيان د جبران د شده به عوض شخص مذکور، منع نمايد.

فصل پانزدهم
احکام متفرقه

درخواست تجديد نظر

مادهٔ يکصد وهفتاد وچهارم:

(۱) کميسيون نمی تواند، تصاميم مبنی بر آغاز متوليت يا تصفيه يا اقدامات اتخاذ شده در پروسهٔ متوليت يا تصفيه را تعليق، تعديل يا لغو نمايد.

(۲) هرگاه شخص به فيصلهٔ کميسيون اعتراض داشته باشد، می تواند، درخواست تجديد نظر را مطابق احکام اين قانون به محکمه ارائه نمايد. در صورتی که درخواست تجديد نظربا اقدام وفيصلهٔ کميسيون به متوليت يا تصفيه بانک ارتباط داشته باشد، محکمه، قانونی بودن ادعای اقدامات و تصاميم متذکره را بررسی نموده و صرف صلاحيت رسيدگی به جبران خسارهٔ وارده را دارا

رسیدگی واک لري او نشي کولای د متولیت یا تصفیې د عملیې د پیل په اړه تصمیمونه یا د متولیت یا تصفیې د پروسې په وخت کې نیول شوي هغه نور اقدامات چې په نا مقیده توګه د پیرودنې او ژمنې په معاملاتو کې شامل دی، تعلیق، تعدیل یا لغو کړي.

می باشد، و نمی تواند تصامیم مبنی بر آغاز عملیهٔ متولیت یا تصفیه یا سایر اقدامات اتخاذ شده درحین پروسهٔ متولیت یا تصفیه را که طور نامقید شامل معاملات خریداری و تعهد می باشد، تعلیق، تعدیل یا لغو نماید.

انتقالي حکمونه

احکام انتقالی

یوسلو پنځه اویایمه ماده:

هغه بانکونه چې په افغانستان کې ددې قانون له نافذېدو څخه دمخه یې د بانکداری جواز ترلاسه کړی او فعالیت کوي، په نوموړو بانکونو کې د واکمنې استحقاقي وندې لرونکي اشخاص او د عین ګروپونو هغه غړي شرکتونه چې بانکونه په هغو پورې اړه لري، دبانکونو فروع او په افغانستان کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو فعال دفترونه، مکلف دي، ددې قانون د نافذېدو له نېټې څخه زیات نه زیات د دوولسو میاشتو په ترڅ کې خپل ټول فعالیتونه پدې قانون کې له درج شوو

مادهٔ یکصد وهفتاد وپنجم:

بانک های که در افغانستان قبل از انفاذ این قانون جواز بانکداری اخذ نموده و فعالیت می نمایند، اشخاص دارای سهم استحقاقی ذیصلاحیت در بانک های متذکره و شرکت های عضو عین گروپ های که بانک ها به آن تعلق دارند، فروع بانک ها ودفاتر نمایندگی های بانک های خارجی فعال در افغانستان درخلال حداکثر الی دوازده ماه از تاریخ انفاذ این قانون مکلف اند، تمام فعالیت های خود را با احکام مندرج این قانون عیار

حکمونو سره عیار کړي.

د حکمونو ارجحیت

یوسلو شپږ اویایمه ماده:

که چېرې ددې قانون له حکمونو څخه یو حکم، د نورو تقنیني سندونو له حکم سره په مغایرت کې راشي، ددې قانون حکمونو ته ارجحیت ورکول کېږي.

د مقـــررو وړاندیز او دکړنلارو، لارښـــودونو او متحـــدالمالونو وضع

یوسلو اووه اویایمه ماده:

(۱) د دافغانستان بانک کولای شـــي، ددې قانون دحکمونو د ښه تطبیق لپاره مقررې وړاندیز، کړنلارې، لارښودونه او متحدالمالونه وضع کړي.

(۲) د دافغانستان بانک مکلف دی، د دې مادې پـــه (۱) فقـــره کـــې درج شوې مقررې، کړنلارې، لارښودونه او متحدالمالونه د بانکداری د ســـکتور د خبرتیا (آګاهی) په غرض پـــه اړونـــده برښنا پاڼه کې خپارۀ او یوه کاپي یې د نظریو او وړاندیزونو د راټولولو لپـــاره سازند.

ارجحیت احکام

مادۀ یکصد وهفتاد وششم:

هرگـــاه حکمـــی از احکـــام ایـــن قـــانون، بـــا حکـــم ســـایر اســـناد تقنینی در مغایرت قرار گیرد، به احکام این قانون ارجحیت داده می شود.

پیشـــنهاد مقـــرره ها و وضـــع طرزالعمل هـــا، رهنمـــود هـــا و متحدالمال ها

مادۀ یکصد وهفتاد وهفتم:

(۱) دافغانستان بانک می تواند، جهت تطبیق بهتر احکام این قانون مقرره ها را پیشنهاد، طرزالعمل ها، رهنمود هـــا و متحدالمال ها را وضع نماید.

(۲) دافغانستان بانک مکلف اســـت، مقرره ها، طرزالعمل ها، رهنمود ها و متحدالمال های مندرج فقرۀ (۱) این ماده را غرض آگاهی سکتور بانکداری در ویب سایت مربوط نشر و یک کاپی آن را جهت جمـــع آوری نظریـــات و پیشنهادات به مراجع ذیربط ارســـال

اړوندو مراجعو ته واستوي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوې اړوندې مراجع مکلفې دي، د طرح په اړه خپلې ليکلې نظريې او وړانديزونه د هغې مودې په ترڅ کې چې د طرح له خپرېدو وروسته له يوې مياشتې څخه زياته نه وي، د دافغانستان بانک ته وړاندې کړي.

(۴) که چېرې د دافغانستان بانک تشخيص کړي چې ددې مادې په (۲ او ۳) فقرو کې د درج شوو حکمونو په تطبيق کې ځنډ، دبانکدارۍ د سيستم ګټوته جدي ګواښ ګڼل کېږي، دوړانديز شوې طرح په هکله نوموړي حکمونه، د رعايت وړنه دي.

ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مقررې، کړنلارې، لارښودونه اومتحدالمالونه دلاندې توضيحاتو لرونکي دي:

۱- پدې قانون کې د درج شوو دندو او واکونو د اجراء ډول.

۲- دبانکونو دلارښوونې لپاره د هغۀ د شرايطو د رعايت په برخه کې ددې

نمايد.

(۳) مراجع ذيربط مندرج فقرۀ (۲) اين ماده مکلف اند، نظريات و پيشنهادات کتبی خويش را در مورد طرح درخلال مدتی که بيشتر از يک ماه بعد از نشر طرح نباشد، به د افغانستان بانک ارائه نمايند.

(۴) هرگاه دافغانستان بانک تشخيص نمايد که تأخيردر تطبيق احکام مندرج فقره های (۲ و۳) اين ماده تهديد جدی به منافع سيستم بانکداری پنداشته می شود، احکام متذکره در مورد طرح پيشنهاد شده قابل رعايت نمی باشد.

مقرره ها، طرزالعمل ها، رهنمودها و متحدالمال های مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، حاوی توضيحات ذيل می باشد:

۱- طرز اجرای وظايف و صلاحيت های مندرج اين قانون.

۲- توضيح احکام اين قانون جهت رهنمائی بانک ها در زمينۀ رعايت

قانون د حکمونو توضیح.

۳- ددې قانون او نورو قوانینو د حکمونو درعایت په منظور، دفعالیتونو د اجراء کولو دډول په برخه کې له بانکونو څخه ددافغانستان بانک د هیلې (توقع) توضیح.

۴- د هغو تګلارو او فعالیتونو ټاکل او توضیح چې د دافغانستان بانک له نظره، دبانکونو مالي سلامتیا یا ثبات یا ټول مالي سیستم زیانمنوي.

(۵) هغه مقررې، کړنلارې ، لارښودونه او متحدالمالونه چې په دې ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق د دافغانستان بانک له خوا وړاندیز او وضح کېږي، پر متبوع بانکي شرکتونو، د بانکونو او متبوع بانکي شرکتونو دنظار هیئت او عامل هیئت، پرغړو او په بانکونو او متبوع بانکي شرکتونو کې د واکمنې استحقاقي ونډې پر لرونکو اشخاصو او د عین ګروپ پراړوندو شرکتونو چې بانک یا متبوع بانکې شرکتونه په هغهٔ کې شتون لري،

شرایط آن.

۳- توضیح توقع د افغانستان بانک از بانک ها در زمینه نحوه اجرای فعالیت ها به منظور رعایت احکام این قانون و سایر قوانین.

۴- تعیین و توضیح شیوه ها و فعالیت های که از نظر دافغانستان بانک، سلامت یا ثبات مالی بانک ها یا کل سیستم مالی را متضرر می سازد.

(۵) مقرره ها، طرزالعمل ها، رهنمودها و متحدالمال های که مطابق احکام مندرج این ماده از طرف دافغانستان بانک پیشنهاد و وضع می گردد، بر شرکت های بانکی متبوع، اعضای هیئت نظار یاهیئت عامل بانک ها وشرکت های بانکی متبوع، اشخاص دارای سهم استحقاقی ذیصلاحیت در بانک ها و شرکت های بانکی متبوع و شرکت های مربوط به عین گروپ که بانک یا شرکت های بانکی متبوع در آن قرار دارند، نیز قابل تطبیق

باندې هم د تطبيق وړ دي.

(٦) د دافغانستان بانک مکلف دی، پدې ماده کې درج شوې کړنلارې، لارښودونه او متحدالمالونه ثبت او وساتي.

انفاذ

يوسلو اته اويايمه ماده:

دغه قانون دتوشيخ له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې، خپور شي او د هغهٔ په نافذېدو سره، د ۳۰/ ۱۱/ ۱۳۸۲نېټې په (۸۱۹) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د بانکداری قانون او دهغهٔ نور مغاير حکمونه ملغي ګڼل کېږي.

می باشد.

(٦) دافغانستان بانک مکلف است، طرزالعمل ها، رهنمود ها و متحدالمال های مندرج این ماده را ثبت و حفظ نماید.

انفاذ

مادهٔ یکصد وهفتاد وهشتم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و درجریدهٔ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن، قانون بانکداری منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸۱۹) مؤرخ ۱۳۸۲/۱۱/۳۰ و سایر احکام مغایر آن ملغی شمرده می شود.

اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

OFFICIAL GAZETTE

Extraordinary Issue

Law on Banking of Afghanistan

Date:11th November .2015
ISSUE NO :(1197)